生活ハンドブック

په جاپان کې د ژوند لپاره لارښود کتاب

補完的保護対象者として認定された方の日本でのくらし のために

تر بشپړونکي خوندیتوب لاندې خلکو لپاره

<日本語(にほんご)/パシュトー語>

جاپاني / پښتو

（公財）アジア福祉教育財団

難民事業本部

له کډوالو سره د مرستې مرکز (RHQ)

د آسیایي خلکو د هوسایني او زده کړو لپاره بنسټ(FWEAP)

110

د يوې پېښې يا ټکر په اړه په بېرنۍ ټوګه د راپور ورکولو لپاره، د ۱۱۰ شمېره په (وړيا) ډول دايله کړئ

د نا بېرينو سلا مشورو لپاره ۹۱۱۰ (وړيا نه ده) شمېره دايله کړئ.

د فاکس له لارې د بېرنيو پيغامونو لپاره په مهربانۍ سره شمېره د خپل ښار د پوليسو له ځانګې يا عمومي دفتر څخه وغواړئ.

119

د اور وژنې ،خدمت مرستې او امبولانس لپاره له ۱۱۹ (وړيا) شمېرې سره اړيکه ونيسئ

همدارازتاسو کولای شئ دې شمېرې ته فاکس پيغام واستوئ

کله چې له ۱۱۰ يا ۱۱۹ سره اريکه نيسئ به مهربانۍ سره په آرام او روښانه ډول لاندې موارد ووايی

۱. دا يو بېرنۍ حالت دی

۲-موضوع څه شی ده

۳-تاسو چېرته ياست (پته يا ځای)

٤. ستاسو نوم

ه. هغه شمېره چې تاسو يې له لارې اړيکه نيولې ده

که چېرې تاسو له يوه امبولانس سره اړيکه نيسئ په مهربانۍ سره خپله د روغتيايي بيمې تصديق پانه له خان سره چمتو و ساتئ

سریزه

له کډوالو سره د مرستې مرکز(RHQ) د دولت لخوا د کمیسیون تر چتر لاندې په ۱۹۷۹ کال کې یې د بنسټ ډېره کېښودل شوه او په جاپان کې یې د هندې-چینایي کډوالو د مېشتېدنې ځخه د ملاتړ په موخه د پروژو پلي کول په غاړه اخیستې دي. د هند او چین د کډوالو منل د ۲۰۰۵ په پای کې ودرېدل. په دې موده کې ۱۱,۳۱۹ کسانو په جاپان کې د مېشت کېدو اجازه ترلاسه کړه.

د ۲۰۰۲ د اګسټ په میاشت کې، د جاپان دولت پریکړه وکړه چې د هغو کسانو له مېشت کېدو سره مرسته وکړي، چې د عدلیې وزارت لخوا د ۱۹۵۱ کال د پناه غوښتونکو د حالت (د کډوالو کنوانسیون) پر بنسټ د پناه غوښتونکو په توګه پېژندل شوي دي. د ۲۰۰۳ کال په مني کې، همدراز RHQ د کنوانسیون تر چتر لاندې کډوالو او د هغوی د کورنۍ له غړو ځخه د جاپانۍ ژبې په زده کولو او د مېشتېدنې په آسانتیاوو کې د مرکز تر مشرۍ لاندې د دندې د موندلو په برخه کې د ملاتړ وړاندې کول پیل کړل. اوس RHQ دا خدمتونه د RHQ د ملاتړ په مرکز کې وړاندې کوي.

د ۲۰۰۸ کال په اکتوبر کې، د کابینې له تصویب سره د جاپان دولت پریکړه وکړه چې د مېشتېدنې فرصتونه وړاندې کړي. په کلنۍ توګه د ۳۰ برمایې کډوالو منل (د کورنۍ د واحد پر بنسټ منل شوي) چې په تایلنډ کې د کډوالو په پنډغالو کې ځای پر ځای شوي وو، په ۲۰۱۰ کال کې یې د پنځه کلنۍ آزمایښتي طرحې په توګه پیل کړه. له ۲۰۱۵ کال راپدیخوا، جاپان په مالزیا کې د مېشتو برمایې کډوالو منل پیل کړل او د ۲۰۱۹ کال په جون کې یې د کابینې په تصویب سره، د هغو کډوالو اندازه چې د منل کېدو امکان یې و د هغو کډوالو لپاره چې په لنډمهاله ډول په آسیا کې مېشت شوي و، بدلون وموند او د منل کېدو دا شمېرې هم زیاتې شوې. د ۲۰۲۳ په دسمبر میاشت کې، د جاپان دولت تر بشپړونکي ملاتړ لاندې خلکو لپاره د ملاتړ وړاندې کول پیل کړل. RHQ دې کډوالو ته د جاپاني ژبې زده کړې او د RHQ د ملاتړ په مرکز کې د دندې خدمتونه وړاندې کوي.

مورږ د زړه له کومې هیله لرو چې په جاپان کې مېشت کډوال د جاپان له ټولنې سره سمون وموميِ او په بېلابېلو برخو کې فعال شي. په ورته وخت کې، تر هغه وخت پورې چې د دوی ژوند یوه ثبات ته ونه رسېږي، دا احتمال شته دی چې د ډول خلکو لپاره د جاپاني رواجونو او مهم محفلونو درک کولو ورته ستونزمن وي او ار شي چې له بېلابېلو ستونزو سره لاس او ګریوان شي.

له دې املې، مورږ په دې لارښود کتاب کې په جاپان کې د ژوند لپاره لومړني اړین معلومات راغونډ کړي دي. مهرباني وکړئ له هغوی ځخه د جاپان د بېلابېلو سیستمونو او قوانینو باندې د پوهېدو، د کره معلوماتو د ترلاسه کولو او په دې هېواد کې له خپل ژوند ځخه د خوند اخیستلو لپاره کار واخلئ. همدارازِ، لا زیاتې پوښتنې په آزادانه ډول د RHQ د سلا مشورې برخې یا د کډوالو له سلاکارانو ځخه وپوښتئ. مورږ هیله لرو چې تاسو به ډېر ژر خپلواکې او باثباته ژوند ته ورسېږئ.

که چېرې تاسو د دې کتاب په اړه کوم نظریات لرئ، په مهربانۍ سره په آزادانه ډول یې RHQ ته وړاندې کړئ.

۲۰۲۶دمارچ میاشت

له کډوالو سره د مرستې مرکز

د هغو کسانو لپاره چې ټاکل شوي په جاپان کې تر بشپړونکي خوندیتوب لاندې استوګن شي:

۱. د استوګنې د حالت د بیا نوي کولو تکلاري

ټول هغه کسان چې په جاپان کې تر بشپړونکي ملاتړ لاندې ژوند کوي د مهاجرت کنټرول او کډوالو پېژندنې قانون (چې له دې وروسته د "مهاجرت قانون" په نوم یادیږي). دوی ته اجازه ورکول کیږي چې په جاپان کې د "اوږدمهاله اوسیدونکي" په نوم د استوګنې حیثیت سره ژوند وکړي. د مېشت شویو کسانو لپاره د استوګنې تر ټولو عامي دوري یو، دري یا پنځه کلونه دي چې له دې امله اړینه ده چې دا دوره بیا ځلي نوی شي. د بیا ځلي نوي کولو د تکلارو په اړه د معلوماتو لپاره، په مهربانۍ سره ۱-۱-۱ ځېرکي ته مراجعه وکړئ.

۲. د استوګنې کارت

د هغو کسانو لپاره چې د بشپړونکي ملاتړ لپاره په شرایطو د برابرېدو له تاییدې وروسته د اوسېدو نوی حالت ترلاسه کوي، د استوګنې کارت ورکول کیږي. د استوګنې د کارتونو د ورکولو په اړه د جزئیاتو لپاره، په مهربانۍ سره ۱-۱-۲ ځېرکي ته مراجعه وکړئ.

۳. د عامي روغتیا بیمه

په جاپان کې هغه کسان چې د استوګنې حالت یې له دري میاشتو څخه زیات وي، مکلف دي چې د عامي روغتیا د بیمې له طرحې سره یو ځای شي. هغه کسان چې په خپل کار ځای کې بیې په روغتیایي بیمه کې ګډون نه دی کړی، اړ دي چې د خپلې سیمې ښاروالۍ په دولتي اداره کې د روغتیایي بیمې په ملي طرحه کې ګډون وکړي. د جزئیاتو لپاره، په مهربانۍ سره ۵-۵-۳ ځېرکي ته مراجعه وکړئ.

٤. سیمه ییز معلومات

د دې لپاره چې له دې وروسته په جاپان کې له خپل ژوند څخه خوند واخلئ، اړینه ده چې تاسو د سیمه ییزې ټولنې لخوا ومنل شئ. د جلا کولو لارې او د کثافاتو غورځول، په سیمه ییزو ټولنو کې د غړیتوب اړیني اړتیاوې او د اوسېدونکو لپاره خدمتونه د یوې ناحیې د بلې په پرتله توپیر لري، له دې امله سپارښتنه کیږي، چې د سیمه ییزې ښاروالۍ دفتر ته د مراجعې پر مهال دوی تایید کړئ.

همداراز دا ستاسو لپاره مهم دي چې خپل ځان هغو ګاونډیانو ته ور وپېژنئ چې تاسو ته ځیرمه یا لاندې او ښکته پور کې ژوند کوي. دا کار به له تاسو سره مرسته وکړي، چې د ګاونډیتوب په اصولو هم پوه شئ.

د ګاونډ ټولنو غړي یا ورته ګروپونه به د هر ډول ستونزې د رامنځته کېدو په صورت کې له تاسو سره مرسته وکړي.

د مطالبو لړليک

۱ څپرکی قانوني تګلاري

۱-۱ د استوګني حالت "اوږد مهاله استوګنځای" ۱

۱-۲ د استوګني کارت ٤

۱-۳ جاپان ته د کورنۍ د غړو بلل ۷

۱-٤ د واده تګلاري ۸

۱-٥ د ماشوم د زیږېدو پر مهال تګلاري ۱۰

۱-٦ د کورنۍ د یوه غړي د مړ کېدو په صورت کې پروسیجرونه ۱۲

۱-۷ د طلاق تګلاري ۱٤

۱-۸ د دایمي استوګني لپاره د اجازې ترلاسه کول ۱٦

۱-۹ تابعیت ۱۸

۱-۱۰ د مهر ثبت کول (قانوني مهر) ۲۰

۱-۱۱ له هېواد څخه بهر سفر کول ۲۱

۱-۱۲ بل هېواد ته تلل ۲۳

۲ څپرکی په جاپان کې ژوند کول

۲-۱ هغه اصول چې په سیمه ییز ټولنه کې باید په پام کې ونیول شي ۲٤

۲-۲ د پولیسو بکسونه ۲٦

۲-۳ که چېرې په ژوند کې ستونزې لرئ ۲٦

۲-٤ د ټولنیزې هوساینې شوراګانې ۲۷

۲-٥ هغه ماشومان چې خوندیتوب ته اړتیا لري ۲۸

۲-٦ د لیدنو لپاره د یو ځای په پور اخیستل ۲۸

۲-۷ د عامه سلا مشورو دفترونه (قانوني سپارښتنه، نور.) ۲۹

۲-۸ د موټر چلولو د جواز بدلون او ترلاسه کول ۳۰

۲-۹ په ټلیفون کې ګډون کول ۳۳

۳ څپرکی کار

۳-۱ د کار په لټه کې ۳٤

۳-۲ د حرفوي روزنې ترلاسه کول ۳٥

٣-٣ د اسنادو ترلاسه کول ٣٦
٣-٤ د دندې بیمه ٣٧
٣-٥ د کار اړوند پیښو له امله د رامنځته شویو زیانونو د جبران بیمه ٣٩
٣-٦ د کار پرېښودل او بل شرکت ته تلل ٤٠

٤ څېرکی استوګنځای

٤-١ عمومي استوګنځای او ښاري رنسانس یا نوي کولو د اداري (UR) استوګنځای ٤١
٤-٢ شخصي اجاره یي استوګنځای او نور. ٤٣
٤-٣ د یوه کور پیرل ٤٤

٥ څېرکی طبي درملنه

٥-١ کله چې تاسو ناروغ یا ټپي وئ ٤٥
٥-٢ په رخصتیو او د شپې پر مهال بیرنی طبي آسانتیاوې ٤٦
٥-٣ د عامي روغتیا بیمه ٤٧
٥-٤ د دولتي نرسنګ د پاملرنې بیمه ٤٩
٥-٥ طبي معاینات او واکسینونه ٥١
٥-٦ که چېرې تاسو طبي لګښتونه نشئ ادا کولای ٥٢
٥-٧ که چېرې ذهني اضطراب لرئ ٥٣
٥-٨ په کور کې د معلولیت لرونکو ماشومانو لپاره د مرستې او روزنې آسانتیاوې ٥٤
٥-٩ مینډواري او د ماشوم زیږول ٥٥

٦ څېرکی زده کړې

٦-١ په جاپان کې د زده کړو سیستم ٥٩
٦-٢ د ابتدایه، متوسطې یا عالي لېسې د نومليکنې مرحلې یا بدلول ٦١
٦-٣ په نرسري ښوونځي یا وړکتون کې نومليکنه ٦٢
٦-٤ عالي لېسې ته تلل ٦٥
٦-٥ پوهنتون او نورو ته تلل. ٦٧
٦-٦ عالي تخنیکي کالیجونه او حرفوي ښوونځي ٧٠
٦-٧ که چېرې د ښوونځي د لګښتونو په ادا کولو کې له ستونزې سره مخ وئ ٧٢
٦-٨ کله چې غواړئ له هېواد بهر زده کړې وکړئ ٧٤

٦-٩ د جاپاني ژبې زده کړې ٧٦

٧ څپرکی ټکرونه، اورلګېدنه، امبولانسونه

١-٧ پېښې او غلاوې ٧٨
٢-٧ ترافیکي پېښې ٧٩
٣-٧ اور لګېدنه ٨٠
٤-٧ د زده کوونکي ناروغي یا ټپي کېدل ٨٠
٥-٧ د ګاز لیک یا سوري کېدل ٨١

٨ څپرکی طبیعي ناورینونه

١-٨ زلزلې ٨٢
٢-٨ طوفانونه او سیلابونه ٨٥
٣-٨ د اورلګېدنې او زلزلې بیمه ٨٧
٤-٨ د ناورین د قرباني تصدیق پاڼه ٨٨

٩ څپرکی مالیات، تقاعد، بیمه

١-٩ د مالیې ډولونه ٨٩
٢-٩ د مالیې ادا کول ٩٠
٣-٩ وروستۍ مالیاتي بیانیه ٩٣
٤-٩ که چېرې تاسو مالیه نشئ ادا کولای ٩٣
٥-٩ په جاپان کې د دولتي تقاعد سیستم ٩٤
٦-٩ د دولتي تقاعد ډولونه او په شرایطو د برابرېدو حالتونه ٩٧
٧-٩ که چېرې تاسو د تقاعد فیس نشئ ادا کولای ١٠١
٨-٩ د خصوصي بیمې د طرحې ډولونه ١٠٢

۱ څپرکی قانوني تګلارې

۱-۱ د استوګنې حالت "اوږد مهاله مېشت کېدل"

که چېرې تاسو د استوګنې "اوږد مهال مېشت کېدلو" حالت ترلاسه کړي وي، کوم شیان باید په یاد ولرئ؟

د "اوږد مهاله مېشت کېدو" حالت څه شی دی؟

"د اوږدمهاله مېشت کېدو" حالت هغو کسانو ته ورکول کېږي چې د ځانګړو حالاتو په پام کې نیولو سره د عدلیې وزیر لخوا د ټاکلې مودې لپاره په جاپان کې د استوګنې اجازه ورکړل شوې وي. لکه څرنګه چې په جاپان کې د اوږدمهاله استوګنو لپاره د فعالیتونو په منځپانګه کې کوم محدودیت نشته، نو اوږدمهاله استوګن ته ارتیا نشته چې د کار لپاره "هغه فعالیت ترسره کولو اجازه ترلاسه کړي چې د پخوا ورکړل شوي د استوګنې حالت لخوا اجازه نه وه ورکړل شوی". همدارنګه، اوږدمهاله استوګن ته په طلاق یا دندې پربښودو په حالت کې د استوګنې حالت بدلولو ارتیا نشته.

۱. د استوګنې حالت او د پاتې کېدو موده تایید کړئ.

د استوګنې حالت او د پاتې کېدو موده تایید کړئ. که تاسو په جاپان کې د بشپړونکې خوندیتوب تر چتر لاندې کسانو په توګه پیژندل شوي وئ، نو لومړی باید سمدستي د سیمهییزو مهاجرت خدمتونو دفتر مسؤل چارواکي سره تایید کړئ چې ایا تاسو ته په قانوني ډول په جاپان کې د پاتې کېدو لپاره نور تګلارو ترسره کول اړین دي. کله چې تاسو د استوګنې حالت ترلاسه کړئ یا یې بدل کړئ، د استوګنې حالت ډول او د پاتې کېدو موده تایید کړئ، او وپوښتئ چې راتلونکی نوي کول به کله ترسره شي.

لکه څرنګه چې ستاسو د استوګنې حالت او وخت ستاسو د استوګنې په کارت کې بدول شوی دی، تاسو کولای شئ هغه پخپله تایید کړئ. که چېرې تاسو نشئ کولای هغوی پخپله تایید کړئ، تاسو کولای شئ د کډوالی د سیمه ییزو خدمتونو په یوه اداره کې د کډوالی له معلوماتو له مرکز څخه د زیاتو جزئیاتو غوښتنه وکړئ.

۲. د استوګنې د دورې د بیا نوي کولو تګلارې مهمې دي

د اوږد مهال لپاره استوګن باید په هر یو، درې یا پنځو کلونو کې یو ځل خپل د استوګنې موده بیا نوي کړي. په مهربانۍ سره دې مورد ته پام وکړئ، ځکه د بیا نوي کېدو د غوښتنې نه کولو په صورت کې، په جاپان کې ستاسو اوسېدل د استوګنې د نېټې په سبا باندې غیر قانوني ګڼل کیږي او تاسو به د ایستل کېدو لپاره په شرایطو برابر شئ.

د استوګنې د مودې غځول د کډوالۍ د سیمه ییزو خدمتونو به اداره کې د هغې سیمې د صلاحیت پر بنسټ ترسره کیږي چې تاسو پکې ژوند کوئ. په ټوله کې د استوګنې د مودې د غځولو غوښتنه د پاڼې رسېدو له نېټې دري میاشتې وړاندې منل کیږي، له دې امله هر ځومره ژر چې امکان لري چمتووالی ونیسئ. د هغو کسانو لپاره چې تر بشپړونکي ملاتړ لاندې دي، د اوږد مهاله استوګن د استوګنې د مودې د غځولو لپاره اړین اسناد په لاندې ډول دي. (په همدې حال کې، فردي قضیو ته په پام سره، کیدای شي له تاسو ځخه وغوښتل شي چې اضافي مواد وسپارئ.)

(۱) د استوګنې د مودې د غځولو لپاره د غوښتنلیک فورمه

(۲) یو انځور (هغه کسان چې له ۱٦ کلونو ځخه کم عمر لري، اړ نه دي چې انځور وسپاري)

(۳) د استوګنې کارت

(٤) پاسپورټ یا د استوګنې د حالت تصدیق پاڼه (*یا که چېرې نشئ کولای له پورته مواردو ځخه هیڅ یو وړاندې کړئ، په لیکلي بڼه د دې اسنادو د وړاندې کولو د امکان نه لرلو وضاحت وړاندې کړئ)

(٥) په جاپان کې ستاسو د فعالیتونو سره سم اسناد

- د استوګنې تصدیق پاڼه (چې د کورنۍ د ټولو غړو په اړه معلومات بنیي)
- د مالیاتو تصدیق پاڼه (یا له مالیاتو پرته) او د استوګنې د ځای لپاره د مالیاتو اداینه
- د ندې تصدیق پاڼه (*که چېرې د غوښتنلیک استولو پر مهال دنده ولري)

زه په جاپان کي د استوګنې "لنډ مهاله استوګنې" حالت کي د بشپړونکي ملاتړ لاندې شخص په توګه پیژندل شوی یم. آیا باید کوم کار ترسره کړم؟

د استوګنې (لنډمهاله استوګنې) حالت هغو کسانو ته ورکول کیږي چې جاپان ته سیاحت، لنډ مهاله سوداګرۍ، له کورنۍ سره د لیدنې او نورو مواردو لپاره راځي.

دا حالت "لنډ مهاله استوګنه" باید په هرو ۹۰ ورځو وغځول شي او اړوند شخص فعالیتونه محدود دی. له دې امله، د دې حالت لرونکي نشي کولای کار وکړي، مګر دا چې د فعالیت د ترسره کولو لپاره بل داسې ځنې ترلاسه کړي چې له وړاندې د استوګنې په حالت کې ورکړل شوي وي. همدارازه، د بشپړونکي ملاتړ لاندې کسان نشي کولای بېلابېل اداري خدمتونه ترلاسه کړي، چې د دې حالت تر چټر لاندې راځي.

په همدې ډول، که چېرې په جاپان کې د میشتېدنې پر مهال، خلک بشپړونکی ملاتړ د لنډ مهاله استوګنې له حالت سره ترلاسه کوي، سپارښتنه کیږي چې د خپل حالت د بدلون لپاره د کډوالۍ د سیمه ییزې اداري ځنې د سیمه ییز صلاحیت پر بنسټ د اوړ مهاله استوګنې غوښتنه وکړي، چې تاسو یې یوه ژوند کوئ. د استوګنې د حالت د بدلون غوښتنه کولای شو هر وخت د اوسنۍ استوګنې په لړ کې واستوو.

د هغه شخص لپاره چې تر بشپړونکي ملاتړ لاندې دي، د استوګنې د حالت د بدلون لپاره لاندې اسنادو ته اړتیا ده. (په همدې حال کې، فردي قضیو ته په پام سره، امکان لري له تاسو ځنې وغوښتل شي چې اضافي اسناد وړاندې کړئ.)

(۱) د استوګنې د حالت د بدلون لپاره د غوښتنلیک فورمه

(۲) د استوګنې کارت (* که چېرې لنډ مهاله یا اوږد مهاله استوګن یاستئ)

(۳) پاسپورټ

(٤) فیس10000-75000 ین (آنلاین غوښتنلیک10000-65000 ین)
(https://www.moj.go.jp/isa/01_00644.html)

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې اندازه به د ۲۰۲۶ مالي کال په جریان کې بدلون ومومي، نو مهرباني وکړئ د غوښتنلیک ورکولو پرمهال ډاډ ترلاسه کړئ.

۱-۲ د استوګنې کارت

یوه لنډ مهاله او اوږد مهاله استوګن ته یوازې هغه وخت د استوګنې کارت ورکول کیږي کله چې د استوګنې اړوند اجازې ورکړل شي. اړینه ده چې د تل لپاره د استوګنې کارت له ځان سره ولرئ. هغه کسان چې له ۱٦ کلونو څخه کم عمر لري، اړ نه دي چې د دایمي استوګنې کارت له ځان سره ولري، ځکه دوی له دې مسوولیت څخه معاف دي.

۱. لومړی غوښتنلیک

(۱) د هغو کسانو لپاره چې هوایی ډګر کی د کښتکیدولو د اجازې له لارې نوي منځني او اوږدمهاله اوسیدونکي کیږي، په ناریتا هوایی ډګر، هانیدا هوایی ډګر، چوبو هوایی ډګر، کانسای هوایی ډګر، شین چی توسی هوایی ډګر، هیروشیما هوایی ډګر، او فوکوکا هوایی ډګر کې، د کښتکیدولو د اجازې ټاپه به د دوی په پاسپورټ کې ولګول شي، او د استوګنې کارت به ورکړل شي د استوګن ځای له موندلو وروسته د ۱٤ ورځو په لړ کې، دوی باید خپل د استوګنې کارت خپلې سیمه ییزې ښاروالی ته یوسي او خپله پته ثبت کړي.

هغه کسان چې د نورو بندرونو/هوای ډګرونو څخه د ننوتلو اجازه ترلاسه کولو وروسته منځني یا اوږدمهاله اوسیدونکي کیږي، به د خپل محلي ښاروالی دفتر کې خپل پته ثبتولو وروسته د استوګنې کارتونه ترلاسه کړي (په اصل کې، د استوګنې کارتونه به د سیمه ایز مهاجرت خدمتونو دفتر څخه ثبت شوي پتې ته لیږل کیږي).

(۲) په جاپان کې زیږیدلو ماشومانو لپاره باید د زیږیدو له ۳۰ ورځو دننه باید د کډوالی د خدمتونو په سیمه ییز دفتر کې د استوګنې حالت غوښتنه وشي.

* د استوګنې کارت د اعتبار موده لري. د هغو کسانو لپاره چې ۱۶ کاله یا له هغې زیات عمر لري، د دایمي استوګنو لپاره د استوګنې د کارت د اعتبار موده د ورکولو له نیټې وروسته ۷ کاله ده. د هغو دایمي استوګنو لپاره چې له ۱۶ کلونو څخه کم عمر لري، د دوی د زیږېدو ۱۶ مه کالیزه د دوی د استوګنې د کارت د اعتبار وروستی نیټه ده. د غیر دایمي اوسیدونکو لپاره چې عمر یې ۱۶ کاله یا ډیر وي، د استوګنې کارت نیټه د دوی د پاتې کیدو مودې پای نیټه ده؛ او د هغو کسانو لپاره چې له ۱٦ کالو څخه کم عمر لري، د استوګنې کارت پای نیټه د پاتې کیدو مودې پای نیټه یا د دوی د ۱٦مې کلیزې نیټه، هر یو چې لومړی راشي، ده.

* د استوګنې هغه کارتونه چې د ۲۰۲۳ کال د نومبر له ۱ نیټې وروسته له ۱۶ کلونو څخه کم عمر لرونکو کسانو ته ورکول کیږي، د استوګنې کارت د پای نیټې یا د شخص د ۱۶ مې کلیزې د ورځې مخکې پورې به اعتبار ولري، هر یو چې لومړی راشي.

۲. غځول/بدلون/بیا صادرول

(۱) غځول

هغه دایمي اوسیدونکي چې عمر یې ۱٦ کاله یا ډیر وي، کولی شي د پای نیټې څخه دوه میاشتي مخکې تر پای نیټې پورې، او هغه اوسیدونکي چې د استوګنې کارت یې د ۱٦مې کلیزې په ورځ پای ته رسیږي، کولی شي د ۱٦مې کلیزې څخه شپږ میاشتي مخکې تر ۱٦مې کلیزې پورې، د کډوالو د خدمتونو په سیمه ییز صلاحیت لرونکي دفتر کې د استوګنې کارت د اعتبار مودې د نوي کولو غوښتنه وکړي. د استوګنې کارت د اعتبار مودې د نوي کولو لپاره اړین اسناد په لاندې ډول دي (یادونه: غوښتونکي کیدای شي د خپلو ځانګړو شرایطو په پام کې نیولو سره د اضافي اسنادو وړاندې کولو ته اړتیا ولري).

(۱) د استوګنې کارت د اعتبار مودې د نوي کولو د غوښتنلیک فورمه

(۲) یو انځور

(۳) پاسپورټ یا د استوګنې حالت سند (* که تاسو د دې هیڅ یو وړاندې کولو توان نلرئ، نو د دې د نه وړاندې کولو وضاحت په یوه لیکلي بڼه).

(۴) د استوګنې کارت

(۲) په ثبت شویو جزئیاتو کې بدلونونه

کله چې تاسو خپله پته بدلوئ، نو باید د نوي پتې بناروالی دفتر کې د کډوالی د خدمتونو اداري کمیشنر ته د استوګنې کارت سره د نوي پتې د بدلون په اړه خبر ورکړئ، دا کار باید د نوي پتې ته د کډه کیدو له نیټې څخه په ۱٤ ورځو کې دننه ترسره شي.

* کله چې تاسو خپله پته بدلوئ، له یاده مه باسئ چې خپل لیږد په هغه بناروالی کې ثبت کړئ چې تاسو تري وځئ او د وتلو تصدیق پاڼه ترلاسه کړئ او وروسته له نوملیکني وړاندې یې د هغې سیمې د بناروالی اداري ته واستوئ چې تاسو هلته ورځئ.

تغییر دادن.که چېرې تاسو خپل کورنی نوم د واده له امله بدل کړی وي یا نوم، د زیږېدو نېټه، جنسیت یا ملیت/خپله سیمه مو بدله کړې وي، له بدلون وروسته حتماً د ۱٤ ورځو په لړ کې د دې بدلون په اړه د کډوالی د خدمتونو سیمه ییز دفتر کمیشنر ته خبر ورکړئ.

(۳) د استوګني د کارت بیا ځلي صادرول

که چېرې د هر دلیل پر بنسټ تاسو ته د استوګني کارت نه وي درکړل شوی، چا پټ کړی وي، له منځه تللی وي یا ورک شوی وي، تاسو له هغې ورځې وروسته چې دې موضوع ته مو پام شوی دی د ۱٤ ورځو په لړ کې (یا که چېرې تاسو په دې وخت کې بهر او جاپان ته د بیرته راتللو ورځ مو وي) باید د ځایناستي کارت لپاره د کډوالۍ د خدمتونو سیمه ییزې اداري ته خبرې ورکړئ.

۳. د استوګني د کارت د صادرولو لپاره غوښتنه ترسره کول

(۱) هغه کسان چې د لومړي ځل لپاره جاپان ته ځي، د استوګني د کارت لپاره په هوایي ډګر/بندر کې غوښتنه ترسره کوي. د بنکته کېدو پر مهال د استوګني د صادر شوي کارت لپاره کارول شوی انځور، هغه انځور دی چې د استوګني د حالت د غوښتنې په تصدیق پاڼه کې د بنکته کېدو په اجازه یا ویزه کې وړاندې شوی دی، د بنکته کېدو د غوښتنې پر مهال تاسو اړتیا نه لرئ چې بیا انځور ورکړئ.

(۲) د استوګني د بېلابېلو غوښتنلیکونو یا خبرتیاوو لکه د استوګني د غځولو د اجازې یا د استوګني د کارت غوښتنې کې باید هغه انځور چې په وروستیو درې میاشتو کې اخیستل شوی دی د ضمیمې په توګه د غوښتنې له فورم او نورو سره واستوئ.

یادښت: د استوګني هغه کارتونه چې د اعتبار موده یې په ۱٦ کلنۍ کې یا له هغې وړاندې پایته رسیږي، انځور نه لري.

۱-۳ جاپان ته د کورنۍ د غړو بلل

په جاپان کې له خپلې کورنۍ سره د ګډ ژوند په موخه، هغه کسان چې تر بشپړونکي ملاتړ (د اوږدمهاله مېشت شویو کسانو، دایمي استوګنو او هغه جاپانیانو چې تابعیت یې ترلاسه کړي وي) هم کولای شي د نورو بهرنیانو په ځیر د کډوالۍ د ورته تګلارو په پام کې نیولو سره جاپان ته د ورتګ بلنه ورکړي. د کورنۍ هغه غړي چې کولای شئ بلنه ورکړئ، په لاندې ډول دي. که چېرې د دې بلل شویو غړو ملیت یا د استوګنې ځای د دوی له اصلي هېواد سره توپیر ولري، په دې کې هیڅ ستونزه نشته ده.

(۱) د ژوند شریک

(۲) هغه طبعي ماشوم چې عمر یې کم وي یا مجرد وي

(۳) هغه په اولاد نیولی ماشوم چې له ٦ کلنو ځخه کم عمر ولري

د یو کس د احضارولو پروسه د سیمه ایز مهاجرت دفتر لخوا ترسره کیږي (د نارینا هوایی ډګر ځانګې او د کانسای هوایی ډګر ځانګې پرته) چې د احضار کونکي د استوګنې ځای په اړه واک لري. ځینې ځانګې دفترونه دا خدمت نه اداره کوي، نو مهرباني وکړئ د تلیفون له لارې پوښتنه وکړئ. استازی کولای سی چې هغه کس د استازي په توګه د استوګنې لپاره د ورتیا سند لپاره غوښتنه وکړی چې غوښتل کیږي. (یو شمېر ځانګې دا ډول غوښتنلیکونه نه ترسره کوي، له دې امله په مهربانۍ سره له وراندې یې د تلیفون له لارې تایید کړئ.) کله چې د استوګنې د حالت لپاره په شرایطو د برابرېدو تصدیق پاڼه ورکول کیږي، استازی باید د کورنۍ بلل شوي غړي ته دا تصدیق پاڼه واستوي، چې وروسته دوی باید دا تصدیق پاڼه د جاپان نړدي سفارت یا دیپلماتیکي نمایندګی ته یوسي او د اوږد مهاله ویزې غوښتنه وکړي. کله چې ویزه ورکړل شي، د کورنۍ غړی کولای شي جاپان ته دننه شي.

د استوګنې د حالت لپاره په شرایطو د برابرېدو تصدیق پاڼه د صادرېدو له نېټې وورسته د دري میاشتو لپاره اعتبار لري. که چېرې د تصدیق پاڼې ځښتن به دې موده کې جاپان ته ولاړ نشي، نو هغه به بې اعتبار شي. له دې امله، کله چې د کډوالۍ د سیمه ییزې اداري لخوا تصدیق پاڼه صادره شي، استازی باید په سمدستي ډول هغه د کورنۍ بلل شوي غړي ته واستوي او بلل شوی غړی باید د جاپان سفارت یا نړدی دیپلماتیکي نمایندګی ته مراجعه وکړي او ژر تر ژره د ویزې غوښتنه وکړي. له همدې امله سپارښتنه کیږي چې بلل شوی غړی باید وراندې له دې چې د دې موضوع اړوند مرحلې په جاپان کې پیل کړي، جاپان ته د ننوتلو لپاره پاسپورټ ترلاسه کړي. مهرباني وکړئ د سیمه ایز مهاجرت دفتر (د نارینا هوایی ډګر ځانګې او کانسای هوایی ډګر ځانګې پرته) کې پوښتنه وکړئ چیرې چې تاسو به د ورتیا سند لپاره د غوښتنلیک لپاره اړین اسنادو لپاره غوښتنه کوئ.

۱-٤ د واده تګلاري

په جاپان کې واده

۱. د واده لپاره شرایط

(۱) په هغه صورت کې چې خلک تر بشپړونکي خوندیتوب لاندې وي په جاپان کې تر بشپړونکي ملاتړ لاندې خلکو د واده شرایط د هغوی د اصلي هېوادونو (د خپلو هېوادونو) د نافذه قوانینو پر بنسټ دي.

۲. د واده تګلاري

هغه ښځه یا نارینه چې غواړي واده وکړي، باید د خپل واده سند د سیمه ییزې ښاروالۍ دفتر ته وړاندې کړي. په دې وخت کې ارتیا ده چې لاندې اسناد ضمیمه کړئ. د واده راجستر کول د ښاروالۍ په هغه دولتي اداره کې منل کیږي چې هغوی ته اسناد سپارل شوي دي. په همدې حال کې، د واده لپاره په شرایطو د برابرېدو د تصدیق پانې په ځیر د ارینو اسنادو د نه وړاندې کولو په صورت کې، د حقوقي چارو دفتر یا د حقوقي چارو سیمه ییز دفتر چې د استوګنې په ځای کې صلاحیت لري، نوملیکنه ارزوي او د هغوی د منلو یا نه منلو په اړه پریکړه کوي. د واده د ثبت فورمې د ښاروالۍ په دولتي اداره کې شته دي. فورمې باید (که چېرې بهرنیان وي) د متاهل نارینه او ښځې او لږ تر لږه باید د دوو بالغو شاهدانو لخوا لاسلیک او مهر شي.

اړين اسناد:

(الف) تر بشپړونکي ملاتړ لاندې شخص به توګه د حالت تصديق پاڼه

(ب) د واده لپاره د ورځ والي سوګند ليک

* که چېرې شخص له داسې هېواد څخه وي چې دا ډول سوګند ليک نه صادروي يا د دې ډول سوګند ليک په ترلاسه کولو کې ستونزه لري، بايد په ليکلي بڼه بيانيه وړاندې کړي چې په هغې کې د دې ډول سوګند ليک د نه وړاندې کولو دلايل او د حالت ليکلي اسناد (پاسپورټ، د ملت تصديق پاڼې، د کورنۍ د نوملیکنې د پاڼې يوه کاپي، د زېږېدو تصديق پاڼې او نورو په ځير د هويت پېژندلو اسناد) وړاندې کړي.

که چېرې ضميمه شوي اسناد په بهرنۍ ژبه باندې ليکل شوي وي، په جاپاني ژبه د دوی ژباړه بايد وسپارل شي په داسې حال کې چې د ژباړن نوم هم بايد په روښانه ډول ليکل شوی وي.

* پورته موارد په عمومي قضيو کې پلي کېږي. وړاندې له دې چې په حقيقي ډول د واده نوملیکنه وسپارئ په مهربانۍ سره په سيمه ييز ښاروالۍ کې اړونده دولتي دفتر ته مراجعه وکړئ لاندې موارد تشريح کړئ، اړيني تګلاري تاييد کړئ او وروسته اسناد چمتو کړئ.

(الف) ستاسو د اصلي هېواد نوم

(ب) دا چې آيا تاسو تر بشپړونکي ملاتړ لاندې شخص په توګه د حالت تصديق پاڼه لرئ او که نه

(ج) دا چې آيا تاسو د سفر سند يا پاسپورټ لرئ يا په ټوله کې هيڅ شی نه لرئ

(د) ستاسو د استوګنې حالت

۳. د واده له ثبت وروسته

که چېرې د واده له امله، د يوه شخص نوم، ملیت، سيمه يا نور موارد بدلون ومومي، دا بدلونه بايد د ۱۴ ورځو په لړ کې د کډوالۍ د خدمتونو په سيمه ييزه اداره کې ثبت شي.

۱-۵ د یوه ماشوم د زیږېدو پر مهال تګلاري

۱. کله چې میندواري تایید شي، د میندواری یو لارښود کتاب ترلاسه کړئ

وروسته له هغې چې ستاسو میندواري د ډاکټر لخوا تایید شي، د خپلې سیمه ییزې ښاروالی اداري ته مراجعه وکړئ، د میندواری د نوملیکنې فورمه ډکه کړئ، چې په هغې کې نوم، د زیږېدو نېټه، د روغتون نوم او نورو موارد په ګوته کوي او د زیږون پر مهال د روغتیایي پاملرنې یو لارښود کتاب (د مور او ماشوم لپاره طبي سوابق) ترلاسه کړئ. دا تګلاره د میندواری پر مهال د ماشوم او مور او له زیږون وروسته د ماشوم د روغتیا د مدیریت لپاره هم اړینه ده. سربېره پر دې، د دې تګلاري په مرسته مور او ماشوم کولای شي تر څو طبي معاینات او و اکسین په وړیا ډول ترلاسه کړي (چې د ښاروالی په دولتي اداره یا د عامې روغتیا په سیمه ییز مرکز کې په وړیا ډول شته دي).

۲. کله چې یو ماشوم پیدا شي

(۱) د زیږون راجستر کول (د ۱٤ ورځو په لړ کې)

کله چې ماشوم پیدا شي، د زیږون راجستر کول باید د ۱٤ ورځو دننه د سیمه ییزې ښاروالی په دفتر کې وشي او د زیږون سند (چې د ډاکټر، قابلې او یا نورو لخوا چې په زیږون کې موجود وي، جاري کیږي) ورسره یو ځای وړاندې شي. په ورته وخت کې، د زیږون راجستر کولو بشپړتیا په د مور او ماشوم د روغتیا کتابچه کې ثبت کیږي. د زیږون د راجستر کولو له سپارلو وروسته، ماشوم ته به د "زیږیدنې له مخې لنډمهاله استوګن" په توګه د استوګنې کارت ورکړل شي. هیره مو نه شي چې خپل محلي ښاروالی دفتر ته ولاړ شئ ترڅو ماشوم د ملي روغتیا بیمې په طرحه کې شامل کړئ (د ټولنیز بیمې لپاره په خپل د کار ځای کې غوښتنه وکړئ) او د ماشوم د لګښت مرسته او د ماشومانو د طبي پاملرنې سند لپاره غوښتنه وکړئ.

(۲) د ماشوم پاملرنې ته پام وکړئ

که په جاپان کې یو ماشوم چې له والدینو څخه یو یې جاپانی او بل یې بهرنی وي دوه ګونی تابعیت (جاپانی او د بل هیواد تابعیت) ترلاسه کړي، هغه یا هغې باید مخکې له دې چې د ۲۰ کلونو عمر ته ورسیږي یوه تابعیت وټاکي.

که یو ماشوم چې یو والدین یې جاپانی او بل یې بهرنی وي په بهر کې زیږیدلی وي او دوه ګونی تابعیت (جاپانی او د بل هیواد تابعیت) ترلاسه کړي، نو مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې ماشوم به د جاپان تابعیت له لاسه ورکړي که چیرې د زیږون راجستر او د جاپاني تابعیت د دوام خبرتیا نږدې جاپاني بهرنیو دیپلوماتیک اداري یا په جاپان کې د ماشوم د قانوني استوګنې د سیمې ښاروالی دفتر ته د درې میاشتو دننه نه وي سپارل شوي.

(۳) د ماشوم لپاره د استوګنې وضعیت یا دایمي استوګنې جواز (د ۳۰ ورځو دننه) غوښتنې پروسې بشپړې کړئ او د استوګنې کارت ترلاسه کړئ.

که چېرې دواړه والدین بهرنیان وي، ماشوم نشي کولای چې د جاپان تابعیت ترلاسه کړي حتی که چېرې په جاپان کې هم زیږیدلی وي. په هغه صورت کې چې ماشوم بهرنی تابعیت ولري، یو ځل چې د زیږون ثبت د سیمه ییزې ښاروالۍ دفتر لخوا ومنل شو، والدین کولی شي د زیږون ثبت کېدلو د ثبوت سند ترلاسه کړي. د خپل استوګنځي سیمې ته د زیږون د ثبت سند راوړئ. د مهاجرت سیمه ایز دفترونه (د ناریتا هوایی ډګر د ځانګې دفتر او د کانسای هوایی ډګر د ځانګې دفتر پرته) تاسو به ارتیا ولرئ چې د کډوالۍ دفتر ته لاړ شئ او د استوګنې جواز لپاره غوښتنه وکړئ (د زیږون څخه د ۳۰ ورځو په جریان کې). که چېرې د والدینو څخه یو یې د دایمي استوګنې حالت ولري، د دایمي استوګنې لپاره غوښتنلیک وسپارئ.

ستاسو د غوښتنلیک د پایلو خبرتیا به تاسو ته په وروستي نیټه (د غوښتنلیک شاوخوا ٦۰ ورځې وروسته) کې واستول شي. د استوګنې د کارت د ترلاسه کولو لپاره، دا لیک د کډوالۍ د خدمتونو سیمه ییزې اداري یا هغې ځانګې ته یوسئ، چې تاسو پکې ژوند کوئ.

۶-۱ د کورنۍ د یوه غړي د مړ کېدو په صورت کې تګلارې

د یوه خپلوان مړینه په ریښتیا یو له غم څخه ډک حالت دی، مګر بیا هم د مړ شوي شخص کورنۍ باید د تکفین او تجهیز د مراسمو ترتیبات ونیسي. خاورو ته د سپارلو یا د په یاد راوړلو په څیر دا ډول مراسم د قومي او مذهبي آدابو او رواجونو پر بنسټ توپیر لري. له دې لارو څخه یوه دا ده چې د هغه هېواد له یو شمېر وګړو سره مشوري وشي چې د مړه شوی شخص یا سیمه ییزه ټولنه پکې ده. بل لار دا ده چې دا ترتیبات د جنازې د تکفین او تجهیز یو شرکت ته وسپارل شي. د مړ شوي شخص کورنۍ یا هغه کسان چې له متوفی سره یې ژوند کاوه، باید لاندې اقدامات ترسره کړي. په یو شمېر مواردو کې، د جنازې د تکفین او تجهیز شرکت دا تګلارې د دوی په استازیتوب بشپړوي.

۱. د مړینې ثبت کول (د اوو ورځو په لړ کې)

د مرګ ثبتول باید د مرګ د تایید څخه په اوو ورځو کې دننه، د تسلیم کوونکي د استوګنې سیمې یا د مړ شوي شخص د مړینې ځای صلاحیت لرونکي ښاروالۍ دفتر ته وسپارل شي. د مړینې ثبت باید د مړینې د یوې تصدیق پاڼي یا له مرګ وروسته د ډاکټر لخوا لیکل شوی وي.

۲. د ښخولو یا سوځولو لپاره د اجازې غوښتنلیک

کله چې تاسو د مړینې ثبت یوې دولتي ښاروالۍ ته وړاندې کوئ، تاسو ته په سمدستي توګه د ښخولو یا سوځولو اجازه درکول کیږي. (د ښاروالۍ دولتي دفتر دا ډول غوښتنې د شپې او ورځې په هر وخت کې قبلوي.)

۳. د متوفی شخص د استوګنې کارت د ۱۴ ورځو په لړ کې بیرته ستون کړئ.

۴. د متوفی شخص لپاره په اقداماتو کې لاندې موارد شامل دي:

(۱) که چېرې شخص دنده درلوده، د هغه/هغې له کار ځای سره اړیکه ونیسئ او د مړینې د لګښتونو د ترلاسه کولو مرحلې او د ټولنیزې بیمې ګټې ترلاسه کړئ.

(۲) که چېرې متوفی شخص په روغتیایي بیمه کې نوملیکنه کړې وي، یا د داسې کس د کورنۍ غړی وي چې په دې بیمه کې یې نوملیکنه کړې وي، د روغتیایي بیمې د ټولنې یا د تقاعد د دفتر له لارې د ښخولو یا سوځولو د لګښتونو د ترلاسه کولو لپاره اقدام وکړئ.

(۳) که چېرې متوفی د تقاعد یا روغتیایي بیمې په ملي طرحو کې نومولیکنه کړې وي، د هغه/هغې د جنازې د لګښتونو د تګلارو لپاره د ښاروالۍ په سیمه ییزه اداره کې اقدام ترسره کړئ.

* په هغه صورت کې چې شخص دري کاله یا له هغې زیات د تقاعد بیمه ادا کړې وي او د تقاعد له ترلاسه کولو وړاندې مړ شوی وي، کولای شئ د متوفی شخص د مشخص تقاعد لپاره غوښتنه وړاندې کړئ.

(٤) که چېرې متوفی د تقاعد ترلاسه کوونکی وي، د اداینې د ځنډولو مرحلې باید د تقاعد په یوه اداره یا په سیمه ییزه ښاروالۍ کې د تقاعد به ملي اداره کې له مړینې وروسته د ۱۰ ورځو په لړ کې (یا د ملي تقاعد په صورت کې په ١٤ ورځو کې) ترسره شي.

(٥) که چېرې متوفی د عمر بیمه، د سپما حسابونه یا ملکیتونه ولري، خپل غوښتنې وسپارئ او ثبت شوي نومونه بدل کړئ.

(٦) که چېرې عمومي لګښتونه (اوبه او برښنا) د شخص په نوم سره ادا شوي وي، ثبت شوی نوم بدل کړئ.

(٧) د موبایل او کریډټ کارتونو هوکړه لیکونه لغوه کړئ.

٥. هدیره

امکان لري چې د خښخلو لپاره ځای وپیرئ یا یې په پور واخلئ. د هدیرې لاندې ډولونه د لاسرسي وړ دي:

- دولتي هدیرې (دا هدیرې په ښاروالۍ پورې تړاو لري چې د هر دین خلک مني او د خصوصي هدیرو په پرتله یې لګښت هم کم دی).
- خصوصي هدیرې (دا هدیرې د خیریه بنسټونو او دیني ادارو لخوا اداره کیږي).
- د معبد هدیرې (دا هدیرې د معابدو لخوا اداره کیږي او په هغوی په ځمکو کې موقعیت لري).

د قبرونو له ډبرو سربېره، تاسو کولای شئ د دهدیرو او معابدو په شاوخوا کې د چارنل په نوم کورونه وویني چې دا هم یو غوراوی ګڼل کیږي. په جاپان کې، چارنل کورونه په لومړیو کې د قبر د چمتو کېدو تر وخت پورې د هډوکو د ساتلو لپاره کارول کېدل، مګر په دې وروستیو کې په قلف شویو ځایونو یا ځانګړو چوکاټونو کې د تل لپاره د هډوکو د ساتلو امکان برابر شوي دي.

۷-۱ د طلاق تګلاري

په جاپان کې د طلاق دري اصلي لاري شته دي: د رضايت پر بنسټ طلاق، د منځګړيتوب پر بنسټ طلاق او د حوزې د محکمې له لارې د قضايي اداري په واسطه طلاق. په هغه صورت کې چې ميرمن او ميړه يو ډول تابعيت ولري، طلاق د هغه هېواد د قوانينو پر بنسټ ترسره کيږي. که چېرې له زوجينو څخه يو کس جاپاني وي او په جاپان کې استوګن وي، طلاق د جاپان د قوانينو پر بنسټ ترسره کيږي. په ټولو مواردو کې، که چېرې تر قانوني عمر ښکته ماشوم وي، د طلاق د پروسيجرونو سره سم، دواړه اړخونه بايد پريکړه وکړي، چې څوک د والدينو حقونه لري.

۱. د رضايت پر بنسټ طلاق

د رضايت پر بنسټ طلاق تر ټولو آسانه لار ده. که دواړه خواوې د متقابلې سلا مشورې له لارې د طلاق په اړه موافقه وکړي، دوی د طلاق ثبتولو فورمه (چې په ښاروالی دفترونو کې موجوده ده) د اړونده خواوو او دوو شاهدانو د لاسليکونو او مهرونو (يوازې د بهرنيانو په حالت کې لاسليکونه) سره چمتو کوي او فورمه د ښاروالی دفتر ته سپاري. که چېرې د ښاروالی دفتر نومليکنه ومني، نو طلاق ترسره کيږي.

۲. د منځګړيتوب پر بنسټ طلاق

په هغه صورت کې چې دواړه اړخونه ونشي کولای د متقابلې سلا مشورې پر بنسټ په طلاق باندې هوکړه وکړي يا د مقابل لوري قصد مشخص نه وي، له اړخونو څخه يو لوری کولای شي د منځګړيتوب لپاره د کورنۍ محکمې ته چې هلته صلاحيت لري، د منځګړيتوب غوښتنه وکړي. وروسته د کورنۍ د چارو مسوول قاضي او دوه منځګړي په جلا ډول د دواړو اړخونو نظريات اوري. د منځګړيتوب دا طريقه زيات لګښت نه لري يا ډېر وخت نه نيسي. سربېره پر دې، د کورنۍ محکمه د زوجينو د اړيکو اړوند سلا مشورې او همغږي ترسره کوي، له دې امله ګڼ شمېر خلک له دې طريقې څخه هم کار اخلي.

د منځګړيتوب پر بنسټ طلاق د وکيلانو دخالت ته اړتيا نه لري. د کورنۍ په محکمه کې د سلا مشوره برخه د اړينو اسنادو او د هغوی د بشپړولو د څرنګوالي په اړه لارښوونې وړاندې کوي. يوازينی د اړتيا وړ لګښت د عايد د مهر او پوستې مهر په موخه د اړيکو لپاره ¥۱,۲۰۰ دی (د لا زياتو جزئياتو لپاره د کورنۍ له محکمې څخه غوښتنه ترسره کړئ)

۳. قضايي طلاق

که چېرې طلاق د کورنۍ د محکمې له لارې د منځګړيتوب پر بنسټ نشي ترسره کيدای، له دواړو اړخونو څخه يو لوړی کولای شي د کورنۍ هغه محکمې ته چې په هغه سيمه کې صلاحيت لري، دا موضوع د رسېدنې په موخه وړاندې کړي. په دې صورت کې، کيدای شي له وکيلانو پرته دې تګلارو ته رسېدنه ستونزمنه وي. د حوزې په دفترونو کې د جاپان د حقوقي ملاتړ مرکز د انتخاب او د وکيلانو د حق الزحمې په اړه مشوره وړاندې کوي.

۸-۱ د دایمي استوګنې لپاره د اجازې ترلاسه کول

که څه هم دائمي اوسیدونکي باید د کارت د پای ته رسیدو څخه دمخه د ټاکل شوي غوښتنلیک مودي په جریان کي د نوي استوګنځای کارت لپاره غوښتنه وکړي (وګورئ ۲-۱ د استوګنې کارت (۱)-۲)، دائمي اوسیدونکو ته اړتیا نشته چې د خپل استوګنې موده نوي کړي، او په جاپان کي د دوی د فعالیتونو په اړه هیڅ ځانګړي محدودیتونه نشته. په همدې حال کي، لکه څرنګه چې د دایمي استوګنې ترلاسه کولو اجازه د جاپان د تعابعیت ترلاسه کولو په معنی نه دي، که چېرې دوی کوم جرم ترسره کړي کیدای شي دایمي استوګن هم و ایستل شي. سربیره پردي، که څه هم په اصل کي د تقاعد د پیسو ترلاسه کولو لپاره د تقاعد په سکیم کي د لږ تر لږه ۱۰ کلونو لپاره غړیتوب اړین دی وروسته له دي چې د وړتیا عمر ته ورسیږي، یو ځانګړی شرط شته چې په کي د ۲۰ او ٦۰ کلونو ترمنځ د بهر هیوادونو کي تیر شوی وخت د دغو ۱۰ کلونو په حساب کي شمېرل کېدی شي. په همدې حال کي، د دي مورد لپاره د غوښتنې استولو په موخه، باید د تقاعد سن ته له رسېدو وړاندې، تاسو باید تابعیت یا دایمي استوګنې حالت ترلاسه کړی وي، له دي امله سپارښتنه کیږي چې دا کار ژر تر ژره ترسره کړئ. لکه څرنګه چې تابعیت یا دایمي استوګن ځای د تقاعد د ګټو د ترلاسه کولو پر مهال د دوري د لنډېدو شرایطو رامنځته کوي، نو له دي امله سپارښتنه کیږي چې دایمي استوګنې حالت ترلاسه کړئ.

۱. د دایمي استوګنې لپاره غوښتنلیک

تقریباً ټول هغه خلک چې په جاپان کي تر بشپړونکي ملاتړ لاندې ژوند کوي، د کډوالی د کنټرول او د کډوالو د پیژندلو د قانون پر بنسټ، اجازه لري چې په جاپان کي د اوږد مهاله استوګنې له حالت سره مېشت شي. که چېرې دا ډول کسان وغواړي چې په دایمي ډول په جاپان کي مېشت شي، د دي قانون د ۲۲ مادې پر بنسټ، اړینه ده چې د استوګنې د اجازې د ترلاسه کولو لپاره عدلیې وزیر ته مراجعه وکړي. دا ماده په واضح ډول وایی چې د عدلیې وزیر کولای شي چې د دوو شرطونو د وړاندې کولو په صورت کي دا جازه ورکړي

(۱) متقاضي نیک چال چلند ولري.

(۲) هغه په مستقل ډول د ژوند کولو لپاره په کافي اندازه پانګه یا مهارتونه ولري او د هغه/هغې دایمي اوسېدل د جاپان د ګټو سره سمون ولري.

د هغو کسانو لپاره چې تر بشپړونکي ملاتړ لاندې وي د عدلیې وزیر د حکم پر بنسټ که چېرې په پورته ډول ذکر شوی (۲) شرط ونه لري، د دایمي استوګنې اجازه ورکول کیږي.

۲. شرایط

د دایمي استوګنې د حالت د ترلاسه کولو لپاره، اړینه ده چې متقاضي په دایمي ډول د جاپاني ټولنې د غړي په توګه د جاپان له قوانینو څخه پیروي وکړي او باثباته ژوند ولري.

۳. چېرته باید غوښتنه وکړئ

غوښتنلیکونه د مهاجرت سیمه ایز دفتر ته سپارل کیږي چې ستاسو د استوګنې ځای په اړه واک لري.
.په مهربانۍ سره په سیمه کې د مسوولو چارواکو له لارښوونو سره سم اړین اسناد چمتو او واستوئ.

۱-۹ تابعیت

۱. شرایط

تابعیت په دي معنی دی چې یو بهرنی وګړی د عدلیه وزیر په اجازه باندې د جاپان تابعیت ترلاسه کوي. د تابعیت د اجازې د ترلاسه کولو لپاره، لکه څرنګه چې د تابعیت قانون په ۵ ماده کې ذکر شوي دي، د لاندې شرایطو پوره کول اړین دي.

(۱) هغه لږ تر لږه د پنځو کلونو لپاره په دایمي ډول په جاپان کې په یوه پته کې د قانوني استوګنې د حالت پر بنسټ ژوند کوي. (د پتې شرط)

(۲) هغه لږ تر لږه ۱۸ کلونه عمر ولري او د خپل هېواد د قوانینو پر بنسټ بلوغ ته رسېدلي وي. (د وړ والي شرط)

(۳) هغه د یوه نیک چال چلند لرونکی شخص وي. (د چلند شرط)

(٤) هغه وکولای شي د خپلې پانګې یا مهارتونو پر بنسټ یا د ژوند د شریک یا نورو خپلوانو په مرسته، د ژوند ورځنی چارې پر مخ یوسي. (د معیشت یا ژوند ترسره کولو شرایط)

(٥) هغه ملیت نه لري او یا د جاپاني ملیت په ترلاسه کولو سره باید خپل پخوانی ملیت له لاسه ورکړي. (له دوه ګوني/څو ګوني تابعیت څخه د مخنیوي شرط)

(٦) د جاپان د اساسي قانون د پلي کیدو له ورځې راهیسې ، هغه باید هیڅکله د جاپان د اساسي قانون یا د اساسي قانون له مخې رامینځته شوي حکومت د تاوتریخوالی له لارې د راپرځولو توطیه یا ملاتړ ونه کړي یا یو سیاسي ګوند یا بل سازمان رامینځته کړي یا ورسره یوځای شي چې پلان یې کړی وي. چې په دې ډول د ږنګیدو پلوي کوي. (له آساسي قانون سره د سمون موندلو شرایط)

مګر د ژوند د جاپاني شریکانو، اولادونو او نورو په اړه، یو شمېر تکلارې شته دي چې د پتې، د وړ والي او نورو مواردو شرط آسانه کوي. (د تابعیت قانون له ٦ تر ۸ مادې پورې).

۲. چېرته غوښتنه ترسره کړو

د تابعیت په غوښتنو کې د حقوقي چارو دفتر یا صلاحیت لرونکي سیمه ییز دفتر چې د متقاضي د استوګنې په ځای کې موقعیت لري، د اړینو اسنادو وړاندې کول شامل دي. متقاضي باید په حضوري ډول د حقوقي چارو دفتر ته مراجعه وکړي، د پوسټ یا استازي له لارې غوښتنلیکونه نه منل کیږي. په همدې حال کې، که چېرې متقاضي له ۱۵ کلونو ځخه کم عمر ولري، یو قانوني وکیل (معمولاً هغه شخص چې والدینو حقونه لري) کولای شي د متقاضي په استازیتوب دا مرحلې پر مخ یوسي. متقاضي ته په پام سره د تابعیت ترلاسه کولو لپاره غوښتنلیکونه توپیر لري. د جزئیاتو لپاره، په مهربانۍ سره د حقوقي چارو له دفتر یا د حقوقي چارو له سیمه ییز دفتر ځخه معلومات وغواړئ.

۳. "آیا د دایمي استوګنې د حالت د نه لرلو په صورت کې کولای شم د تابعیت لپاره غوښتنه ترسره کړم؟"

د تابعیت لپاره د غوښتنې ترسره کولو په موخه د دایمي استوګنې د حالت ترلاسه کول اړین نه دي.

۱۰-۱ د مهر ثبت کول (قانوني مهر)

په جاپاني ټولنه کي په اسنادو باندې د لاسليک پر ځای د اسنادو د محتوا د تاييد لپاره له مهر څخه کار اخيستل کيږي. د مهرونو دوه اصلي ډولونه شتون لري: غير راجستر شوي غير رسمي مهرونه چې د "mitome-in" په نوم ياديږي د عمومي اسنادو لپاره کارول کيږي؛ او راجستر شوي مهرونه چې د "jitsu-in" په نوم ياديږي د مهمو اسنادو لکه د موټرو يا املاکو پلور د هوکړه ليکونو لپاره کارول کيږي. کله چې ثبت شوی مهر وکاروئ، تاسو څخه به وغوښتل شي چې د مهر ثبتولو سند وسپاري کوم چې رسمي ثبوت دی چې مهر د مالک لخوا ثبت شوی وي. د مهر ثبتولو سندونه ستاسو د سيمه ييزې ښاروالۍ دولتي دفتر څخه صادر کيدی شي، مګر تاسو لومړی اړتيا لرئ چې خپل مهر ثبت کړئ.

د خپل مهر د ثبت کولو لپاره، د ثبت کولو لپاره مهر (په يوه مربع کي نقش چې د اړخونو اندازه يې لږ تر لږه ۸ ملي متره وي او له ۲۵ ملي ميتر څخه زيات نه وي)، د خپل استوګني کارت سره يوځای د خپل سيمه ييزې ښاروالۍ حکومتي دفتر ته يوسئ. وروسته به تاسو ته د مهر د ثبتولو کارت درکړل شي. لکه څنګه چې تاسو اړ ياست هرکله چې تاسو د مهر ثبتولو سند صادر کړئ دا مهر ثبتولو کارت وښاياست نو د خپل مهر ثبتولو کارت په خوندي ځای کي وساتئ. که تاسو بلې سيمې ته لاړ شئ، د مهر ثبت کول به په هغه ورځ لغوه شي چې تاسو بهر ځئ، نو تاسو اړتيا لرئ چې خپل مهر په هغه سيمه کي چې تاسو ورځئ بيا د ښاروالۍ په دولتي دفتر کي ثبت کړئ.

۱-۱۱ بهر ته سفر کول

۱. د بیا خلي ننوتلو اجازي او د بیا ننوتلو خانګړي اجازي

د بیا ننوتلو اجازه هغه اجازه ده چې له وړاندې د عدلیې وزیر لخوا په جاپان کې بهرنیو اوسیدونکو ته ورکړل شوي تر څو په لنډمهاله توګه له هیواد څخه د وتلو وروسته جاپان ته د ننوتلو او د ننوتلو ساده طرزالعملونو سره بیرته ننوځي. که چیرې اجازه ورکړل شي، نو دا ۴۰۰۰ ین لګښت لري (یوازې یو ځل)، په بدیل توګه، د ۷۰۰۰ ین فیس (څو قسطونو) ته اړتیا ده (د عوایدو پستی تکت سره ورکول کیږي). که چیرې آنلاین غوښتنه کوئ، د ۳۵۰۰ ین فیس (یوازې یو ځل) یا ۶۵۰۰ ین (څو قسطونو) ته اړتیا ده (د عوایدو پستی تکت سره ورکول کیږي).ستاسو د استوګنې د مودې په چوکاټ کې، د اعتبار موده اعظمي حد پنځه کاله ده.

۲. هغه ټکي چې له حرکت وړاندې باید په پام کې ونیول شي

کله چې د جاپان څخه د وتلو لپاره هوایی ډګر ته ځئ، تاسو باید په یاد ولرئ چې خپل د استوګنې کارت له ځان سره ولرئ. کله چې د وتلو طرزالعملونو څخه تیریږي، تاسو اړتیا لرئ چې د خپل پاسپورت او د بیا ننوتلو اجازه لیک سره یوځای د کډوالۍ چارواکو ته د استوګنې کارت وښیئ، له دې امله ټل ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د خپل استوګنځي کارت له ځان سره لرئ.

۳. په هغه صورت کې چې یو تابعیت ترلاسه کړی جاپانی وي

یو متبوع جاپانی کولای شي د پاسپورټ په ترلاسه کولو سره بهر ته سفر وکړي. د دې له امله چې شخص جاپانی دی، نو د بیرته راتګ پر مهال د ننوتلو اجازې ته اړتیا نه لري. کله چې یو بهرني هیواد ته سفر کوئ، معمولا تاسو اړتیا لرئ چې د هغه هیواد څخه ویزه ترلاسه کړئ، مګر جاپان اوس مهال د 74 هیوادونو او سیمو سره د ویزې معافیت ترونونه لري (د سپتمبر ۲۰۲۵ پورې). که تاسو د سیاحت، خپلوانو لیدنې او نورو لپاره د لنډې مودې لپاره دې هیوادونو یا سیمو ته سفر کوئ، تاسو ممکن د ویزې پرته سفر وکړئ، مګر مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د پاتې کیدو موده د هیواد پورې اړه لري، نو مهرباني وکړئ مخکې له مخکې وګورئ

که چیري یو ځوک د بشپړونکي خوندیتوب لاندې د اعتبار وړ پاسپورټ او د استوګنې کارت سره جاپان پریږدي او د یو کال په اوږدو کې بیرته داخل شي، اصولاً دوی د بیا ننوتلو اجازې ته اړتیا نه لري. دې ته د بیرته راتګ ځانګړي اجازه ویل کیږي. کله چې تاسو د بیا ننوتلو ځانګړي اجازې سره له جاپان ځخه د وتلو اراده لرئ، نو ډاډه اوسئ چې خپل د استوګنې کارت وړاندې کړئ او همدارنګه د خپل سفر / بنکته کیدو کارت په هغه بکس چک کړئ چې "د بیا ننوتلو اجازې سره حرکت کول" پرې لیکل شوي دي. په یاد ولرئ چې د بیا ننوتلو ځانګړي اجازه د وتلو له نیټې ځخه تر یوه کال پورې اعتبار لري، مګر که ستاسو د استوګنې موده مخکې پای ته ورسیږي، د بیا ننوتلو ځانګړي اجازه به په ورته وخت کې لغوه شي.

۱-۱۲ بل هېواد ته تلل

۱. د کډوالی ویزه

کله چې یو څوک په جاپان کې تر بشپړونکي خوندیتوب لاندې وي چې د اوږدې مودې اوسیدونکي حالت یې ترلاسه کړی وي او غواړي له جاپان پرته بل هېواد ته کډوال شی، ،معمولا دا اړینه ده چې د هغه هیواد له حکومت څخه د عادي بهرني وګړي په توګه د ننوتلو اجازه (د کډوالی ویزه) ترلاسه کړي.

۲. د یوه کډوال په توګه د ننوتلو اجازه

د کډوالو لپاره د ننوتلو جواز صادرولو سیستم له هیواد څخه بل هیواد سره توپیر لري، نو امکان لري چې عمومي تشریحات وړاندې کړئ. مخکې له دې چې تاسو تګلاري پیل کړئ، علاقه لرونکو کسانو ته سپارښتنه کیږي چې په جاپان کې د هغه هیواد په سفارت یا قونسلګرۍ کې پوښتنه وکړي چې دوی غواړي کډوالي شي او د دې کار د ترسره کولو لپاره بل هېواد ته د کډوال په توګه د ورتګ په موخه کومو تګلارو ته اړتیا ده.

۳. د کار کوونکي تقاعد او ملي تقاعد

که یو څوک چې تر بشپړونکي خوندیتوب لاندې وي او د اوږدمهاله استوګن وضعیت یې ترلاسه کړی وي په جاپان کې د کار کوونکو تقاعد یا ملي تقاعد لپاره وړ وي، دغه کس کولی شي له جاپان څخه ګټې ترلاسه کولو ته دوام ورکړي که څه هم بل هیواد ته کډه وکړي. مهرباني وکړئ د جاپان د تقاعد خدمت یا په یو تقاعد دفتر کې د هغو تګلارو په اړه تایید وکړئ چې په بل هیواد کې د جاپاني تقاعد ګټو ترلاسه کولو لپاره اړین دي مخکې له دې چې له جاپان څخه ولاړ شي.

٤. د تقاعد د ګټو د نه ترلاسه کولو په اړه په شرایطو نه برابرېدل

که چېرې یو شخص تر بشپړونکي خوندیتوب لاندې وي چې د اوږدې مودې اوسیدونکي حالت یې ترلاسه کړی وي د تقاعد ګټې ترلاسه کولو وړ نه وي مګر د تقاعد د ملي طرحې یا د کار کوونکو د تقاعد په طرحه کې د شپږو میاشتو څخه ډیر وخت لپاره نوم لیکنه شوی وي، هغه شخص کولی شي د اصولو پر بنسټ - له جاپان څخه د وتلو وروسته د تقاعد د ملي یا د کار کوونکو د طرحې له مخې په یو ځلي د تقاعد غوښتنه وکړي. (په همدې حال کې په یاد ولرئ، که چېرې له هغه وخت څخه دوه کاله تیر شوي وي چې تاسو د تقاعد لپاره خپل په شرایطو برابرېدل له لاسه ورکړي دي، یا تاسو د معلولیت د لومړني تقاعد ترلاسه کوونکي وئ، تاسو نشئ کولای په یو ځل د تقاعد غوښتنه وکړئ). د جاپان څخه له وتلو وړاندې، په یو ځای توګه د تقاعد د مرستې غوښتل د جاپان د تقاعد له خدمتونو یا د تقاعد په یوه اداره کې تایید کړئ.

<د تقاعد په اړه د پوښتنو کړښه>

(Navi Dial) ۱۱۶۵۰-۰۵-۰۵۷

۲ څېړکی په جاپان کې ژوند کول

۲-۱ هغه اصول چې باید په سیمه ییزه ټولنه کې رعایت شي

په جاپان کې د آسانه ژوند لپاره کلی دا ده چې د خپلو ګاونډیانو جاپانیانو څخه د جاپانیانو د ورځنۍ ژوند او ژواک په اړه زده کړه وکړئ. له دې امله، لومړی ګام دا دی چې په سیمه کې خپلو ګاونډیانو او د ګاونډ ټولنو مشرانو ته سلام ورکړئ. ستاسي په ګاونډ کې به د کثافاتو د ضایعاتو، محلي معلوماتو (د سرکولر پیغامونو لیږدول)، د ګاونډ ټولنې د چندې او نورو په اړه اصولو او د سیمه ییزو پیښو په اړه معلومات وي. تاسو ته سپارښتنه کیږي چې له خپلو ګاونډیانو څخه زده کړئ تر څو سیمه ییز رواجونه او آداب زده کړئ. د جاپاني ټولنې په عمومي اصولو کې بهر د کثافاتو غورځول او د کور دننه او بهر د شور ماشور نه رامنځته کولو په اړه له پام څخه کار اخیستل شامل دي.

۱. د کثافاتو غورځول

(۱) کثافات په ګڼ شمېر لارو باندې جلا کیږي. د بیلګې په ډول، د سوځېدو وړ کثافات (د سبزیجاتو، کاغذ او نورو شیانو ضایعات)، هغه کثافات چې د سوځېدو وړ نه وي (د PET بوتلونه، ښیښه یې بوتلونه، قوطي، ورځپاڼي، اخبارونه، مقوا، جامې او نور). په همدې حال کې، د جلا کولو طریقې ټولنې ته په پام سره توپیر لري.

(۲) د کثافاتو د غورځولو لپاره کڅوړې هم د هرې ټولنې لخوا پخپله ډیزاین کیږي.

(۳) یو شمېر شیان شته دي چې تاسو یې باید لرې ونه غورځوئ. د کور بریښنایي وسایل (تلویزیون، یخچالونه او فریزرونه، د هوا یخوونکي، د جامو وینځلو ماشینونه، نور.) شخصي کمپیوترونه، ټایرونه، د موټر پرزې او په همدې ډول نور شیان، په مهربانۍ سره د پرچون پلورنځي څخه د دې مواردو په اړه پوښتنه وکړئ. د نورو لویو کثافاتو لپاره لکه د بریښنایي وسایلو، فرنیچر، توشکو، بایسکلونو او داسې نورو لپاره چې په پورته ډول ذکر شوي دي، د خپل ځایي کثافاتو راټولولو دفتر یا د لوی کثافاتو معلوماتو دفتر سره اړیکه ونیسئ. د دې ډول کثافاتو د راټولو په بدل کې فیس ګرځول کیږي.

(٤) د کثافاتو لپاره چې غورځول کیدی شي ، د کثافاتو د ایستلو ځای ، ورځې او وخت ټاکل شوي.

(٥) د بیا کارونې وړ کثافاتو د ایستلو ځای، ورځې او وخت هم ټاکل شوي دي. ستاسو ټولنه به د کثافاتو د بندل او تصفیه کولو څرنګوالي په اړه اصولو هم ولري.

۲. شور

په یاد ولرئ چې په کور کې دننه یا بهر په لوړ غږ خبرې یا بحث مه کوئ او په لوړ غږ یا غږونه مه کوئ چې د ګاونډي په کور کې اوریدل کیږي

۲-۲ د پولیسو غرفې

د پولیسو د مرکزونو تر څنګ زیاتره سیمې د پولیسو غرفې لري، چې د پولیسو په واک کې دي. د پولیسو په دې غرفو کې افسران په ګاونډ کې ګزمې کوي، ورک شوي ماشومان ګوري، ورک شوي او موندل شوي توکي ساتي او داسې نور. دوی سیمه ځایونو ته د تګ د لارو په اړه پوښتنو ته هم ځواب ورکوي.

۲-۳ که چېرې تاسو په ژوند کې له ستونزو سره مخ یاست

ستاسو د سیمه ییز ښاروالی د هوساینې دفتر (روغتیا او فلاحي مرکز) د هوساینې برخه هغو خلکو ته مشوره ورکوي چې په ژوند کې ستونزې لري، لکه د مور او پلار کورنۍ، او هغه خلک چې ناروغ یا بیکاره دي. اړین محافظت د هغو کورنیو لپاره شتون لري چې په سختۍ کې دي، خو دا د دوی د ستونزو حالت پورې اړه لري. د معیشت یا ژوند د خوندیتوب یو سیستم شتون لري چې د ژوند لږ تر لږه معیار تضمینوي او د خلکو سره مرسته کوي چې خپلواکي تر لاسه کړي. د معیشت یا ژوند په خوندیتوب کې د ژوند مرستې، تعلیمي مرستې، د کور مرستې، پاملرنې مرستې، طبي مرستې او داسې نور شامل دي. د مرستې اندازه چې تادیه کیږي د ژوند لپاره د اړتیا وړ لږترلږه ځخه د کورنۍ عاید په کمولو سره محاسبه کیږي ، کوم چې د روغتیا ، کار او هوساینې د وزیر لخوا ټاکل شوي معیارونو سره محاسبه کیږي.

د ژوند خوندیتوب د هغو خلکو لخوا تر لاسه کیدی شي چې لاهم د مختلف نورو اختیارونو کارولو سره حتی د ژوند کولو کې ستونزې لري، په شمول (۱) د دوی شتمنی (سیمه، املاکو، او نور)، (۲) د کار کولو وړتیا، (۳) د کورنۍ مرسته غړي او خپلوان، او (٤) نورې عامه ګټې. که تاسو غواړئ پوه شئ چې ایا تاسو د ژوند خوندیتوب تر لاسه کولو وړ یاست، مهرباني وکړئ د خپل ښاروالی د هوساینې له دفتر ځخه پوښتنه وکړئ.

۲-٤ د ټولنيز هوساينې شوراګانې

د ښاروالۍ د ټولنيزې هوساينې شورا د معيشت د ملاتړ برخه لاندې کورنيو ته د مالي پورونو يا د حوزې د هوساينې د چارواکو لخوا لارښوونې چمتو کوي:

○ هغه کم عايده کورنۍ چې له نورو څخه د پور په ترلاسه کولو کې ستونزې لري سرچينې (د معيشت ساتنې په برخه کې د کورنيو عايد تر ۱.۷ ځلو پورې، د اداري له مخې توپير لري)

○ کورنۍ د فزيکي معلوليت د لارښود کتاب سره، د رواني معلوليت تصديق پاڼه يا بيرته په پښو درېدو لارښود کتاب

○ هغه کورنۍ چې يو بودا غړي لري او دوی په ورځنۍ ژوند کې پاملرنې ته اړتيا لري

لاندې ځلور ډوله مالي پورونه شتون لري:

○ د عمومي ملاتړ مالي منابع

د ژوند د ملاتړ لګښتونو، د استوګنې د کرايې لګښتونو او د لنډمهالي ميشتيدنې لګښتونو لپاره

○ د هوساينې مالي منابع

د هوساينې لګښتونو او کوچنيو بيرنيو ادانو لپاره

○ د ښوونيز ملاتړ مالي منابع

د ښوونيز ملاتړ لګښتونو او ښوونځي کې د شموليت په موخه د چمتو کېدو د لګښتونو لپاره

○ د عام ژوند مالي منابع د وثيقې په توګه د املاکو سره

د عام ژوند مالي منابع د وثيقې په توګه د املاکو سره

پورونه د بياکتنې او پريکړې تابع دي د بياکتنې معيارونو سره سم چې د هر ولايت د ټولنيز هوساينې شورا لخوا ټاکل شوي.

* د مجردو والدينو کورنيو لپاره، د هوساينې دفتر د مجردو والدين د هوساينې ګټو لپاره د جلا خدمت په اړه معلومات چمتو کوي.

۲-۵ هغه ماشومان چې محافظت ته اړتیا لري

که تاسو د کومو ماشومانو په اړه پوهیږئ چې د مور او پلار دواړو د مړینې، ناروغۍ یا په روغتون کې د بستر کیدو له امله سرپرست نه لري یا د والدینو لخوا ناوړه ګټه اخیستنه لري د هوسایني دفتر یا د ماشومانو د لارښود مرکز سره اړیکه ونیسئ. دا ځایونه د دې په اړه چې د ماشومانو لپاره څه غوره دي چې محافظت ته اړتیا لري په اړه یې پراخه مشوري وړاندې کوي، په کور کې د نویو زیږیدلو ماشومانو یا محافظتي موسسو لپاره داخلیدل د اولاد په توګه نیونه، یا پالنه شامل دي. د اړیکه نیونکي محرمیت په پام کې نیول کیږي.

۲-۶ د غونډو لپاره د ځای په پور اخیستل

که چېرې تاسو غواړئ په خپل هیواد کې د جشن د ورځې لمانځلو لپاره د ټولنې ګروپ ناسته یا راټولیدنه جوړه کړئ، تاسو کولی شئ په وړیا یا ټیټه بیه یوه کوټه په پور واخلئ چې ستاسو د هستوګنې په مجتمع کې د ناستې ځای یا د محلي ټولنې مرکز یا مدني مرکز په څیر تاسیساتو کې غوښتنه وکړئ. د کرایې فیس د کارولو وخت، کرایه شوي ځای، کارول شوي تجهیزات او موخې پورې اړه لري. تاسو باید ژر تر ژره غوښتنه وکړئ که چېرې تاسو غواړئ د اونۍ په پای کې د بنه ترانسپورت لاسرسي سره یو ځای وکاروئ. کله چې تاسو داسې ځای په کرایه کوئ، د تاسیساتو کارولو قواعدو او لارښوونو ته ډیره پاملرنه وکړئ چې څنګه یې پاک کړئ او له دوی څخه پیروي وکړئ.

۲-۷ د عامه مشورې دفترونه (قانوني مشوره او نور)

اداري او ښاروالۍ د عامه مشورې دفترونه وړيا فعاليت کوي، چې په هغې کې چې وکيلان ، د اداري اسنادو مشاورين او داسې نور مستقيم پوښتنو ته ځواب وايي. بېلابېل خدمتونه د حقوقي موضوعاتو، د ښځو موضوعاتو، بشري حقونو، د بهرنيانو د مسائلو، کور، مالياتي، اداري مسائلو، تعليم، د والدينو-ماشومانو اړيکو، ثبت، کار، معيوبينو، کورني تاوتريخوالي او لويانو په اړه مشورې وړاندې کوي.

مشورې ريزرف ته اړتيا لري او په ټاکلي وختونو او ورځو کې ترسره کيږي. له همدې امله، مهرباني وکړئ د خپلې اداري يا د ښاروالۍ دولتي دفتر کې د مشورې د دفتر پوښتنه وکړئ، تر څو ستاسو د پوښتنې محتوا بيان کړي. مهرباني وکړئ په ياد ولرئ، که څه هم، د مشورې ډيرى دفترونه په بهرنيو ژبو مشوره نه کوي، نو کيداى شي تاسو ته لارښوونه وشي چې د حکومتي دفتر يا د تبادلې نړيوالې اتحاديې ته لاړ شئ تر څو د ژباړې يا بهرنيو مشورتي خدمتونو په اړه پوښتنې وکړئ. بيا هم، د مشورې ځيني دفترونه د بهرنيانو مشورې مني. سربيره پر دې ، محتوا ته پام سره، کيداى شي ځيني مشورې لګښت ولري، نو مهرباني وکړئ مخکې لدې چې خپل ريزرف کول ترسره کړئ، چک يې کړئ. د جاپان د حقوقي ملاتړ مرکز (JLSC) څخه د وکيل لخوا د قانوني مشورې لپاره، لومړى په خپله اداره کې د JLSC ځانګې څخه د تليفون له لارې پوښتنه وکړئ.

۸-۲ د موټر چلولو جواز بدلول او ترلاسه کول

په جاپان کې د موټر چلولو لپاره، تاسو بايد جاپاني موټر چلولو جواز يا د نړيوال موټر چلولو جواز ولرئ. د موټر چلولو جواز بدلول يا ترلاسه کول بايد د عامه خوندیتوب کميسيون کې په هغه اداره کې ترسره شي چيرې چې تاسو اوسيږئ. د طرزالعملونو او داسې نورو د معلوماتو په اړه، مهرباني وکړئ د پوليسو د مرکزي دفتر د موټر چلولو د جواز په مرکز کې پوښتنه وکړئ.

۱. که چېرې تاسو غواړئ د خپل هيواد د موټر چلولو جواز د جاپاني موټر چلولو په جواز باندې بدل کړئ

لاندې توکي د غوښتنليک لپاره اړين دي چې د بهرني هيواد د موټر چلولو جواز د جاپاني موټر چلولو په جواز باندې بدل کړئ:

(۱) د بل هيواد د موټر چلولو معتبر جواز
(۲) د هيواد د سفارت لخوا په جواز کې د اصلي ننوتلو جاپاني ژباړه چې هلته تاسو د موټر چلولو جواز يا د جاپان د موټرو فدراسيون (JAF) څخه ترلاسه کوئ
(۳) يو پاسپورټ يا نور اسناد دا چې تاسو د دې جواز ترلاسه کولو وروسته لږ تر لږه درې مياشتې په اړوند هيواد کې پاتې شوي ياست
(٤) د استوګنې سند چې تابعيت يا مليت په ګوته کوي
(٥) انځور
(٦) د اجرا کولو فيس

د موټر چلولو د جواز په مرکز کې به دا وخپرل شي چې ايا تاسو د خپل غوښتنليک پر بنسټ د موټر چلولو لپاره اړينه پوهه او مهارتونه لرئ. که دا وپيژندل شي چې تاسو به په موټر چلولو کې کومه ستونزه ونه لرئ، تاسو به د موټر چلولو ازموينې برخې څخه معاف شئ او ستاسو د بدلولو اجازه به درکړل شي. په جاپان کې، د دوه ټاير لرونکو سکوټرونو لپاره د جواز استثنا سره، تاسو نشئ کولی د موټر چلولو جواز ترلاسه کړئ پرته لدې چې تاسو ۱۸ کلن يا ډير عمر ولرئ. له همدې امله، حتی که دوی د خپل هيواد څخه د موټر چلولو جواز ولري، د ۱۸ کلونو څخه کم عمر لرونکي خلک نشي کولی خپل جوازونه د جاپاني موټر چلولو جوازونو ته بدل کړي.

۲. که چېرې تاسو د خپل هیواد ځخه د موټر چلولو جواز نه لرئ مګر غواړئ نوي جاپاني جواز ترلاسه کړئ

په جاپان کې د موټر چلولو دوه ډوله جوازونه شته دي: د شخصي موټرو لپاره لومړی ټولګي جواز او د سوداګریزو مسافر وړونکو موټرو لپاره د دوهم ټولګي جواز. په عمومي توګه، خلک د عمومي ټولګي جواز ترلاسه کوي. دلته د لومړي ټولګي لس ډوله جواز شتون لري او تاسو کولی شئ هر ډول موټر چلوئ چې ستاسو د جواز لخوا ښودل شوی وي یا له هغې کوچنۍ وي. د موټر چلولو جواز اصلي ډولونه په لاندې ډول دي:

لویه اندازه:

د لویې اندازې موټر چې ټول وزن یې لږ تر لږه ۱۱ ټنه وي او یا د اعظمي بار کولو ظرفیت یې لږ تر لږه ٦.٥ ټنه یا لږ تر لږه د ۳۰ تنو مسافرینو ظرفیت ولري.

منځنۍ اندازه:

د منځنۍ اندازې موټر چې ټول وزن یې لږ تر لږه ۷.٥ ټنه وي، له ۱۱ ټنو ځخه کم وي او یا هم د اعظمي بار ظرفیت لږ تر لږه ٤.٥ ټنه، له ٦.٥ ټنو ځخه کم یا د ۱۱ ځخه تر ۲۹ تنو پورې د مسافرینو ظرفیت ولري.

نیمه منځنۍ اندازه:

د نیم منځنۍ اندازې موټر چې ټول وزن یې لږ تر لږه ۳.٥ ټنه او له ۷.٥ ټنو ځخه کم وي او یا د اعظمي بار ظرفیت ۲ ټنه یا ډیر وي او له ٤.٥ ټنو ځخه کم یا د ۱۰ تنو یا لږو مسافرینو ظرفیت ولري.

عادي:

عادي وسایط چې ټول وزن یې له ۳.٥ ټنو ځخه کم وي او یا د اعظمي بار کولو ظرفیت له ۲ ټنو ځخه کم وي یا د ۱۰ ځخه کم د مسافرینو ظرفیت ولري.

لویه اندازه، دوه ټایره:

د لوی اندازې دوه ځرخي موټرونه (د انجن دحجم اندازه ۴۰۰ سي سي ځخه پورته)

عادي دوه ټایره:

عادي دوه ځرخي موټرونه (له ۱۲۵ سي سي ځخه تر ۴۰۰ سي سي پورې)

موټر سایکل:

موټر سایکلونه (د ۱۲۵ سي سي ځخه کم موټرسایکلونه)

د دي جوازونو ځخه، تاسو بايد د موټر سايکل يا د عادي دوه څرخي موټرو جواز ترلاسه کولو لپاره ١٦ کلن يا ډير عمر ولرئ، د لوی اندازي دوه څرخي موټر، عادي موټر، يا نيمه لوی موټر ترلاسه کولو لپاره ١٨ کلن يا - د منځنی اندازي موټر چلولو جواز ولري. د منځنی اندازي د وسايطو جواز د ترلاسه کولو لپاره تاسو بايد ٢٠ کلن يا ډير عمر ولرئ او لږ تر لږه دوه کاله د نيمه متوسط، منظم يا د ځانګړي درنو تجهيزاتو جواز ولرئ. د لوی اندازي موټر جواز ترلاسه کولو لپاره تاسو بايد ٢١ کلن يا ډير عمر ولرئ او لږ تر لږه د دري کلونو لپاره د متوسط ، نيمه متوسط ، منظم يا ځانګړي درانه تجهيزاتو جواز لرئ. د جواز ترلاسه کولو لپاره، معمولاً خلک د موټر چلولو ښوونځي ته ځي چې د عامه خوندیتوب کميسيون لخوا ټاکل شوي. که تاسو د موټر چلولو له ټاکل شوي ښوونځي ځخه فارغ شوي ياست، تاسو د سړک ازموينې اخيستلو ځخه معاف ياست. له دي وروسته، تاسو کولی شئ جواز ترلاسه کړئ که تاسو د وړتيا ازموينه او ليکلي ازموينه کې بريالی شي (په جاپاني يا انګليسي کې) چې د عامه خوندیتوب کميسيون لخوا ترسره کيږي.

۹-۲ په ټلیفون کې ګډون

که چېرې تاسو غواړئ د ګرځنده تلیفون خدمتونو لپاره ثبت نام وکړئ، د هر شرکت جزئیاتو په دقت سره واورئ د دوی د قرارداد جزئیاتو (مياشتني لګښتونو) او د فعالیت خانګړتیاوې (د خدمتونو ساحه او نور). کله چې یو ټرون پای ته ورسیږئ شرکت په احتیاط سره غوره کړئ. کیدای شي تاسو ونشئ کولی چې ستاسو د اوسیدو په حالت پورې اړوند داسې خدمت کې ګډون وکړئ. سربیره پردې، په یاد ولرئ چې په روغتونونو، د اور ګاډو او عامه ځایونو کې او د موټر چلولو پر مهال په ګرځنده تلیفونونو خبرې کول منع دي.

۳ څېړکی کار

۳-۱ د کار لټه ترسره کول

که چېرې تاسو د کار په لټه کې یاست، کولی شئ د روغتیا، کار او هوساینې وزارت لخوا پرمخ وړل شوي د عامه کارموندنې امنیت سیمه ییز دفتر کې د "Hello Work" خدمت وکاروئ. د " Hello Work " خدمت وړیا د کارموندنې مشوري او د دندې پیژندنه وړاندې کوي او تاسو کولی شئ د آنلاین سیسټم په کارولو سره په بله سیمه کې هم د کار لټون وکړئ. د " Hello Work " ځینې ځانګې د بهرنیانو د کارموندنې خدمتونو مرکزونه لري (ټوکیو، ناګویا او اوساکا) او داسې مرکزونه هم شتون لري لکه، د Shinjuku بهرنیانو د کارموندنې مرستې او لارښود مرکز، چې هلته په جاپان کې د کار جوازونو سره بهرني اوسیدونکو ته مشوره ورکول کیږي. په داسې حال کې چې د انګلیسي، چینایي او نورو ژبو ژباړونکي شتون لري، ریزرف کولو ته اړتیا ده، نو مخکې له دې چې تاسو ژباړونکي ته اړتیا ولرئ د ریزرف کولو لپاره مخکې له مخکې زنګ ووهئ.

سربېره پر دې، که تاسو د هغو خلکو لپاره د مناسب کار په لټه کې یاست چې ماشومان پالي، د مینډو Hello Work کارول کیدای شي اسانه وي. د Hello Work مرکزونه د ماشومانو د لوبو ځایونه لري، دا آسانه کوي چې ماشومان له ځانه سره راوړي. د Hello Work د مینډو مرکزونه د کارموندنې هر اړخیزه او د همغږي ملاتړ چمتو کوي، په شمول د وقف شوي د کاري سلاکاران (ریزرف کول اړین دی) ، د ځایی چارواکو سره په اړیکه کې د ماشومانو د پاملرنې مرکزونو په اړه معلومات چمتو کول او د کار او ماشوم پالنې توازن لپاره د مناسب کاري فرصتونو په اړه معلومات وړاندې کوي. د خدمتونه په بشپړه توګه وړیا دي.

که تاسو د نږدې خدمتونو موقعیت نه پیژنئ، د سیمه ییزې ښاروالۍ حکومتي دفتر یا یې انټرنیټ کې د http://www.hellowork.mhlw.go.jp/ پتې له لارې وګورئ، د کار موندلو نورې لارو په ګډون د دندې د خالي بستونو په مجلو کې لټون کول او په ورځپاڼو کې د مرستې غوښتونکي اعلانونه او ستاسو د خپل هیواد له پیژندونکو سره مشوره کول شامل دي.

۳-۲ د حرفوي زده کړو ترلاسه کول

حرفوي زده کړه د بې دندو کسانو (د Hello Work کار غوښتونکو) لپاره د بیا کار کولو د مهارتونو او پوهه ترلاسه کولو لپاره د جاپان د زړو، معلولیت لرونکو اشخاصو او کار غوښتونکو لپاره د کارموندنې سازمان لخوا چمتو کیږي، یوه ثبت شوي اداري اداره چې د روغتیا، کار او هوساینې وزارت لخوا اداره کیږي. د بناروالۍ سیمه ییز حکومتونه په هره سیمه کې د اوسیدونکو اړتیاوو سره سم د بیا کار کولو روزنه هم چمتو کوي. ډیری کورسونه چې دوی د بې د بې دندو کسانو لپاره وړاندې کوي وړیا دي. ښاروال کورسونه شته دي، له هغې ډلې یو شمېر یې خصوصي ښوونیزو انستیتیونو ته ورکول کیږي او ډیری وخت دا کورسونه له درې ځخه تر ۱۲ میاشتو موده کې ترسره کیږي. په کورسونو کې د ګډون د غوښتنې کولو د ځانګړي انستیټیوټ په کړنلارو پورې اړه لري چې روزنه ورکوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د جاپان سازمان د ویب پاڼې ځخه لیدنه وکړئ د زړو، د معلولیت لرونکو اشخاصو او کار غوښتونکو (JEED) د کار موندنې لپاره، یا په مستقیم ډول د خپل سیمه ییز Hello Work په دفتر کې پوښتنه وکړئ.

۳-۳ د وړتیاوو ترلاسه کول

د هغو کسانو شمیر هم مخ په ډیریدو دی چې غواړي د خپل کاري وضعیت د بڼه کولو یا د دندې بدلولو لپاره وړتیا ترلاسه کړي. دري ډوله وړتیاوې شته دي: ملي وړتیاوې چې د ملي قوانینو پر بنسټ دي او یا هم ورسره سمون لري، عامه وړتیاوې چې په ابتدایي توګه د دولتي ادارو لخوا اجازه ورکول کیږي او خصوصي وړتیاوې چې د خصوصي سازمانونو او شرکتونو لخوا پیژندل شوي دي او د دې وړتیاوو په منځ کې، ځینې شتون لري چې بغیر له هغې څخه کار نشئ کولی (نرسان، د موټرو د ساتلو تخنیکي کسان او نور) او دا چې د فرد د مهارتونو اثبات وړاندې کوي (د عملي انګلیسي مهارت ازموینه، د جاپاني ژبې د مهارت ازموینه او داسې نور). اړینه خبر دا ده چې وړتیاوې د خپلو موخو سره سم په دقت سره وټاکئ.

سربیره پر دې، د لارښود په کتابونو د وړتیاوو منځپانګې په اړه معلومات چمتو کوي د دوی په ترلاسه کولو کې د ستونزو کچه، لګښت او داسې نور، په انټرنیټ کې د معلوماتو لټون ترسره کول هم اسانه کوي. ځکه چې د وړتیاوو ترلاسه کول کې یو ټاکلی وخت او لګښت شامل دی، دا مشوره ورکول کیږي چې د ازموینې لپاره د مطالعې د پیل کولو دمخه د لګښت ګټې په پام کې ونیسئ.

۳-٤ د دندې بیمه

هغه خلک کله چې د دندې په بیمه کې نوم لیکنه شوې وي، دوی کولی شي ځینې شرایط پوره کړي او دندې بیمه ترلاسه کړئ "اساسی لګښت" (د بېکارۍ په نامه ګټه) د دې لپاره چې دوی ته اجازه ورکړي چې د بیکارۍ په وخت کې د خپل معیشت په اړه د اندیښنې پرته نوې دندې په لټه کې شي. هغه خلک چې د کار د بیمې پلان لخوا تر پوښښ لاندې نیول شوي وي او چا چې خپله دنده پریښې ده، که چیرې لاندې "۱" یا "۲" پلي شي کولی شي، دوی د "بیکارۍ ګټه" ترلاسه کوي.

۱. هغه کسان چې د Hello Work له دفتر څخه یې لیدنه کړې او د دندو لپاره یې غوښتنه کړې او په فعاله توګه د دندې د بیرته ترلاسه کولو هڅه کوي او هغه څوک چې، سره له دې چې په هر وخت کې د کار د بیا پیلولو لپاره تیار وي، بیکاره دي ځکه چې دوی نشي کولی د خپلو هڅو یا د Hello Work دفتر د هڅو له لارې دندې وموميي.

۲. هغه خلک چې د کار بیمې پلان لخوا د خپلې دندې پریښودو دمخه د ۲٤ میاشتو په جریان کې لږ تر لږه د ۱۲ میاشتو لپاره تر پوښښ لاندې نیول شوي وي. په هر صورت، هغو خلکو په اړه چې د کمپنۍ د دیوالی کیدو له امله یې خپله دنده له لاسه ورکړې وي، ګوښه کول، یا د نورو نه منلو وړ دلایلو سره، هغه څوک چې د دندې پریښودو دمخه د ۱۲ میاشتو په جریان کې لږ تر لږه د شپږو میاشتو لپاره د کار بیمې پلان لخوا تر پوښښ لاندې نیول شوي وي، هم په شرایطو برابر دي.

د زړو بیمه شویو کسانو لپاره چې عمر یې ٦٥ کاله یا ډیر وي، یا بیمه شوي کسان چې د لنډې مودې لپاره ګمارل شوي (د بیلګې په توګه موسمي کارګران)، د ګټو لپاره واجد شرایط د عادي بیمه شوي اشخاصو څخه توپیر لري، مګر دوی د لنډمهاله ګټو لپاره واجد شرایط دي که چیرې دوی دا شرایط پوره کړي.

په ترتیب سره د کار د بیمې د ترلاسه کولو لپاره "اساسي لګښت"، تاسو باید د Hello Work په دفتر کې ټاکل شوي کړنلارې ترسره کړئ. اړین اسناد او توکي د بیکارۍ ګټو د درخواست د ترلاسه کولو لپاره په لاندې ډول دي:

(۱) د دندې د بیمې لیک لرونکي لپاره د استعفا کارتونه (د استعفا دوه کارتونه ۱ او ۲ شته دي، د استعفا تر وخت پورې د هغه شرکت له لورې کوم کې چې تاسو ورسره په کار بوخت وئ، صادریږي.)
(۲) د کار د بیمې سند

(٣) مهر
(٤) يو رسمي سند چې ستاسو پته او عمر تاييدوي (د استوګنې کارت، د موټر چلولو جواز)
(٥) يو انځور (مخامخ لید، ملا پورته، تقريباً ٣ سانتي متره لوړ او ٢.٥ سانتي متره پراخ)
(٦) د متقاضي د سوابقو د ساتلو کتاب

هغه نيټه چې د بيکارۍ ګټو ادانه پيل کيږي د دې له مخې توپير لري چې ايا تاسو د شرکت په خوښه يا مو پخپله خوښه استعفا ورکړي ده. د شرکت په خوښه کې تقاعد هغه قضيو ته اشاره کوي په کوم کې چې شرکت د سوداګرۍ د کمښت له امله ديوالي کيږي او تاسو د شرکت د مديريت د ستونزو له امله استعفا ورکولو ته اړ شوي ياست، يا تاسو د تقاعد اجباري عمر ته له رسيدو وروسته استعفا ورکړئ. په داسې قضيو کې، د اووه ورځو له تيريدو څخه وروسته له هغې ورځې څخه چې بيکاره شوي ياست ګټې ادا کيږي. ګټې تاسو ته د اوو ورځو له انتظار وروسته هم ادا کيږي په هغه حالتونو کې چيرته چې ستاسو د ټاکلي مودې ګومارنې قرارداد نوي شوی نه وي، يا ستاسو له کنټرول څخه بهر دلايلو لپاره مو خپله دنده پرېښې وي.

له بلې خوا، اختياري استعفا هغه قضيو ته اشاره کوي چې تاسو کار په خپله خوښه پرېږدي، نه د شرکت، په داسې حالتونو کې، ګټې ادا کيږي وروسته له هغه چې تاسو د کار موندلو لپاره غوښتنه ترسره کړي وي او بيا هغې څخه وروسته اوه ورځې او بيا دري مياشتې نور انتظار وکړئ.

په ټولو حالتو کې، ګټې په هرو څلورو اونيو کې يو ځل "د بيکارۍ د تصويب ورځو" کې د تصويب شويو ورځو د شمير لپاره ادانه ترسره کيږي. په ياد ولرئ که چيرې تاسو د اداينې د تصويب په ورځ د Hello Work دفتر ته حاضر نشی ګټې به ادا نشي. هغه موده وخت چې يو څوک کولی شي د بيکارۍ ګټې اداينې ترلاسه کړي د استعفا لامل هم د داسې عواملو له مخې لکه د بيکارۍ بيمې د نوم ليکنې موده، او عمر توپير لري. د لا زياتو معلوماتو لپاره د خپل تر ټولو نږدې Hello Work په دفتر کې پوښتنه وکړئ.

۳-۵ د کار پورې مربوط د پېښې د جبران بیمه

د کار پورې مربوط د پېښې د جبران بیمې پلان اغیزمن شوي کارګر ته یا د هغه یا د هغې غمجنې کورنۍ ته ګټې ورکوي که چېرې اغیزمن کارګر د کار په جریان کې یا کار ته د تګ پرمهال په حادثه کې ټپي، ناروغ یا مړ شي، او په اصولو کې، د بیمې حق د ګمارونکي لخوا ادا ینه کیږي. که چېرې اغیزمن شوی کارګر د کار یا کار ته د تګ پرمهال په حادثه کې ټپي شي د ټپي کیدو لپاره یو ثابت مقدار پیسې(د طبي درملنې جبران) د طبي لګښتونو د پوښلو لپاره ورکول کیږي او د زیانمن شوي کارګر د ورک شوي معاش لپاره د یوې برخې د جبران په توګه د هغه مودې په جریان کې کله چې اغیزمن شوی کارګر نشي کولی د ټپي کیدو له امله کار وکړي. که چېرې اغیزمن شوی کارګر په معیوبیت کې پاتې شي، دوی به یو مجموعي ادا ینه او/یا تقاعد تر لاسه کړي. که چېرې اغیزمن شوی کارګر په دی حادثه کې مړ شي له غمجنې کورنۍ ته ګټه او هم د جنازې د لګښتونو لپاره پیسې ادا کیږي. د دې ګټو د غوښتنې کولو لپاره، اغیزمن شوی کارګر چې د حادثې سره مخ شوی یا د هغې کورنۍ باید د بیمې ګټې ادعا د کار معیارونو د کتنې دفتر ته وسپاري. سره له دې، که طبي اداره چې د اغیزمن شوی کارګر درملنه کوي د کار پورې اړوند د حادثې د جبران د بیمې د پلان یوه ټاکل شوي اداره (rosai shitei iryo kikan) وي، غوښتلیکونه په مستقیم ډول د اداري له لارې جوړیږي. د لا زیاتو جزیاتو لپاره، مهرباني وکړئ د RHQ سره اړیکه ونیسئ یا د کار معیارونو د کتنې په دفتر کې پوښتنه وکړئ.

۳-۶ کار پرېښودل او بل شرکت ته بدلېدل

۱. مهرباني وکړئ مخکې له دې چې خپله دنده بدله کړئ او بل شرکت ته لاړ شئ، دنورو په منځ کې، لاندې موضوعاتو ته په پام سره فکر وکړئ. ایا تاسو په نوي شرکت کې چې تاسو غواړئ ورشئ د شرایطو لکه معاش او کاری ساعتونو څخه راضی یاست؟

(۱) ایا هغه نوی شرکت چې تاسو غواړي ورشئ په اجتماعي بیمه کې یې نوم لیکنه کړي) د کار بیمه، روغتیا بیمه، د کار کوونکي تقاعد، د کار پوري اړوند د حادثې د جبران بیمه (او ایا دا به تاسو ته اجازه درکړي) اوږدمهاله اوسیدونکي او نور په دې پلانونو کې نوم لیکنه وکړي؟

(۲) ایا دا امکان لري چې له نوي شرکت سره داسې د کار هوکړه لیک ترسره شي چې پورته ستونزې تر پوښښ لاندې ونیسي؟

۲. د یوه شرکت پرېښودلو لپاره تکلاري

(۱) کله چې تاسو له ډېر غور وروسته پریکړه وکړه، چې خپل شرکت پرېږدئ، مهرباني وکړئ د خپلې ارادې په اړ د خبرتیا نیټې څخه وروسته چې ستاسو په د ګومارنې په اوسني هوکړه لیک کې ټاکل شوې ده (د بیلګې په توګه، ستاسو د استعفا څخه یوه میاشت دمخه) ګومارونکي ته واستوئ.

(۲) ستاسو د استعفا په ورځ، مهرباني وکړئ خپل د کار کوونکي والي د هویت سند او د روغتیا د بیمې سند شرکت ته بیرته ورکړئ.

هغه خلک چې سمدلاسه بل شرکت ته نه ځي اړینه ده چې دا مراحل ترسره کړي چې د دوی د روغتیا بیمه د ملي روغتیا بیمې پلان کې انفرادي شمولیت ته او د کار کوونکو د تقاعد ملي پلان ته بدل کړي.

دی ته هم پام وکړئ که تاسو د کار د بیمې پلان لخوا پوښل شوي یاست او ستاسو لپاره کار ته دوام ورکول ستونزمن کیږي ځکه چې تاسو باید د ماشوم پاملرنې یا نرسنګ پاملرنې کې ښکیل شئ، تاسو کولی شئ د داسې سیسټم څخه ګټه واخلئ کوم کې چې تاسو کولی شئ د Hello Work په دفتر کې د قانوني واک سره په ساحه کې غوښتنه وکړئ په کوم کې چې ستاسو د کار ځای د ماشوم پاملرنې یا د پرستاری د پاملرنې موخو لپاره د کار څخه د موقتي رخصتی لپاره موقعیت لري، او ګټه ترلاسه کوي (د ماشوم پاملرنې رخصتی ګټه یا د کورنۍ پاملرنې رخصتی ګټه) د محدودې مودې په جریان کې تاسو کار نشئ کولی. سربېره پر دې، که تاسو د تولنیزې بیمې پلان تر پوښښ لاندې یاست او د ناروغۍ یا ټپي کیدو درملنې ته اړتیا لرئ، کیدای شي تاسو له کار څخه د غیر حاضرۍ په وخت کې د حادثې او ناروغۍ ګټې ترلاسه کړئ. یو ځل چې تاسو له خپل شرکت څخه استعفا ورکړئ تاسو به د ماشوم پاملرنې رخصتی ګټې او د کورنۍ پاملرنې رخصتی ګټې لپاره نور واجد شرایط نه یاست، نو د استعفا یا رخصتی په اړه د خپل سرپرست سره د کار په محل کې بحث وکړئ او تر ټولو نږدې Hello Work دفتر، مخکې له دې چې تاسو پریکړه وکړئ.

٤ څېرکی استوګنځای

٤-١ عامه استوګنځای او د ښاري بیارغونې اداره (UR) استوګنځای

١. په دولتي کورونو کې مېشتېدل

که چېرې تاسو غواړئ چې هغه کور ته ورشئ چې د اداري یا ښاروالۍ لخوا اداره کېږي، د سیمه ییز دولتي دفتر په اړونده اداره کې د خالي ځایونو (نوی استوګنځای، خالي استوګنځای) او د درخواست کولو لپاره شرایط (د عاید محدودیتونه او نورو) په اړه پوښتنه وکړئ. په ادامه کې د یو شمېر اصلي برخو تشریح ترسره کوو. په عمومي توګه، د غوښتنلیک شرایطو کې د عاید او د کورنۍ د جوړښت محدودیتونه شامل دي او بریالي غوښتونکي د لاټرۍ له لارې غوره کېږي. په Tokyo کې د لاسرسي وړ دولتي استوګنځایونه شتون د غوښتونکي د شمېر په پرتله ډېر کم دی او د داسې کور موندل په ځینو سیمو کې ستونزمن کار دی.

	د بهرنیانو لپاره ځینې شرایط	پوښتنې ګروېرنې
Tokyo ښاري استوګنځای	د Tokyo هغه اوسېدونکي چې اورېد مهاله استوګن، دایمي استوګن یا په جاپان کې له یوه کال څخه زیات پاتې شوي وي	د Tokyo د ګومارنې مرکز د ښاري استوګنځای د برابرولو شرکت تلیفون: ٠٣-٣٤٩٨-٨٨٩٤
د Kanagawa اداره د ولایت استوګنځای	په ولایت کې د دوی د بهرنۍ راجستر کېدو له بشپړېدو راهیسې بهرنیان کولی شي د شپږو میاشتو تېریدو وروسته درخواست وکړي	Kanagawa Tochitatemono Hozen Kyokai (Kanagawa)د ځمکې او ودانیو د ساتنې ټولنه) تلیفون: ٠٤٥-٢٠١-٣٦٧٣
د Saitama اداره د ولایت استوګنځای	هغه بهرنیان چې په اداره کې ژوند یا کار کوي	Saitama د برخې لرونکي استوګنځای د جوړونې شرکت تلیفون: ٠٤٨-٨٢٩-٢٨٦١
Aichi اداره د ولایت استوګنځای	هغه بهرنیان چې په اداره کې ژوند یا کار کوي	د Aichi د برخې لرونکي استوګنځای شرکت تلیفون: ٠٥٢-٩٥٤-١٣٦١
د Osaka اداره د ولایت استوګنځای	هغه بهرنیان چې په اداره کې ژوند یا کار کوي	د Osaka د برخې لرونکي استوګنځای شرکت تلیفون: ٠٦-٦٢٠٣-٥٤٥٤
د Hyogo اداره د ولایت استوګنځای	هغه بهرنیان چې په اداره کې ژوند یا کار کوي	د د Hyogo د برخې لرونکي استوګنځای شرکت تلیفون: ٠٧٨-٢٣٠-٨٤٦٠

۲. د ښاري بیارغوني اداري (UR) استوګنځای

په داسي حال کي چي له دولتي استوګنځای څخه قیمت دی، د بیارغوني اداري لخوا جوړ شوي کورونه د خصوصي کورونو په پرتله چي ورته ځانګړتیاوي لري، ارزانه دي. په داسي حال کي چي خاص شرایط لکه میاشتنی عاید شته دي، مګر د ضمانت کوونکي د وړاندي کولو لپاره د اړتیا نشتون او د هوکړه لیک د غځولو لپاره د لګښت نه ورکولو په ځیر یو شمېر ګټې هم لري. د استوګنځای ځانګړي کول په بنسټیزه توګه لومړی لومړیتوب دی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، له خپل سیمه ییز UR (د ښاري بیارغوني اداري) د سوداګرۍ له مرکز سره اړیکه ونیسئ.

د ښاري بیارغوني اداره (یو خپلواک اداري شرکت دی چي له دي وړاندي د جاپان د دولتي استوګنځای په توګه پیژندل کیده)

٤-٢ په خصوصي ډول په کرايه شوي کورونه او نور.

١. چېرته يې لټون ترسره کړو

خلک د کورونو او اپارتمانونو د کرايي لپاره د جايدادونو استازي په انټرنټ يا په مجلو کې ګوري. د خونو د ترتيب، ترانسپورت ته د لاسرسي او نورو عواملو پر بنسټ توپيرونه شتون لري، نو تاسو ته مشوره درکول کيږي چې ډېره ونه کړئ او يو ځو خوښي کورونو يا اپارتمانونو ځخه يو غوره کړئ.

٢. د ملکيت له خښتن سره د هوکړه ليک ترسره کول

کله چې تاسو د کور يا اپارتمان د کرايه کولو لپاره پريکړه وکړه، تاسو بايد د کور يا ملکيت له خښتن سره د کرايي هوکړه ليک ترسره کړئ. د دې ډول هوکړه ليکونو محتوا د سيمو پر بنسټ توپير لري. په هوکړه ليک کې مياشتنۍ کرايه او د اداينې وخت، د اجاري موده، ضمانت، د کلي پيسې، د هوکړه ليک د نوي کولو نېټه او استوګنې شرايط مشخص شوي دي. تشريحات په خورا دقت سره واورئ او که چېرې موافق ياستئ، خپل لاسليک وکړئ يا مهر مو ولګوئ. تاسو به يوازې د دې هوکړه ليک له لاسليک کولو وروسته په کور يا اپارتمان کې استوګن شئ. سربېره پر دې، ډېرى وخت د کرايي د هوکړه ليک لپاره ضمانت کوونکي ته اړتيا وي. د اړتيا وړ ضمانت کوونکي په اړه د معاملاتو د لارښوونې دفتر د سلاکار يا د کور د خښتن تشريحات په غور سره واورئ. په يو شمېر ځايونو کې د ضمانت کوونکي اړوند د سلا مشورې خدمتونه شته دي. د بيلګې په ډول، هغه خلک چې Kanagawa په ولايت کې ژوند کوي بايد د کور د ملاتړ له مرکز سره اړيکه ونيسي (تلېفون: ١٧٥٢-٢٢٨-٠٤٥).

همداراز د يادولو وړ ده چې په جاپان کې نوي ځای ته د ليږد پر مهال، ډېرى وخت له تاسو ځخه غوښتل کيږي چې نه يوازې دا چې مياشتنۍ کرايه ادا کړئ، بلکې ضمانت او کلي پيسې هم ادا کړئ. د استوګنې له ځای ځخه بهر ته د ليږد وروسته، اضافه شوي يا د ضمانت په توګه ورکړل شوي پيسې به د پاکولو او رغوني د لګښتونو له ګرځولو وروسته بيرته ورکړل شي. د ضمانت او د کلي د پيسو اندازه سيمې او د کور خښتن ته په کتو توپير لري.

٣. د کرايي له هر ډول باقياتو ځخه ډډه وکړئ

په جاپان کې ډېرى د ملکيت خښتنان بهرنيانو ته د خپل استوګنځای په کرايه ورکولو کې شک لري، له دې امله سپارښتنه کيږي چې د کور يا اپارتمان په کرايه ورکولو وروسته، کوشش وکړئ چې له باقياتو ځخه ډډه وکړئ او د کور له خښتن سره د باور وړ اړيکو رامنځته کولو هڅه وکړئ. که چېرې د يو شمېر دلايلو له امله تاسو نشئ کولای کرايه په ټاکلي نېټه ادا کړئ، حتماً له وړاندې د کور خښتن ته خبر ورکړئ.

٤-٣ د کور پیرل

استوګنځای خورا قیمت دي، له دې امله په نغدي ډول د کور پیرل هم ستونزمن دي.

استوګنځای خورا قیمت دي، له دې امله په نغدي ډول د کور پیرل هم ستونزمن دي. له دې امله، خلک د استوګنځای پورونه ترلاسه کوي. په همدې حال کې، د لوی پور د ترلاسه کولو لپاره د پریکړې ترسره کولو پر مهال او په اوږد مهال کې د بیاادایني په اړه باید له خورا احتیاط ځخه کار واخلئ. دا مهمه ده پوه شئ چې تاسو ځومره بیرته اداینه ترسره کولای شئ. یعني، تاسو اړتیا لرئ چې له خپلې کورنۍ سره بشپړ بحث وروسته پریکړه وکړئ چې ځومره وخت به ونیسي او هره میاشت به تاسو د ځومره پیسو د بیرته اداینې وس ولرئ.

۲. د استوګنځای پورونه

د اوږدمهاله ټیټ سود له اندازې سره مناسب پورونه د عامه سازمانونو لکه د جاپان د کور مالي اداري ځخه ترلاسه کېدی شي (پوه شرط دا دی چې غوښتونکي باید دایمي اوسیدونکی وي او لږ تر لږه درې کاله د کار کوونکو د تقاعد یا ملي تقاعد طرحې کې شامل شوی وي).

۳. د کارکوونکي د شتمنیو راټولولو د سپما سیستم

که چېرې تاسو په خپل کاري ځای کې د کارکوونکي د شتمنیو راټولولو د سپما په سیستم کې شامل یاست، نو کیدای شي تاسو وکولی شئ د دې سیستم لاندې موجود پورونه وکاروئ (پوه شرط دا دی چې قسطونه باید لږ تر لږه یو کال لپاره ادا شوي وي). د پور اخیستلو بله طریقه له خصوصي بانکونو او په دې ډول نورو ادارو ځخه د پور اخیستل دي، مګر په دې صورت کې د سود اندازه لوړ وي.

په پورته ډول په بانکونو، د استوګن ځایونو د پلور شرکتونو او نورو ځایونو کې د ذکر شویو پورونو په اړه سلا مشوره د لاسرسي وړ ده.

۵ څېړکی طبي درملنه

۵-۱ کله چې تاسو ناروغ یا ټپي شوي وئ

له هر څه وړاندې اړینه ده چې په خپل ورځني ژوند کې پام وکړئ چې ناروغ نشئ. په همدې حال کې، که چېرې تاسو ناروغ یا ټپي شوئ، په چټکۍ سره ډاکټر ته مراجعه وکړئ. که چېرې امکان ولري، په یوه ځانګړي اداره د ځانګړي ډاکټر په اړه چې ستاسو په ګاونډ کې دی یوه پریکړه وکړئ تر څو ستاسو لپاره د یوه شخصي ډاکټر په توګه خدمت وکړي.

کله چې روغتون ته مراجعه کوئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې د خپلې روغتیایي بیمې تصدیق پاڼه له ځان سره ولرئ. روغتیایي بیمه په دوه ډوله ده: "روغتیایي بیمه" چې ستاسو شرکت یې مسوولیت په غاړه لري او "د روغتیا ملي بیمه" چې د سیمه ییزې بنارولۍ اداره یې مسوولیت په غاړه لري. بهرني زده کوونکي له دې بیمو څخه په یوه کې نومليکنه کوي. اوږد مهاله استوګن کډوال کولای شي په دواړو کې نومليکنه وکړي. که چېرې تاسو روغتیایي بیمه لرئ، په ډیرې مواردو کې مدیر او یا د هغه یا هغې د کورنۍ غړي باید د طبي لګښتونو څخه یوازې له ۱۰% څخه تر ۳۰% پورې ادا کړي. د لوړ لګښت طبي لګښتونو تخفیف سیستم هم شته دی چې له مخې یې ، که چېرې په میاشت کې د ورته ناروغۍ لپاره ادا شوي طبي لګښتونه له یوې ټاکلې اندازې څخه ډیر وي ، نو د دې مقدار څخه ډیر مقدار او همدارنګه د اداینې په برخه کې د مرستې لپاره ځانګړي شوي طبي لګښتونه وروسته بیرته راستنیږي.

په اصل کې، د ترافیکي پیښو له امله د رامنځته شویو زیانونو طبي لګښتونه د موټر د بیمې لخوا ادا کیږي، ځکه موټر چلوونکي او د هغوی ځښتن د موټر اړوند د درېیم اړخ د مسوولیت بیمه لري.

په کار ځای یا تګ راتګ یا د دندې اړوند ناروغي له امله رامنځته شویو زیانونو طبي لګښتونه د کار له امله د رامنځته شوي زیان د جبران د بیمې لخوا ادا کیږي. په مهرباني دندې ته د غوښتنلیک د استولو پر مهال چک کړئ چې آیا شرکت د پیښو له امله د رامنځته شوي زیان د جبران په بیمه کې نومليکنه کړې ده او که نه.

۲-۵ د رخصتیو او شپې پر مهال بیرنی طبي آسانتیاوې

د رخصتیو یا شپې په وخت کي د بیرني مشوري خدمتونه د محلي طبي اتحادیې یا بل سازمان لخوا په داسي ځایونو کي لکه د ولسوالی د طبي درملنې مرکزونو کي چمتو کیږي او ډاکټران په نوبت سره دندې ته راځي. همدارنګه، په یوه ټولنه کي روغتونونه او کلینیکونه پریکړه کوي چې کوم تاسیسات به د رخصتی یا د شپې مشوري لپاره پرانیستي وي، نو د خپلې سیمه ییزې ښاروالی حکومتي دفتر ته مراجعه وکړئ تر څو ومومئ چې کوم روغتونونه یا کلینیکونه ستاسو په ګاونډ کي بیرني حالت ته ځواب وایي. بله طریقه دا ده چې د ځیرمه ډاکټر سره مشوره وکړئ چې تاسو په منظمه توګه د مشوري لپاره ورته مراجعه کوئ او پریکړه وکړئ چې په بیرني حالت کي څه وکړي.

په سیمه ییزه توګه د کورني ډاکټر درلودل چې ورسره تاسو کولی شئ په ناڅاپي ډول د خپلې کورنۍ د غړو روغتیا په اړه بحث وکړئ، کیدای شي ستاسو د ډاډمن کېدو لامل شي.

۵-۳ د عامې روغتيا بيمه

۱. روغتيايي بيمه

هغه کسان چې په يوه شرکت يا بل ځای کې ګومارل کيږي، په ټولنيزه بيمه (د کار کوونکو په روغتيايي او تقاعد بيمه) کې نوملیکنه کوي. شرکت يا بل ګمارونکی به دا تګلاري ترسره کوي. سربيره پر دی، تر کفالت لاندې د کورنۍ غړي هم کولای شي ستاسو په کار ځای کې د غوښتنې په ترسره کولو په روغتيايي بيمه کې نوملیکنه وکړي. د روغتيا بيمې کارتونه د بيمې ورکوونکي (د جاپان روغتيا بيمې مجمع، د روغتيا بيمې ټولنې او نورو) لخوا د روغتيا بيمې طرحې د غوښتونکو او د دوی د کورنۍ هر غړي ته د دوی د کاري ځايونو له لارې صادريږي. ګومارونکی او مدير دواړه د ټولنيزې بيمې نيم لګښتونه ادا کوي، شرکت هره مياشت له اصلي معاش څخه يوه اندازه ګرځوي او بيمه کوونکي ته يې ادا کوي. له دې بيمې سره، مدير بايد له ۱۰% څخه تر ۳۰% پورې طبي لګښتونه ادا کړي.

۲. ملي روغتيايي بيمه

د ملي روغتيايي بيمې لپاره، مدير پخپله د ښاروالۍ په سيمه ييز حکومتي دفتر کې د نوم ليکنې تګلارې پرمخ وړي او د اداينې په خبرتياوو کې ټاکل شوي نيټې پورې د روغتيا بيمې پيسې ورکوي. د بيمې د حق اندازه د کورنۍ عايد او د غړو شمېر ته په پام سره ټاکل کيږي. هغه کسان چې د استوګنې کارتونه يې ترلاسه کړي دي او د خپل کار ځای له لارې په روغتيايي بيمه کې نوملیکنه نه کوي، دوی بايد په ملي روغتيايي بيمه کې نوملیکنه وکړي.

د "د ماشوم طبي پاملرنې سند" په وړاندې کولو سره، سرپرستان کولی شي د خپلې سيمه ييزې ښاروالۍ حکومت څخه مالي ملاتړ ترلاسه کړي تر څو د ماشومانو په طبي فيسونو کې له ۲۰% څخه تر ۳۰% پورې مرسته وکړي چې د روغتيايي بيمې يا ملي روغتيايي بيمې لخوا تر پوښښ لاندې نه وي نيول شوي او دا تر هغه وخت پورې چې ماشوم يو ټاکلې عمر (عمر د ښاروالۍ د هرې اداري پر بنسټ توپير لري) ته ورسيږي. په ډيرو مواردو کې، د دې مالي ملاتړ معنی دا ده چې د ماشومانو طبي فيس ورپرې دی. د "ماشوم طبي پاملرنې سند" ترلاسه کولو لپاره، د ښاروالۍ په حکومتي دفتر کې غوښتنه وکړئ چې هلته ماشوم د استوګن په توګه ثبت شوی وي.

۳. د لوړ لګښت لرونکي طبي پاملرنې د ګټو سیستم

دلته د لوړ لګښت طبي پاملرنې ګټې سیستم شته دی چې له مخې یې کله چې په طبي ادارو او درملتونونو کې په یوه میاشت کې د جیب څخه زیات د طبي فیس اداینه د یو ټاکلي حد څخه ډیره وي، له دې اندازې څخه زیات مقدار بیرته ادا کیږي. د لګښت محدودیت په عمر او د عاید په ډلبندۍ پورې تړاو لري. د لا زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د روغتیایي بیمې په کارت (یا د ملي روغتیایي بیمې کارت) کې له ذکر شوي بیمه کوونکي یا د خپلې سیمه ییزې ښاروالۍ له دفتر څخه پوښتنه وکړئ.

٤. د لوړ لګښت لرونکي طبي/نرسنګ پاملرنې د سیستم ترکیب

دلته د لوړ لګښت لرونکي طبي/د نرسنګ پاملرنې فیس سیستم شته دی، چې په هغې کې چې د یوې ځانګړې کورنۍ غړي چې په روغتیایي بیمه کې نوم لیکنه کوي د اګستِ څخه د ۱۲ میاشتو په اوږدو کې د جیب څخه بهر طبي او د نرسنګ پاملرنې لګښتونه له یو ټاکلي حد څخه ډیر وي تر اګست پورې، هغه مقدار چې د دې حد څخه ډیر وي بیرته ادا کیږي. په داسې حال کې، چې د لوړ لګښت طبي پاملرنې ګټو سیستم میاشتنۍ فشار کموي، د لوړ لګښت طبي / د نرسنګ پاملرنې ګټې یو سیستم دی چې په کلنۍ توګه کورنیو ته یې ادا کوي کله چې په کورنۍ باندې دروند مالي فشار وي حتی د دوی طبي لګښتونه هم کم شوي وي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، په مهربانۍ سره د خپلې روغتیایي بیمې له چمتو کوونکي سره اړیکه ونیسئ.

٥. د طبي لګښتونو ګرځول

سربیره پر دې، که د اصلي او د کورنۍ د غړو ټول طبي فیس چې د ورته مالي سرچینو څخه ژوند کوي د یوې ټاکلې اندازې (۱۰۰,۰۰۰ ین، یا که ټول عاید له ۲ میلیون ین څخه کم وي، نو دا حد د دې عاید د ٥%% سره برابر دی)، څخه زیات وي، که چیرې دوی د عایداتو مالیه بیرته ورکړي، کیدای شي دوی مالیه بیرته ترلاسه کړي. د طبي لګښتونو ګرځول بلل کیږي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ له RHQ سره اړیکه ونیسئ.

٥-٤ د دولتي نرسنګ د خدمتونو بيمه

د نرسنګ پاملرني بيمه يو سيستم دی چې په مرسته يې لوړ عمر لرونکي خلک کولای شي چې د ټولنې د ټولو غړو ملاتړ له لارې د امکان تر حده باثباته ژوند کولو ته دوام ورکړي، د ټولنې لخوا چمتو شوي اړينو خدمتونو د کارولو سربېره ، حتی وروسته له هغې هم دوی د نرسنګ پاملرني ته اړتيا ومومي. د ٤٠ کالو څخه ډير عمر لرونکي خلک د نرسنګ پاملرنې بيمې کې نوم ليکنه کوي او هره مياشت د بيمې ټاکل شوي اندازه ادا کوي (د بيمې ټاکل شوي اندازه د هر هغه کس د عايد سره سم محاسبه کيږي چې د نرسنګ پاملرنې بيمې طرحې کې شامل شوي وي). دا د بيمې حقونه او د مالياتي پيسې د مالي سرچينې په توګه کارول کيږي تر څو خلک يې په مرسته وکولای شي چې د نرسنګ پاملرنې بيمې کې نوم ليکنه وکړي، چې دوی د نرسنګ پاملرنې ته اړتيا لري تر څو د نرسنګ پاملرني بېلابېل خدمتونه ترلاسه کړي او يوازې د لګښتونو يوه برخه پخپله له جيب څخه ادا کوي.

١. د نرسنګ د پاملرنې په بيمه کې نوملیکنه کول

د نرسنګ پاملرني په خدمتونو کې ثبت شوي خلک عبارت دي له ١ له ٦٥ لوړ عمر لرونکي کسان (په ١ ډلبندۍ کې بيمه شوي) او ٢ هغه کسان چې له ٤٠ څخه تر ٦٤ کلونو پورې عمر لري او په روغتيايي بيمه (په ٢ ډلبندۍ کې بيمه شوي) کې يې نوملیکنه کړې وي. هغه خلک چې عمرونه يې د ٦٥ کالو څخه پورته وي دوی ملاتړ يا د نرسنګ پاملرنې ته اړتيا لري کولی شي د نرسنګ خدمتونه ترلاسه کړي، پرته له دې چې د ولې دلايل وړاندې کړي. هغه خلک چې عمرونه يې له ٤٠ څخه تر ٦٤ کلونو پورې وي چې دوی د لاندينې سرطان يا د عمر پورې اړوند ناروغيو (خانګړي ناروغيو) لکه د روماتايډ مفصلونو ناروغی له امله ملاتړ يا د نرسنګ پاملرنې ته اړتيا لري، دوی کولی شي د ټولنې د نرسنګ خدمتونه ترلاسه کړي او يوازې د اصلي لګښتونو يوه برخه ادا کړي.

خلک د ٦٥ کلنۍ عمر ته له رسېدو يوه مياشت وړاندې د نرسنګ پاملرنې کارت ترلاسه کوي. هغه خلک چې له ٤٠ څخه تر ٦٤ پورې عمر لري ملاتړ يا د نرسنګ پاملرنې ته د دوی د اړتيا له تاييد وروسته، دوی د نرسنګ پاملرنې د بيمې کارت ترلاسه کوي. د نرسنګ خدمتونو د ترلاسه کولو پر مهال کارت اړين دی، له دې امله هغه په خوندي ځای کې وساتئ.

٢. د معلوماتو برخې او د غوښتنې د ترسره کولو ځای

د نرسنګ خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره، په ټولنيزو مشورتي مرکزونو (ټولنيز عمومي ملاتړ مرکز) يا د نرسنګ پاملرنې بيمې خانګې ته د خپلې سيمې د بناروالۍ دفتر کې پوښتنه وکړئ او غوښتنه ترسره کړئ. د سلا مشورې لپاره غوښتنليکونه او غوښتنې د خدمتونو د غوښتونکي يا د کورنۍ د نورو غړو لخوا ترسره کيږي. د غوښتنليک د سپارلو وروسته، د ډاکټر د تصديق پر بنسټ د کورنۍ پلټنه به ترسره شي، او د غوښتونکي د ملاتړ او نرسنګ پاملرنې اړتياوو په اړه به پريکړه وشي (دې ته د نرسنګ پاملرنې اړتياوو کچه ويل کيږي). معمولاً د پريکړې خبرتيا له غوښتنې وروسته د ٣٠ ورځو په لړ کې استول کيږي. د نرسنګ خدمتونو ډولونه او

اندازه چې له هغوی څخه یو یې تاسو په یوه میاشت کې ترلاسه کولی شي د "نرسنګ پاملرنې اړتیاوو کچې" سره سم ټاکل کیږي.

۳. په کور کې خدمتونه او د آسانتیاوو خدمتونه

د نرسنګ پاملرنې بیمې لاندې وړاندې کېدونکي خدمتونه په دوه لویو ګروپونو "په کور کې خدمتونه" او "د آسانتیاوو خدمتونه." ویشل کیدی شي.

"په کور کې خدمتونه" کې د کور لیدنې پر بنسټ خدمتونه لکه د کور مرسته، په کور کې حمام، په کور کې بیا رغونه، او د بهر خدمتونه لکه د ورځې خدمتونه پاملرنه او د ورځې پر مهال سرپا د بیرته په ښنو درېدو خدمتونه شامل دي.

د "آسانتیاوو خدمتونه" هغو کسانو ته وړاندې کیږي چې د نرسنګ په آسانتیاوو کې بستري شوي وي. دا خدمتونه اړتیا وړ خدمتونو ته په پام سره په دري ببلابېلو ډولونو باندې ویشل کیږي. د ژوندانه مرستندویه خدمتونه چې عموماً د لوړ عمر لرونکو کسانو لپاره په نرسنګ کورونو کې (توکیو) چمتو کیږي، د بیا رغوني خدمتونه چې د خلکو د کور ته ستنېدو لپاره دي او عموماً د لوړ عمر لرونکو کسانو د روغتیایي خدمتونو په تاسیساتو (روکن) کې چمتو کیږي او هغه خدمتونه چې د هغو خلکو لپاره دي اوږدمهاله بستر پاتي کېدو ته اړتیا لري په اوږدمهاله روغتیایي پاملرنې تاسیساتو (ریویوګاتا بایوین) کې وړاندې کیږي.

د نرسنګ خدمتونو د ترلاسه کوونکو او د هغوی کورنیو سره د هغوی د غوښتنو په اړه تر مشوري وروسته، د نرسنګ ملاتړ متخصصین چې د پاملرنې مدیران (د پاملرنې مدیران) بلل کیږي، په جزئیاتو سره د نرسنګ پاملرنې پلانونه جوړوي، چې په هغې کې د خلکو لخوا د ترلاسه کولو وړ خدمتونه او د هغوی د ترلاسه کولو مهال ویش شامل وي. د خدمتونو کاروونکي او د هغوی کورنۍ کولای شي خپل د پاملرنې مدیران انتخاب کړي او کولای شي د اړتیا په صورت کې یې بدل کړي. که چېرې د پاملرنې پلان د خدمتونو د کارونکي د ژوند له طریقې سره سمون ونه لري یا کومې ستونزې رامنځته شي، کولای شو پلان اصلاح کړو، له دې امله، د دې لپاره تر هغه وخت پورې چې ستاسو رضایت ترلاسه شي، دا موضوع د پاملرنې له مدیر سره شریکه کړئ. تاسو کولای شئ د پاملرنې د مدیرانو د انتخاب په اړه د خپلې سیمه ییزې ښاروالۍ د نرسنګ پاملرنې د بیمې په دفتر یا د لوړ عمر لرونکو کسانو د سلا مشورې په مرکز کې خبرې وکړئ.

۵-۵ طبي معاينات او واکسينونه

ځيني وخت اوسپدونکي کولای شي هغه طبي معاينات ترسره کړي چې د دوی د سيمه ييز دولتي ښاروالۍ لخوا پلي کيږي. طبي معاينات د محدودو دور لپاره ترسره کيږي، له دي امله د خبرتيا له ترلاسه کولو وروسته، سپارښتنه کيږي چې په سمدستي ډول د پرې کېدو نېټه تاييد کړئ او په ټاکل شويو طبي مرکزونو کي طبي معاينات ترسره کړئ.

ماشومان کولای شي هغه واکسينونه ترلاسه کړي چې د دوی د سيمه ييز حکومت لخوا په وړيا ډول وړاندي کيږي. د دي سيستم موخې د يو شمېر ناروغيو پر وړاندي د ماشومانو ساتنه ترسره کول دي. په همدې حال کې، په ۱۹۹٤ کال د واکسينونو د مخنيوي کوونکي قانون پر بنسټ په اجباري ډول د واکسينونو ترسره کولو له بياکتني سره پايته ورسېدل. له همدې امله، والدين اوس کولی شي د ماشوم حالت، د هغه د حساسيت شتون او دا چې مخکې يې همدا واکسين ترلاسه کړی دی که نه، د کتلو وروسته پريکړه وکړي چې واکسين ترلاسه کړي دي او که نه. د ښاروالیو لخوا چمتو شوي واکسينونه د DPT (د ډيفتيريا، تور ټوخی [خوړجنه ټوخی]، او ټيټانوس درې ګونی واکسين)، پوليو، BCG (يوازې د هغو کسانو لپاره چې په ټوبرکلين غبرګون کې مثبت وي)، شړې، روبيلا، جاپاني انسيفالايټس، وايريسيلا، نيوموکوکس او د هيموفيلس انفلونزا ډول ب (Hib) لپاره دي. د دي واکسينونو د ترلاسه کولو عمر مشخص شوی دی. تاسو به د خپلې سيمه ييزې دولتي ښاروالۍ څخه د واکسينونو د ترلاسه کولو خبرتيا ترلاسه کړئ، له دي امله په مهربانۍ سره جزئيات د خپلې ښاروالۍ له دفتر څخه وغواړئ.

سربېره پر دي، وړيا واکسينونه او د ترلاسه کوونکي د اداينې په بدل کې د لويانو لپاره شته دي. د لا زياتو معلوماتو لپاره، په مهربانۍ سره د خپل سيمه ييز روغتيايي مرکز کې پوښتنې وکړئ.

۶-۵ که چېرې تاسو نشئ کولای طبي لګښتونه ادا کړئ

که تاسو له اوږدمهاله یا جدي ناروغۍ څخه کړېږئ او د طبي لګښتونو د اداینې وس نه لرئ، تاسو کولی شئ د روغتون د طبي درملنې د مشورې دفتر کې د یوې قضیې له کارکوونکي سره خبرې وکړئ. دلته د لوړ لګښت لرونکي طبي پاملرنې پور سیستم هم شته دی، د کوم په واسطه تاسو کولی شئ د شاوخوا دوه میاشتو لپاره ستاسو د لوړ لګښت طبي پاملرنې لګښتونو سره مساوي مقدار پور واخلئ تر څو چې ستاسو د لوړ لګښت طبي پاملرنې لګښتونه بیرته دا شوي نه وي. که چېرې تاسو عاید لرئ مګر په لنډمهاله توګه د پیسو ورکولو کې ستونزه لرئ، ستاسو سیمه ییزه د ټولنیزې هوساینې شورا د ټیټ سود عامه طبي لګښت پور سیستم وړاندیز کوي، نو مهرباني وکړئ د ارتیا په صورت کې د جزئیاتو په اړه پوښتنه وکړئ.

په ځینو ښاروالیو کې، هغه خلک چې د ملي روغتیا بیمې طرحې کې شامل شوي ځینې وختونه کولی شي د ځان لپاره دا داینې کمولو (یا معافیت) څخه کار واخلي، نو دا مشوره ورکول کیږي چې د جزئیاتو لپاره د خپلې سیمې ییزې ښاروالی په دفتر کې پوښتنه وکړي. سربېره پر دې، طبي مرستې د هغو خلکو لپاره شته دي چې د ژوند خوندیتوب تر لاسه کولو لپاره ارین شرایط پوره کوي. د نامعلوم لامل د ناڅرګندو ناروغیو لپاره او پرته له کومې ځانګړې درملنې، د ځان لپاره د اداینې برخه د ۳۴۸ ناروغیوقضیه کې په جزوي یا بشپړ ډول د عامه لګښتونو لخوا تر پوښښ لاندې نیول کیږي (د ۲۰۲۵ کال د اپریل تر میاشتې پورې) چې د دولت لخوا تاکل شوي چې درملنه یې ستونزمنه وي او زیات لګښت لرونکي طبي لګښتونو ته ارتیا لري. غوښتلیکونه د عامې روغتیا په مرکزونو او نورو کې منل کیږي، خو لومړی په مهرباني سره د ارتیا په صورت کې د ډاکټر سره مشوره وکړئ. همداراز، که چېرې تاسو په ساري ناروغۍ اخته شوي یاست، بېلابېل معاینات او د مرستې ډولونه شته دي، له دې امله ژر تر ژره د عامې روغتیا له مرکز څخه مشوره وغواړئ.

۵-۷ که چېرې تاسو رواني اضطراب لرئ

۱. له مختلف کلتور سره د ژوند کولو له امله اضطراب

یو شمېر اوږد مهاله اوسیدونکي شته دي چې د چاپېریال بدلونونو له امله چې ټولنه، کلتور او ژبه پکې شامل دي، په جاپان کې د ژوند کولو لپاره په فزیکي او ذهني توګه د سمون موندلو په برخه کې ستونزې لري. که چېرې ذهني اضطراب او فشار له درملنې یا پاملرنې پرته پرېښودل شي، کیدای شي د جدي رواني اختلال لامل شي. په زیاته کچه د الکولو او نشه یي توکو کارول هم کولای شي د رواني ختلال لامل شي.

۲. که چېرې اضطراب دوام ومومي، یوه متخصص ته مراجعه وکړئ

په روغتون کې بستر کولو دوه طریقې شته دي: په رضاکارانه ډول بستري کېدل، چې د اړوند شخص په رضایت پورې اړه لري، او د طبي پلوه محافظتي روغتون کې بستر کول، کله چې د رواني روغتیا یو ټاکل شوی ډاکټر دا ومني چې طبي درملنه او ساتنه اړینه ده او په روغتون کې بستر کولو لپاره د ناروغ د سرپرست رضایت ترلاسه کوي.

په روغتون کې بستر کولو دوه طریقې شته دي: په رضاکارانه ډول بستري کېدل، چې د اړوند شخص په رضایت پورې اړه لري، او د طبي پلوه محافظتي روغتون کې بستر کول، کله چې د رواني روغتیا یو ټاکل شوی ډاکټر دا ومني چې طبي درملنه او ساتنه اړینه ده او په روغتون کې بستر کولو لپاره د ناروغ د سرپرست رضایت ترلاسه کوي. د ځان ته د زیان رسولو یا نورو ته د زیان رسولو خطر په صورت کې، په روغتون کې په اجباري ډول د بستري کولو طریقه هم شته ده، چې له مخې یې ناروغ لږ تر لږه د دوه ټاکل شویو رواني روغتیا ډاکټرانو لخوا معاینه کولو وروسته د ولایت د والي د صلاحیت پر بنسټ په اجباري توګه بستر کیږي. په اجباري ډول په روغتون کې د بستري کېدو لګښتونه د دولت لخوا ادا کیږي. رواني اختلالات د روغتیایي بیمې لخوا تر پوښښ لاندې نیول کیږي، مګر ناروغان کولی شي له داسې سیسټمونو څخه هم کار واخلي چې د بهرنیو ناروغانو طبي لګښتونه په جزوي ډول د دولت لخوا ادا کیږي: د لوړې بیې طبي لګښت سیسټم د ملي روغتیا بیمې طرحې لاندې او د رواني ناروغانو لپاره د طبي پاملرنې مالي ملاتړ پروګرام د رواني اړخه معلولو کسانو لپاره د سیمه ییزو حکومتونو لخوا پرمخ وړل کیږي. هغه خلک چې د خپلې لومړنۍ مشورې وروسته د شپږو میاشتو ځخه ډیر وخت لپاره مشوري ترلاسه کوي کولی شي د رواني معلولیت سند لپاره غوښتنه وکړي، چې کیدای شي د مالیاتو کمولو او داسې نورو مواردو لپاره په شرایطو برابر وي. همدارازه، په ټولنیز ډول په پښو درولو لپاره ښوونیز امکانات شته دي. مهرباني وکړئ د اړتیا په صورت کې د لا زیاتو جزئیاتو لپاره له خپل ډاکټر یا عامې روغتیا مرکز ځخه پوښتنه وکړئ. د رورډیتوب اړوند، لکه په الکولو یا نشه یې توکو باندې رورډي کېدل، مهرباني وکړئ د رواني روغتیا او هوساینې له یوه مرکز یا عامې روغتیا له مرکز سره مشوره وکړئ.

۵-۸ په کور کې د معلولیت لرونکو ماشومانو لپاره د مرستې او روزنې آسانتیاوې

د معلولیت لرونکو ماشومانو او معلولینو اړوند مشورې باید د آسانتیاوو دفتر یا د سیمه ییزې ښاروالۍ د هوساینې برخې ته واستول شي. هغه والدین چې د رواني یا فزیکي پلوه معیوب ماشومان (د ۲۰ کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان چې رواني یا فزیکي ستونزې لري او دوی د ډاکټر لخوا تصدیق ته اړتیا لري) په کور کې را لویوي، دوی ته د ماشومانو د روزنې خانګړې مرسته ورکول کیږي. د لګښتونو د مرستې دا اندازه د معلولیت کچې ته په پام سره توپیر لري. که چېرې د معلولیت کچه شدیده وي، ماشوم ته پخپله په جلا ډول د معلول ماشوم د هوساینې د لګښتونو په موخه اداینه ترسره کیږي. د یادولو وړ ده چې دا لګښتونو دا مرسته د سرپرست په عاید پورې تړاو لري.

همدارنګه، د بیا په پښو درېدو د روزنې اسانتیاوې شته دي، چې په طبي پاملرنې، د ماشومانو پاملرنې او د معلولیت لرونکو ماشومانو په پالنه ټینګار کوي. په ټول هیواد کې داسې اسانتیاوې شته دي چې د فزیکي اړخه معلولیت لرونکو ماشومانو لکه هغه ماشومان چې سخت ذهني او فزیکي معلولیت لري، کاڼه، ړانده او ګونګ وي د ودې اړند معلولیت په برخه کې د پاملرنې وړاندې کولو کې تخصص لري.

که خلک په ورځني ژوند کې پاملرنې ته اړتیا ولري، د لنډ مهالې پاملرنې لپاره د مالي مرستې او مرستندویه وسایلو سربېره د کور مرستندویه لیږلو سیسټم هم شته دی. د دې پروګرامونو په برخه کې سلا مشورې یا غوښتنلیکونو استول باید د دولتي ښاروالۍ اداري یا د هوساینې اداري دفتر کې ترسره شي.

هغه کسان چې فزیکي معلولیت لري کولی شي د فزیکي معلولیت سند لپاره غوښتنه وکړي، هغه څوک چې د فکري معلولیت لرونکي وي کولی شي د فکري معلولیت سند لپاره غوښتنه وکړي او هغه کسان چې رواني ناروغي لري کولی شي د رواني معلولیت سند لپاره غوښتنه وکړي. مهرباني وکړئ د دې هر سند لپاره د غوښتنلیک څرنګوالي په اړه د معلوماتو لپاره د ښاروالۍ دولتي دفتر کې پوښتنه وکړئ. د معلولیت سند په ترلاسه کولو سره، یو څوک کولی شي د مالیاتو کمښت یا معافیت، د عامه ترانسپورت خدمتونو لپاره تخفیف او داسې نور موارد ترلاسه کړي، ځکه چې هغه خدمتونه چې یو څوک یې ترلاسه کولی شي په ځانګړې سیمه ییز صلاحیت او د سند ډول او درجې پورې اړه لري، چې تاسو یې باید د تصدیق د غوښتنلیک په وخت کې له خپلې سیمه ییزې اداري سره تایید کړئ.

۹-۵ ميندواري او د ماشوم پيدا کېدل

۱. کله چې ميندواري تاييد شي، د ميندوارۍ يو لارښود کتاب ترلاسه کړئ

وروسته له هغې چې ستاسو ميندواري د ډاکټر لخوا تاييد شي، د خپلې سيمه ييزې ښاروالۍ اداري ته مراجعه وکړئ، د ميندوارۍ د نوملیکني فورمه ډکه کړئ، چې په هغې کې نوم، د زيږېدو نېټه، د روغتون نوم او نورو موارد په ګوته کوي او د زيږون پر مهال د روغتيايي پاملرنې يو لارښود کتاب (د مور او ماشوم لپاره طبي سوابق) ترلاسه کړئ. په ورته وخت کې، د ميندوارو ښځو لپاره د طبي معاينې کارت ترلاسه کړئ. که څه هم د ميندوارو ښځو لپاره طبي معاينه بايد پخپله پيسې ورکړل شي، خو کله چې تاسو په ټاکل شويو طبي مؤسسو کې د طبي معاينې پر مهال خپل د معاياتو کارت وړاندې کړئ، نو تاسو کولای شئ د عامه مالي ملاتړ ترلاسه کړئ. دغه ټکلاري د ميندوارۍ پر مهال د مور او ماشوم روغتيا او د زيږون وروسته د ماشوم د روغتيا مديريت لپاره اړيني دي. سربيره پر دې، دغه ټکلاري مور او ماشوم ته وړتيا ورکوي چې وړيا طبي معاينې او واکسين ترلاسه کړي (چې په سيمه ييزې ښاروالۍ دفتر يا سيمه ييزې عامې روغتيا مرکز کې شتون لري).

۲. منظم طبي معاينات

د خپل ډاکټر لارښوونې تعقيب کړئ او هڅه وکړئ چې هم مور او هم ماشوم د زيږون پروسه په روغ او راحته حالت کې تجربه کړي. که تاسو کومه اندېښنه لرئ، په مهربانۍ سره په آزادانه ډول له خپل ډاکټر يا د عامې روغتيا له مرکز سره مشوره وکړئ.

۳. د ماشوم د زيږون او پاملرنې رخصتي

که چېرې يوه ښځه په يوه شرکت يا نورو ځايونو کې کار کوي، هغې ته به اجازه ورکړل شي چې له زيږون وړاندې او وروسته رخصتي وکړي. سربيره پردې، که چېرې دواړه والدين وغواړي چې د ماشوم پالنې رخصتي واخلي، په اصل کې، هغه پلار يا مور چې د يو کال څخه کم عمر ماشوم پالنه کوي کولی شي خپل کار ورکوونکي ته غوښتنه وکړي او هر يو کولی شي د ماشوم پالنې تر يو کال پورې رخصتي واخلي (د مور په حالت کې، دا د زيږون رخصتی سره يوځای کيدی شي ترڅو يو کال پورې شي). د دې سربيره، د "لنډمهاله کاري سيستم" شتون لري چې د کار ساعتونه د ورځې تر شپږو ساعتونو پورې محدودوي د عمومي قاعدې په توګه د هغو والدينو لپاره چې تر دريو کلونو پورې ماشومان پالنه کوي، او "د ماشوم پالنې رخصتي" چې د لومړني ښوونځي د دريم ټولګي تر پايه پورې د يو ماشوم لپاره په کال کې تر پنځو ورځو پورې اخيستل کيدی شي، او د دوو يا ډيرو ماشومانو لپاره په کال کې تر لسو ورځو پورې. په ياد ولرئ، که څه هم، دغه پروګرامونه هغو والدينو لپاره د پلي کېدو وړ نه دي، چې د هغوی د ګومارنې موده تر اوسه له يوه کال څخه نه وي اوښتې. که اړتيا وي، مهرباني وکړئ په خپل شرکت کې د شخصي يا کار چارو ځانګې څخه پوښتنه وکړئ.

٤. کله ماشوم پیدا شي

د خپل ماشوم د زیږون تصدیق پاڼه د خپلې سیمه ییزې ښاروالۍ دفتر ته د ١٤ ورځو په لږ کې وسپارئ. همداراز، ټاکل شوي ادارو ته د خپل ماشوم د زیږون راپور سپارلو سره (د عامې روغتیا مرکزونه او نورې اداري)، تاسو کولای شئ له کور څخه د عامې روغتیا د نرسانو د لیدنې خدمت څخه هم برخمن شئ.

د خپل ډاکټر لارښوونې وڅارئ او په منظم ډول طبي معاینات او واکسین ترلاسه کړئ. د ځانګړو نیټو او نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د عامې روغتیا په مرکز کې غوښتنه ترسره کړئ. مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې خپل د میندو د روغتیا لارښود کتاب د منظم طبي معایناتو او واکسین ناستي لپاره له ځانه سره ولرئ.

٥. کله چې ستاسو ما شوم له اوسط وزن څخه کم وي

د کم وزن لرونکي ماشومان چې وزن یې له ٢٥٠٠ ګرامو څخه کم وي باید د زیږون په ځای کې د عامې روغتیا په مرکز کې ثبت شي. که چېرې ماشوم د زیږون پر مهال له ٢,٠٠٠ ګرامه څخه کم وزن ولري او ډاکټر تشخیص کړي چې ماشوم نرسنګ خدمت ته اړتیا لري او باید په یوه ټاکل شوي روغتون ته بستر شي، د سرپرست د عاید پر بنسټ، طبي او نرسنګ لګښتونو یوه برخه یا په بشپړه توګه معاف شي.

٦. د میندو د روغتیا لارښود کتاب

ډاډ ترلاسه کړئ چې د میندو د روغتیا لارښود کتاب د ټولو ماشومانو پورې اړوند تکلاري او طبي معایناتو، واکسینونو، د ناروغۍ درملنې او داسې نورو مواردو لپاره وکاروئ. لارښود کتاب باید په خورا پام سره وساتل شي تر هغه چې ماشومان د لیسې او عالي لیسې زده کوونکي شي، ځکه چې دوی به په دې عمر کې د واکسین کولو لپاره په شرایطو برابر وي.

۷. د ماشوم د زیږېدو او پاملرنې جمعي ګټې

له ناروغۍ پرته، د درملنې بیمه د میندوارۍ او د ماشوم د زیږون لپاره نه پلي کیږي او ټول لګښتونه په بشپړه توګه ستاسو لخوا ادا کیږي. په روغتون کې د ماشوم د زیږون عادي لګښت د ۵۰۰,۰۰۰ څخه تر ۶۰۰,۰۰۰ ین پورې دی. په همدې حال کې، که چېرې تاسو په روغتیایي بیمه یا ملي روغتیایي بیمه کې نوملیکنه کړې وي، یا د یوه چا تر سرپرستۍ لاندې یاستئ، یا که چېرې میندوارۍ ځلور میاشتې یا له هغې زیات وخت وروسته مو ماشوم پیدا شوی وی، تاسو کولای شئ د زیږېدو او د پاملرنې د مجموعي ګټې چې ۵۰۰۰۰۰ ین دي، ترلاسه کړئ. په تصادفي توګه، کیدای شي تاسو دا ګټه هم ترلاسه کړئ که چېرې تاسو د میندوارۍ له ۸۵ ورځې وروسته په مړ ډول د ماشوم زیږون یا سقط تجربه کړئ.

میندواره میرمنې چې د ملي روغتیا بیمې په پروګرام کې شاملې دي کولی شي د خپلې سیمه ییزې ښاروالۍ په دفتر کې د زیږون او ماشوم پاملرنې یو اړخیزه ګټې لپاره غوښتنه وکړي او هغه میندواره میرمنې چې په خپل کار ځای کې په روغتیا بیمه کې نوم لیکنه کوي یا د یو چا تر کفالت لاندې وي، کولی شي د کار ځای له لارې د ګټې لپاره بیمه کوونکي ته غوښتنه واستوي. همدارازه، د مستقیمې اداینې یو پروګرام شته دی چې د هغې په مرسته طبي موسسې کولای شي د میندوارو میرمنو په استازیتوب د ګټو غوښتنه وکړي او ترلاسه یې کړي. لکه څرنګه چې ګټې په مستقیم ډول له بیمه کوونکي څخه د درملنې اداري ته لیږدول کیږي، اړینه نه ده چې له روغتون څخه د رخصت کېدو پر وخت د ماشوم د پیدا کېدو بشپړه لګښتونه ادا شي.

۸. د ماشوم د پیدا کېدو د لګښتونو په اداینه کې د ستونزې په صورت کې

په روغتون کې د ماشوم د پیدا کېدو پر مهال د بستر کېدو یو پروګرام شته دی چې په مرسته یې کم عاید لرونکي کسان چې د ماشوم د پیدا کېدو پر مهال بستر کېدو ته اړتیا لري، په ټاکل شویو روغتونو کې بستر شي. سربېره پر دې، د هوساینې خدمتونو ترلاسه کوونکي هم د ماشوم د پیدا کېدو مرسته ترلاسه کوي.

۹. پلان شوی میندواري ښه یا د پام وړ ده

په بهرنۍ هېواد کې میندواري او د ماشوم پیدا کېدل یوازې د ښځې لپاره نه، بلکې د اوږدمهاله مېشت کورنۍ د ټولو غړو لپاره یوه خوښي او مهمه پېښه ده. په همدې حال کې، که چېرې میندواري په ناغوښتل شوي ډول وي، یا کورنۍ د ماشوم د پیدا کېدو د لګښتونو د څرنګوالي په اړه اندېښنه ولري، نو په دې صورت کې به له روانې اړخه اضطراب ډېر زیات وي. په د پام وړ توګه، میندواري باید پلان شوي وي. ښځه او میړه باید د جنین د سقط یا عقیم کولو لپاره د اقدام ترسره کولو پر ځای د میندوارۍ د مخنیوي په برخه کې یو له بل سره همکاري وکړي. تاسو کولی شئ د میندوارۍ او وراثت په اړه د عامې روغتیا په مرکزونو (*) او د نسایی او ولادي علومو ځانګو او کلینیکونو (ډاکټرانو چې د زیږون د خوندیتوب قانون لخوا ټاکل شوي) کې د سقط او عقیم کولو په اړه پوښتنه وکړئ. (نارینه باید د یورولوژي ځانګې یا کلینیک ته مراجعه وکړي.)

په مهربانۍ سره د دې ډول سلا مشورو د لګښت او وخت د معلومولو لپاره له ځانګې یا کلنیک سره اړیکه ونیسئ.

له مور ځخه د ملاتړ قانون، د اجتناب نه منونکو دلایلو پر بنسټ د مور ځخه د ساتنې په موخه د میندوارۍ تر دوه ویشتمې اونۍ پورې د جنین سقط کولو ته اجازه ورکوي، مګر د هغه خطر له امله چې د ښځې ژوند ته یې باید د امکان تر کچې له دې کار ځخه ډډه وشي. دا هم د یادولو وړ ده چې د جنین سقط کول د روغتیایي بیمې لخوا تر پوښښ لاندې نه نیول کیږي. په همدې حال کې، هغه خلک چې د ژوند کولو لپاره اړین شرایط یا امکانات لري، په هغه صورت کې چې د دوی قضیه د زیږون د قانون پر بنسټ اجازه ولري، کولای شي طبي مرسته ترلاسه کړي.

* په یو شمېر حوزو کې روغتیایي مرکز د هوساینې دفتر ته ځیرمه موقعیت لري.


٦ څېړکی زده کړې

٦-١ په جاپان کې د زده کړو سیستم

په جاپان کې اجباري زده کړې له ٦ کلنۍ څخه پیل، شپږ لومړني کلونه او له ١٢کلنۍ وروسته دري کاله په عالي لېسه کې زده کړې شاملې دي. سربېره پر دې، دري کلنه عالي لېسه (د نیمه وخت دورو لپاره څلور کاله) او څلور کلن پوهنتونه شته دي. د دې ټولو ښوونیزو ادارو تعلیمي کال په اپریل میاشت کې پیل کیږي او د بل کال په مارچ میاشت کې پایته رسیږي.

سربېره پر دي، د ابتدايي ښوونځي څخه مخکې، د نرسري ښوونځي او وړکتونونه (د دري څخه تر پنځو کلونو پورې د ماشومانو لپاره د ښوونځي اسانتیاوې) شته دي چې د هغو والدینو په استازیتوب چې کار کوي، ناروغ وي یا له بل څه سره مخ وي، د ماشومانو پالنه ترسره کوي او همدارنګه د شپې په وخت کې د لوړو زده کړو لپاره د هغو خلکو لپاره ښوونځي چې د اجباري زده کړې موده یې پرته له دې چې ښوونځي ته ولاړ شي په بریالیتوب سره پایته رسولې دي. د اجباري زده کړو له بشپړولو وروسته، په بشپړونکو زدهکړو کې عالي لېسې او پوهنتونونه او پر دې سربېره ټخنیکي، حرفوي او متوسطه کالجونه شامل دی. هغه کسان چې غواړي له پوهنتون څخه له فارغ کېدو وروسته خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، کولای شي د ماسټرۍ په دوره کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

سربیره پر دي ، د هغو خلکو لپاره چې غواړي د ورځې په وخت کې کار وکړي او په مابنام کې زده کړه وکړي ، د نیمه وخت لپاره پرمختللي عالي کورسونه ، د مابنام پوهنتون کورسونه او له لرې واټن د زده کړو پوهنتونونه لکه د جاپان پرانیستی پوهنتون شته دی. د دې ادارو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، په دې لاربښود کتاب کې اړوندې پاڼې ته مراجعه وکړئ.


د معلمیت لرونکو لپاره ښوونځی
د ګډو لپاره ښوونځی
د ړندو لپاره ښوونځی
له ښوونځي څخه فراغت
اصلي کورس
پوهنتون
اصلي
متوسطه کالج
حرفوي کالج
د لوړو زده کړو تخنیکي کالج
د مکاتباتو کورس
نیمه وخت کورس
عالي لیسه
د بشپړ وخت لپاره کورس
حرفوي ښوونځی
له متوسطه پورته
له متوسطه ښکته
ابتدایه ښوونځی
ابتدایه
وړکتون
له ښوونځي وړاندې دوره
عمر تولګی
۲۵ ۲۴ ۲۳ ۲۲ ۲۱ ۲۰ ۱۹ ۱۸ ۱۷ ۱۶ ۱۵ ۱۴ ۱۳ ۱۲ ۱۱ ۱۰ ۹ ۸ ۷ ۶ ۵ ۴ ۳
۱۸ ۱۷ ۱۶ ۱۵ ۱۴ ۱۳ ۱۲ ۱۱ ۱۰ ۹ ۸ ۷ ۶ ۵ ۴ ۳ ۲ ۱

٦-٢ د نوملیکنې مرحلې یا د ابتدایي یا متوسطې لېسې بدلول

هغه ماشومان چې د شپږ کلنۍ عمر یې پوره کړی وي، د راتلونکي مالي کال له اپریل میاشتې وروسته په شپږ کلن ابتدایه ښوونځي کې زده کړې پیل کوي. له ابتدایه ښوونځي څخه له فارغ کېدو وروسته، ماشومان دري کلن متوسطه ښوونځي ته ځي. د بشپړونکي ملاتړ لاندې کسانو ماشومان چې د اوږد مهاله استوګنې حالت یې ترلاسه کړی وي، د تمایل په صورت کې کولای شي په متوسطه او ابتدایه دولتي ښوونځیو کې شامل شي. په مهربانۍ سره د خپلې ښاروالۍ د زده کړو له بورډ سره په دې اړه مشوره وکړئ. هغه ماشومان چې ١٦ کاله یا له هغې زیات عمر لري او اجباري زده کړې یې نه وي بشپړې کړې، کولای شي د شپې پر مهال په متوسط عالي ښوونځیو کې نوملیکنه وکړي، له دې کبله چې اړتیا وي په مهربانۍ سره د خپلې ښوونې او روزنې له سیمه ییز بورډ سره مشوره وکړئ.

۳-٦ په نرسرۍ او وړکتون کې نوملیکنه

د ټولو هغو ماشومانو لپاره چې له ۳ ځخه تر ۵ کلونو پورې عمر لري، نرسري، وړکتون او *kodomo-en* ته ورتګ په بنسټیزه توګه وړیا دی.

۱. د نرسري ښوونځی

د نرسري ښوونځي د هغو ماشومانو لپاره د ورځنۍ پاملرنې اسانتیاوې برابروي چې کورنۍ یې نشي کولی د دوی ته پاملرنه وکړي، ځکه چې مور او پلار دواړه کار کوي، ناروغان دي او یا په دې دول له نورو مواردو سره مخ دي، معمولا، د نرسرۍ ښوونځي د اتو اونیو ځخه د ماشومانو پالنه کوي تر ځو ابتدایي ښوونځي کې شامل شي، مګر دلته یو شمېر ښوونځي شته دي چې له یو کال ځخه کم عمر لرونکي ماشومان نه مني. ډیرې وخت د انتظار اوږده لېستونه وي، په داسي حال کې چې کیدای شي ماشومان د اړتیا یا بیرني والي پر بنسټ ومنل شي.

(۱) د نرسري ښوونځي ساعتونه

د نرسرۍ ښوونځي ته په پام سره کاري ساعتونه توپیر لري، مګر معمولاً دوی د اونۍ په ورځو کې د سهار له ۰۸:۳۰ ځخه تر ۵:۰۰ بجو پورې او د شنبې په ورځو د سهار له ۰۸:۳۰ د غرمې تر ۱۲:۳۰ پورې (په یکشنبه او عمومي رخصتیو کې بند وي) پرانیستي وي. که چېرې تاسو له ۰۸:۳۰ وړاندې یا له ۵:۰۰ وروسته پاملرنې ته اړتیا لرئ (له رسمي ساعتونو وروسته پاملرنه)، نرسري ښوونځي ته مراجعه وکړئ.

(۲) د نرسري ښوونځي فیسونه

درې کلنه دوره هغه دوره ده چې د هغې لپاره فیس وړیا دی، درې کلنه دوره د اپریل له ۱ نېټې وروسته د ماشوم تر درې کلنۍ پورې وي تر دې چې په وړکتون کې شامل شي. د خوړو او په ښوونځي کې د محفلونو لګښتونه د والدینو په غاړه دي. په همدې حال کې، عاید او د ماشومانو شمېر ته په پام سره، کیدای شي د مرستندوی خوړو له لګښتونو (جانبي خواړه، ناشتي او نور) ځخه ډډه وشي.

د ماشومانو لپاره له زیږېدو ځخه تر دوه کلنۍ پورې، مېشت شویو کورنیو ته له مالیې پرته لګښتونه معاف دي.

(۳) د نوملیکنې غوښتنلیکونه

که چېرې تاسو غواړئ خپل ماشوم د نرسرۍ په ښوونځي کې شامل کړئ، د خپلې سیمې ییز ښاروالۍ په دولتي دفتر کې د ماشومانو د موضوعاتو اړوند برخې ته غوښتنلیک وسپارئ. غوښتنلیکونه د کورنۍ د حالت راپور او د کار تصدیق پاڼې په ځیر اسنادو ته اړتیا لري. په همدې حال کې، وړاندې کېدونکي اسناد به توپیر ولري او د محاسبې لپاره اړین

مالي کال به هم د غوښتنليک شرايطو او وخت په پام کي نيولو سره توپير ولري، نو مخکي له دي چي دوی ته چمتووالی ونيسئ، د ماشوم پالنې چارو مسوول د سيمه ييزې ښاروالی دفتر د اړوند ځانګې وضاحت په دقت سره واورئ.

(٤) په نرسري ښوونځي کي ورځنی ژوند

له کور ځخه نرسري ښوونځي ته او له هغې ځای ځخه بيرته کور ته د ماشوم د ستنولو مسوولیت د هغه/هغې د والدينو يا سرپرست په غاړه دی. د داخلېدو لومړی اونۍ يا شاوخوا ته "د سمون موندلو اونۍ" ويل کېږي، په دې موده کي ماشوم په پيل کي يوازې د يوه ساعت لپاره ګډون کوي او بيا په تدريجي ډول وخت اوږدوي تر ځو چې هغه د نرسري ښوونځي ژوند سره عادت شي. والدين ډېری وخت يو د اړيکو کتابچه ترلاسه کوي، چې په هغې کي چې نرسري ښوونځی مهم معلومات مور او پلار ته رسوي او د دې برعکس، تر ځو د ماشوم لپاره لا ښه پالنه او پاملرنه برابره کړي. که چېرې تاسو په جاپاني ژبه د لوستلو او ليکلو په اړه ډېر ډاډمن نه ياست، کله چې تاسو ښوونځي ته د خپل ماشوم د راوستلو او بيرته ستنولو لپاره راځئ، د سهار يا ماښام په وخت کي له د ټولګي له ښوونکي سره خبري وکړئ تر ځو مهم موضوعات، لکه د ماشوم د روغتيايي حالت تاييد کړئ.

۲. ورکتون

ورکتون د هغو ماشومانو لپاره چې له دري کلنی ځخه د ابتدايه ښوونځي په عمر وي، د ښوونځي وړاندې دورې په توګه په نظر کي نيول کيږي او کيدای شي دولتي يا خصوصي اداره وي. معمولاً تدريس د ځلور ساعتونو لپاره د بيلګې په ډول د سهار له ۰۹:۰۰ ځخه د ماسپښين تر ۲:۰۰ پورې وي. د يو ورکتون کارول وړيا دي (د مياشتنۍ حد سره ¥۲۵,۷۰۰)، خو د داخله فيسونه، د ښوونځي بس فيسونه، د خوړو فيسونه او د ښوونځي د پيښو لګښتونه د والدين لخوا ورکول کېږي. په همدې حال کي، عايد او د ماشومانو شمېر ته په پام سره، کيدای شي د مرستندوی خوړو له لګښتونو (جانبي خواړه، ناشتي او نور) ځخه ډډه وشي.

د هغو ورکتونونو لپاره چې د ماشومانو او د ماشوم پالنې د ملاتړ نوي سيستم تابع نه وي، کيدای شي تاسو ته د فيسونو د معافيت لپاره تصديق اړتيا وي، يا ستاسو محلي حکومت د بېرته ورکړي لپاره طرزالعملونو ته اړتيا ولري. په همدې حال کي، عايد او د ماشومانو شمېر ته په پام سره، کيدای شي د مرستندوی خوړو له لګښتونو (جانبي خواړه، ناشتي او نور) ځخه ډډه وشي. همداراز، ځيني ښاروالی د خصوصي ورکتونونو لپاره مالي مرستې وړاندې کوي، نو مهرباني وکړئ د خپل استوګن ځای اړوند ښاروالی ځخه د جزئياتو غوښتنه وکړئ.

۳. تایید شوی *kodomo-en*

تصدیق شوی *kodomo-en* یو نوی ډول تاسیسات دي چې د ورکتونونو او ورځني پاملرني مرکزونو دندي ترسره کوي او د دوی دوارو د مثبتو یا قوت ټکو څخه ګټه اخلي. دي ته کولای شو ماشوم ته د پاملرني د متحدو تاسیساتو په سترګه وګورو. هر ماشوم کولای شي ګډون وکړي، دي ته له پام پرته چې آیا د دوی والدین کار کوي او که نه. همداراز، دوی د ماشوم راورلو په برخه کې ملاتړ وړاندې کوي، لکه د ماشوم راورلو اړوند اندیښنو په اړه د سلا مشورې وړاندې کول او د داسې یو ځای رامنځته کول چې هلته والدین او ماشومان وکولای شي سره راغونډ شي.

٦-٤ عالي لېسې ته تلل

١. د شمولیت آزموینې

په لېسه کې د شمولیت شرایط دا دي چې غوښتنلیک ورکوونکی باید د متوسطه ښوونځي څخه فارغ شوی وي، یا یې معادل یا لوړ علمي تایید شوي اسناد ولري او باید د هغه ښوونځي د شمولیت په آزموینو کې یې ګډون کړی وي او بریالی شوی وي. هغه کسان چې د متوسطه ښوونځي څخه معادل علمي یا له هغې لوړ اسناد ولري، معنی یې دا ده چې د بېلګې په توګه، هغه کسان چې په بل هېواد کې یې نهه کلنې زده کړه بشپړه کړې وي یا هغه کسان چې د متوسطه ښوونځیو د بشپړولو د کچې د تصدیق ازموینه کې بریالي شوي وي. هغه کسان چې له جاپان پرته نورو تابعیتونه لري کولای شي په دې آزموینه کې ګډون وکړي چې ١٥ کاله عمر ولري او د دې کال د مارچ میاشتې تر ٣١ نېټې پورې د نوملیکنې لپاره تصمیم ولري.

په ډېرې متوسطه ښوونځیو کې، د یو زده کوونکي راتلونکی مسیر، د بېلګې په توګه، کار یا نوره زده کړه، د ټولګي ښوونکي، د زده کوونکي او د والدینو ترمنځ د دري اړخیزو مشورو وروسته ټاکل کېږي، په داسې حال کې چې د زده کوونکي غوښتنې، وړتیا، علمي وړتیا، د کورنۍ اقتصادي وضعیت او نور په پام کې نیول کېږي. هغه زده کوونکي چې په بل هېواد کې له عالي لېسې څخه شوي وي، کیدای شي د دوی د زده کړو د ارزوني پر مهال له دوی څخه غوښتنه وشي چې له هغه ښوونځي څخه خپل د فراغت اسناد او فعالیت ترسره کولو تصدیق پاڼې وړاندې کړي.

٢. د زده کړو فیسونه

هغه کورنۍ چې له مشخصې اندازې څخه کم عاید لري، دې ته له پام پرته چې زده کوونکي په ملي، دولتي یا خصوصي عالي لېسه کې زده کړې ترسره کړي دي، کولای شي د حضور د لګښتونو مالي مرستې ترلاسه کړي. د دې لپاره چې د سوبټیا مالي مرستې ترلاسه کړئ، باید مالیاتو تصدیق پاڼه او د غوښتنې فورمه وړاندې کړئ. د بشپړ وخت د عالي لیسې زده کوونکو لپاره د حاضرۍ ملاتړ ډېر تر ډېره مرستې اندازه په میاشت کې ٩,٩٠٠ ین ده (په میاشت کې ٢,٧٠٠ ین د نیم وخت - عالي لیسې زده کوونکو لپاره، په میاشت کې ٥٢٠ ین د لرې دولتي زده کړې - عالي ښوونځي زده کوونکو لپاره ، ٩,٩٠٠ ین د نیم وخت او له لرې زده کړې خصوصي - عالي ښوونځي زده کونکو لپاره ده). په همدې حال کې، که چېرې د زده کړو فیس له پورته اندازې څخه کم وي، د سوبټیا د ملاتړ مالي مرستې د زده کړو تر فیس پورې محدودې کېږي. همداراز، د خصوصي عالي ښوونځیو د زده کړې فیسونو د پام وړ مالي فشار په پام کې نیولو سره، د ټیټ عاید کورنیو زده کوونکو ته چې خصوصي عالي لیسو کې زده کړې کوي د سوبټیا ملاتړ د مرستې د کورنیو عاید سره سم پورته کېږي. مهرباني وکړئ د زیاتو مرستو لپاره د غوښتنلیک څرنګوالي په اړه د معلوماتو لپاره په مستقیم ډول له ښوونځي سره اړیکه ونیسئ.

۳. لیږدول

که چېرې یو زده کوونکی وغواړي چې د خپل ښوونځي په لړ کې د خپلې کورنۍ د لیږد له امله، بل ښوونځي ته ولاړ شي، په مهربانۍ سره د ښوونځي له ښوونکي او نورو کسانو سره مشوره وکړئ، ځکه د هر ښوونځي شرایط یو له بل سره توپیر لري.

٦-٥ پوهنتون او نورو ځایونو ته تلل.

١ . په جاپان کې پوهنتون یا کالج ته د بهرنیانو د شمولیت لپاره لاندې لارې چارې شته دي:

(١) تاسو د بهرني زده کوونکي په توګه د شمولیت په آزموینه کې ګډون کوئ

(الف) هغه پوهنتونونه چې د شمولیت آزموینې یوازې د بهرنیو زده کوونکو لپاره ترسره کوي،

(ب) هغه پوهنتونونه چې د بهرنیو وګړو او جاپانیانو لپاره د شمولیت یو ډول آزموینې ترسره کوي، مګر د بهرنیو زده کوونکو د آزموینو پایلې په جلا ډول ارزوي.

(ج) هغه پوهنتونونه چې د بهرنیو او کورنیو زده کوونکو لپاره په ورته ډول د شمولیت آزموینې اخلي.

دا چې له پورته لارو چارو څخه کومه یوه به عملي شي، په هر پوهنتون کې توپیر لري.

همداراز یو شمېر پوهنتونونه شته دي چې د نړیوالو زده کوونکو لپاره (EJU) د جاپان په پوهنتون کې د شمولیت په آزموینه یا د جاپاني ژبې د مهارتونو په آزموینه کې (چې د جاپان د زده کړو د خدمت لخوا ترسره کیږي) ګډون کول الزامي دي. کیدای شي د شمولیت آزموینې سیستم بدلون ومومي، له دې امله په مهربانۍ سره جزئیات له هغه پوهنتون سره شریک کړئ چې تاسو غواړئ، پکې شامل شئ.

* د جاپان د زده کړو د تبادلې خدمت (JEES)
د JLPT برخه ټلیفون: ٠٣-٥٤٥٤-٥٢١٥

(٢) که چېرې تاسو فارغ شوي وئ یا غواړئ د یوې جاپانۍ عالي لېسې څخه فارغ شئ

په دې صورت کې، په عمومي ډول، تاسو د جاپاني په توګه د شمولیت په آزموینه کې ګډون کوئ. که چېرې تاسو ملي یا دولتي پوهنتون یا یو شمېر خصوصي پوهنتونونو ته غوښتنلیک استوئ، په پیل کې تاسو باید د پوهنتون د شمولیت په آزموینه کې د آزموینې په مرکزونو چې د هېواد په بېلابېلو برخو کې شته دي، ګډون وکړئ او بیا د همدې پوهنتون د شمولیت په آزموینه کې ګډون وکړئ. د پوهنتون د شمولیت په ګډه آزموینه کې د ګډون لپاره، تاسو باید د سپټمبر په پیل کې د غوښتنلیک فورمه ترلاسه کړئ او د پوسټ له لارې له غوښتنې وړاندې د اکتوبر په پیل کې د بانکي حوالې له لارې په آزموینه کې د ګډون کولو فیس ادا کړئ. دا آزموینه د جنورۍ میاشتې په پیل کې اخیستل کیږي. وروسته له دې، تاسو یوه پوهنتون ته غوښتنلیک استوئ. د هغو آزموینه ورکوونکو لپاره چې د اصلي ښاري سیمو څخه بهر دي، په پوهنتون کې د شمولیت په ګډه آزموینه کې د ګډون کول تر ټولو اقتصادي انتخاب دی، ځکه تقریباً د عمومي آزموینې له نیم لګښت څخه کم لګښت لري او هیڅ ډول د ټرانسپورټ یا استوګنځای لګښتونو ته اړتیا نشته ده.

هغه خصوصي پوهنتونونه چې له ګډو آزموينو ځخه په پوهنتون کي د شمولیت لپاره کار نه اخلي، دوی د شمولیت آزموینه د خپلو طریقو سره سم اخلي. سربیره پر دي، یو شمېر ملي، دولتي یا خصوصي پوهنتونه شته دي چې د شمولیت د سیستم سپارښتنه کوي. که چېرې په عالي لېسه کي د یوه زده کوونکي پایلې په پوهنتون کي د ارتیا وړ کچې ځخه لوړ وي، کیدای شي دا زده کوونکی سپارښتل شوی شمولیت ترلاسه کړي. همدارازه، که چېرې تاسو په جاپان کي له عالي لېسي ځخه هم فارغ شوي وئ، یو شمېر پوهنتونونه شته دي چې تاسو ته اجازه در کوي چې د بهرني زده کوونکي په توګه د شمولیت په ازموینه کي ګډون وکړئ، له دي امله په مهربانۍ سره جزئیات په مستقیم ډول له هغه پوهنتون سره چک کړئ چې تاسو غواړئ پکي زده وکړئ.

(۳) که چېرې تاسو له عالي لېسي ځخه فارغ شوي نه وئ

(الف) حتی هغه خلک چې د عالي لیسي ځخه فارغ شوي نه دي د پوهنتونونو، کالجونو او تخنیکي کالجونو لپاره د شمولیت ازموینې لپاره وړ ګڼل کیږي حتی که چېرې دوی د پوهنتون د شمولیت په ازموینه کي برياليي شي *. د دي ازموینې د ورکولو شرایط دا دي چې غوښتونکی باید د هغه کال د مارچ په ۱۶ یا د ۳۱ کلونو ځخه ډېر عمر ولري چې په هغه کي ازموینه اخیستل کیږي او باید د بشپړ وخت عالي لیسه یا تخنیکي کالج کي برخه وانخلي.

* په پوهنتون کي د شمولیت لپاره په شرایطو د برابرېدو آزموینه:

د پوښتنو لپاره، په مهربانۍ سره اړیکه ونیسئ: د ښووني او روزنې، کلتور، ورزش، ساینس او ټکنالوژۍ وزارت د ټول عمر په اوږدو کي د زده کړو د ترویج برخه، ټلیفون: ۰۳-۵۲۵۳-٤۱۱۱

(ب) هغه کسان چې ۱۲ کاله زده کړې یې په یوه نړیوال ښوونځي کي له یوه معتبر نړیوال بنسټ ځخه د تصدیق پاڼې په ترلاسه کولو سره پایته رسولي وی، کولای شي د پوهنتون د شمولیت په آزموینه کي ګډون وکړي.

* د لوېدیځو ښوونځیو او کالجونو اتحادیه (WASC)، د عیسوي ښوونځیو نړیواله اتحادیه (ACSI) او د اروپایي نړیوالو ښوونځیو شورا (ECIS) په ځیر نړیوالي تصدیق کوونکي اداري پکي شاملي دي.

(ج) هغه کسان چې په بل هېواد کي په داسي یوه تعلیمي اداره کي یوه دوره بشپړه کړي وي چې د هغه هېواد په ښوونیز نظام کي داسي مقام ولري چې د جاپان د متوسطه ښوونځي (په بله وینا، د ۱۲ کلونو ښوونځي معادل) سره برابر وي، کولی شي د پوهنتون کي د شمولیت په آزموینه کي ګډون وکړي.

(د) هغه کسان چې ۱۸ کلنۍ ته رسېدلي وي کولی شي د پوهنتونونو، کالجونو او تخنیکي کالجونو د شمولیت په ازموینو کې ګډون وکړي، که چېرې دوی د دغو ادارو د خپلواکي نوملیکنې د ورتیا د ارزوني له لارې د هغو کسانو د تعلیمي ورتیا معادل وپیژندل شي چې له متوسط بنوونځي یا عالي لېسې څخه فارغ شوي وي.

* د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ (UNHCR) د لوړو زده کړو پروګرام

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري (UNHCR) د لوړو زده کړو یو پروګرام (د بورسیې پروګرام) د پوهنتونو او بشپړونکو ادارو په همکارۍ د کډوالو لپاره وړاندې کوي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره، په مهربانۍ سره د UNHCR له دفتر سره د لاندې پتې له لارې اړیکه ونیسئ.

په جاپان کې د UNHCR نمایندګي

Minami Aoyama, Minato-ku, Tokyo ۱۱-۱۰-۶ ,Wesley Center

۱۰۷-۰۰۶۲، جاپان ټلیفون: ۰۳-۳٤۹۹-۲۰۱۱

۲ . له پوهنتون څخه له فارغېدو وروسته، زده کوونکی کولای شي د ماسټرۍ یا دوکتورا سند ترلاسه کولو لپاره بل تحصلي اداري ته لار وموميي.

٦-٦ د لوړو زده کړو تخنيکي او حرفوي کالیجونه

١. د لوړو زده کړو تخنيکي کالج

له متوسطه ښوونځي څخه له فارغېدو وروسته، زده کوونکی کولای شي له عالي لېسي سربېره د لوړو زده کړو تخنيکي کالج ته ولاړ شي. تخنيکي کالج د پوهنتون یا د ځوارلسم ټولګي لرونکي کالج په څېر د لوړو زده کړو یوه موسسه ده، چې د عالي لېسي فارغانو ته بشپړونکي پنځه کلنې زده کړې په لوړه کچه له تخصصي مهارتونو سره وړاندې کوي. تر ٢٠٢٦ کال پورې، په ټول جاپان کې ٥١ ملي، ٣ عامه او ٤ خصوصي لیسی شتون لري.پداسي حال کې چې ډېرې يې صنعتي پوړې اړوند ځانګې وړاندې کوي، د سوداګریز کښتی، دمدیریت معلوماتو او ډیزاین په برخو کې هم ځانګې شتون لري.د ملي لیسی لپاره د زده کړې فیسونه په ټول هیواد کې یو شان دي چې په کال کې ٢٣٤٦٠٠ ین دی (د ٢٠٢٦ سروی). ډېرې تخنيکي کالجونه د زده کوونکي لپاره لیلیې لري.

٢. حرفوي کالج

حرفوي کالج یو داسې پوهنځی دی چې موخه يې د واقعي ژوند یا کار لپاره د اړینو مهارتونو رامنځته کول او د عمومي زد ه کړو بڼه کول دي. حرفوي کالجونه اته رشتې لري: صنعت، کرهڼه، طب، حفظ الصحه، زده کړې او ټولنیزه هوساینه، عملي سوداګري، فېشن او کورني علوم، کلتور او آزاد هنرونه. دا بېلابېل کورسونه په پراخه کچه ټولنیزو اړتیاوو ته د ځواب ویلو لپاره ګڼ شمېر برخې تر پوښښ لاندې نیسي. ګڼ شمېر کورسونه شته دي چې له لارې کولای شئ عمومي اسناد یا له فراغت وروسته د عمومي اسنادو د ترلاسه کولو په موخه د شمولیت آزموینې ته په شرایطو د برابرېدو لامل کېږي. کولای شو حرفوي کالجونه د شمولیت اړینو اړتیاوو ته په پام سره په دري اصلي ډلبندیو باندې وویشو:

(١) عالي کورس (د لوړو زده کړو حرفوي کالج)

د شمولیت شرط له عالي لېسي یا د هغې معادل ښوونیزې اداري ځخه فارغت دی. هغه زده کوونکي چې د ښووني او روزنې وزارت د وزیر لخوا له مشخصو شویو حرفوي کالجونو څخه فارغېږي، په پوهنتون کې د شمولیت لپاره د غوښتنې ترسره کولو لپاره په شرایطو برابر دي.

(۲) حرفوي کورس (حرفوي پوهنځی)

د شمولیت شرط له عالي لېسې یا د هغې معادل بنسټ څخه فارغېدل دي. د مسلکي او حرفوي پوهنځیو فارغان چې خانګړي شرایط لري، لکه لږ تر لږه دوه کاله زده کړې، هغوی ته د (د حرفوي هنرونو معادل) سند ورکول کیږي. همداراز هغه کسان چې په حرفوي پوهنځیو کې یې تخصصي کورسونه بشپړ کړي دي (یوازې هغه کسان چې دوه یا له هغې څخه د زیاتي مودي لپاره په روزنه کې و او د درسي ټولګي د ساعتونو مجموعي اندازه له ۱۷۰۰ څخه زیات وي یا یې ٦۲ کریډټ تر لاسه کړي وي) کولای شي پوهنتون ته د لېږد لپاره غوښتنلیک وسپاري.

(۳) عمومي کورس

د شمولیت لپاره هیڅ ډول خاص شرایط په نظر کې نه دي نیول شوي. دا کورسونه د هر هغه چا لپاره پرانیستي دي چې غواړي زده کړې وکړي.

(٤) د شمولیت آزموینه

د اسنادو له پلټلو سربېره، ډیری حرفوي کالجونه له متقاضیانو څخه غواړي چې په مرکو کې ګډون وکړي، مقاله واستوي یا د کورس په آزموینو کې ګډون وکړي. همداراز ګڼ شمېر کالجونه شته دي چې سپارښتل شوی شمولیت پلی کوي. که چېرې تاسو د بهرني زده کوونکي په توګه د حرفوي پوهنځي د شمولیت په آزموینه کې ګډون کوئ، له تاسو سره به په پوهنتون کې د شمولیت په ځیر چلند وشي. که چېرې تاسو د جاپان د عالي لېسې یا د لوړو زده کړو د حرفوي کالج له فراغت وروسته (یا په نږدې وخت کې د فراغت په صورت کې) د شمولیت په آزموینه کې ګډون وکړئ، نو باید په مستقیم ډول د مسلکي پوهنځي د شمولیت په آزموینه کې ګډون وکړئ.

٦-٧ که چېرې تاسو د ښوونځي د لګښتونو په ادا کولو کې له ستونزو سره مخ یاست

کله چې د لا زیاتو زده کړو لپاره چمتووالی نیسئ، د شمولیت ازموینو لپاره د زده کړې تر څنګ، د خپلو کورنۍ سره د زده کړې فیسونو او نورو لګښتونو په اړه له ازموینو مخکې خبرې اترې وکړئ او موخیز پوهنځی په خورا احتیاط سره وټاکئ. د هغو زده کوونکو لپاره چې په ربښتیا هم د کورنۍ او شخصي سرچینو له لارې د ښوونځي لګښتونه په ورکولو کې ستونزه لري، په لاندې ډول د یو شمېر ادارو لېست راوړل شوی دی چې بورسونه یا پورونه آسانتیا برابروي. هغه خلک چې علاقه لري باید په مسقتیم ډول له دې ادارو څخه پوښتنې وکړي. سربېره پر دې، یو شمېر سیمه ییز حکومتونه، پوهنتونونه او نور د بورسیې سیستمونه لري، له دې املې د هغوی په اړه د پوښتنو له ترسره کولو څخه ډډه مه کوئ. همداراز دا هم امکان لري چې په هره ښاروالۍ کې د ټولنیزې هوساینې د شورا د هوساینې د پور سیستم له لارې د زده کړو لپاره پیسې په پور واخلئ. دا ډول پورونه د عالي لیسې او له هغې څخه د پورته زده کوونکو لپاره د لاسرسي وړ دي.

د اداري نوم	په شرایطو برابر ترلاسه کوونکی/اندازه	پوښتنې ګروپرنې
له کډوالو سره د مرستې مرکز (RHQ)د زده کړو او روزنې مالي مرسته (Grant)	هغه کسان او د هغوی کورنۍ چې د بشپړونکي خوندیتوب لاندې دي .زده کوونکي له ابتدایه ښوونځي څخه تر پوهنتون پورې (د پوهنتون او عالي لیسې زده کوونکي باید په کار بوخت زده کوونکي وي) مجموعي اندازه (¥ ۲۰.۰۰۰-¥۱۰۰.۰۰۰)	د RHQ دفتر ټلیفون: ۰۷۸-۳۶۱-۱۷۰۰ د Kansai د ځانګې دفتر ټلیفون: ۰۷۸-۳۶۱-۱۷۰۰
د جاپان د زده کوونکو د خدمتونو اداره (JASSO)، چې مخکې د جاپان د سکالرشیف بنسټ و) (پور)	د پوهنتون د زده کوونکو لپاره د لومړۍ ډلبندۍ سکالرشیف د مالي لګښتونو مرسته (۲۰۱۳ مالي کال)، له فراغت وروسته د سود له ګټې پرته بیرته ورکول کیږي ملي او دولتي پوهنتونونه: په کور کې ژوند کول: ¥۴۵.۰۰۰ له کور څخه لرې ژوند کول: ¥۵۱.۰۰۰	په مهربانۍ سره له خپل پوهنتون څخه د غوښتنلیک د شرایطو په اړه پوښتنې وکړئ.

د اداري نوم	په شرايطو برابر ترلاسه کوونکی/اندازه	پوښتنې ګروپرنې
	خصوصي پوهنتونونه: په کور کي ژوند کول: ۵۴.۰۰۰¥ له کور څخه لرې ژوند کول :۶۴.۰۰۰¥	
	دويمه-کټګوري سکالرشيف له سود سره د بيرته اداينې وړ پور) د زده کوونکي د نوملیکنې په صورت کي له سود پرته) ملي، دولتي او خصوصي پوهنتونونه : مياشتنی فيس: له ۲۰۰۰۰ ين څخه تر ۱۲۰۰۰۰ ين پورې (د ۱۰۰۰۰ ين په زياتوالي سره)	

(د ۲۰۲۶ کال پورې)

۸-٦ کله چې تاسو غواړئ بهر زده کړې وکړئ

ځینې کسان چې تر بشپړونکي ملاتړ لاندې دي او د اوږدمهاله استوګنې حالت یې ترلاسه کړی وي، کیدای شي په بهر کې د کورنۍ غړي یا خپلوان ولري او غواړي خپل کورنۍ غړي هغو هیوادونو ته د زده کړې لپاره واستوي. په دې حالت کې، اړینه ده چې د اړوند هیواد له سفارت سره مخکې له مخکې اړیکه ونیسئ ترڅو د کډوالۍ د تګلارو په اړه معلومات ترلاسه کړئ، ځکه د په دې برخه کې د هر هېواد تګلارې توپیر لري.

په ټوله کې له هېواد ځخه بهر د زده کړو د لګښتونو د پوره کولو لپاره ځلور لارې (د زده کړو لګښت، د پرواز لګښت، د ژوند تیرولو لګښتونه او نور) شته دي:

(الف) له بهرنۍ حکومت ځخه سکالرشیفونه

(ب) د جاپان له حکومت ځخه سکالرشیفونه

(ج) د خصوصي سکټور سکالرشیفونه او

(د) خپلواک صندوقونه

له دې ډلې، په اصولي ډول د متقاضیانو لپاره له (الف) ځخه تر (ج) پورې په شرایطو برابرېدل تر هغو کسانو پورې محدود دی چې د جاپان تابعیت لري او ترلاسه کوونکي د متقاضیانو له مینځ ځخه ټاکل کیږي. د خپلواکو صندوقونو ځلورمې ډلبندی ته په پام سره، په دی کې د هر ځه لپاره پخپله د ترتیباتو جوړول لکه د پوهنتون ټاکل او د وروستۍ پریکړې ترسره کول شامل دي. همدارازله هېواد ځخه بهر د زده کړو ډولونه توپیر لري. د بیلګې په توګه، کیدای شي تاسو د جاپاني پوهنتون کې خپل ځای ساتلو په ترڅ کې په بهر کې زده کړې وکړئ (د تبادلې زده کوونکي په توګه، د رخصتۍ په مهال بهر کې زده کړې او نور) یا له جاپان ځخه د عالي ښې له فراغت وروسته له د بل هېواد په پوهنتون کې شامل شئ. د نوملیکنې ترسره کولو تګلارې به په دې ډلونو پورې تړاو ولري. سربېره پر دې، د بهرنۍ ژبې په توګه د انګلیسي نمرې (TOEFL) په متحده آیالاتو او استرالیا کې د پوهنتون لپاره د انتخاب کېدو په پروسه کې یو مهم اړخ ګڼل کیږي.

همدارازیو شمېر هېوادونه بهرنیو زده کوونکو ته اجازه نه ورکوي چې نیمه وخت کار ترسره کړي، له دې امله د دې دورې لپاره په سم ډول د مالي پلان جوړول اړین دي. په هر حال، که چېرې غواړئ له هېواد بهر زده کړې وکړئ نو له لاندې ادارو سره اړیکه ونیسئ.

پوښتنې ګروپرنې:

د جاپان د زده کوونکو د خدمتونو اداره (JASSO)	تلیفون: ۰۴۵-۹۲۴-۰۸۱۲
http://www.jasso.go.jp۲.	
د جاپان - متحده آیالاتو بشونیز کمیسیون (USA)	تلیفون: ۰۳-۳۵۸۰-۳۲۳۱
د کانسای امریکایي مرکز (USA)	تلیفون: ۰۶-۶۳۱۵-۵۹۷۰
د بریتانیا شورا (UK)	تلیفون: ۰۳-۳۲۳۵-۸۰۳۱
د جرمني د عملي تبادلاتو خدمت (Germany)	تلیفون: ۰۳-۳۵۸۲-۵۹۶۲

۹-٦ د جاپاني ژبې زده کړې

له هر څه وړاندې، ستاسو لپاره اړینه ده چې پریکړه وکړ چې غواړئ په کومه کچه په جاپاني ژبه وړتیا ولرئ. تاسو باید د خپلې اوسنۍ وړتیا او موخې سره سم یو ښوونځی او مواد د خپلو جاپاني ګاونډیو او په کار کې د خلکو سره خبرې کول، د عالي لیسې یا پوهنتون ته وده ورکول، د خپلې دندې لپاره ځانګړي اصطلاحات زده کول، یا د کتابونو او ورځپاڼو لوستل پر بنسټ وټاکئ. که چېرې تاسو په کافي اندازه وخت او پیسې ولرئ، یو غوراوی دا دی چې د جاپاني ژبې تعلیمي تاسیساتو ته لاړ شئ چې د جاپاني ژبې زده کړې (یعني د جاپاني ژبې ښوونځي یا ښوونځي ته د پوهنتون د ننوتلو ازموینې چمتو کولو لپاره) د ودې په موخه د ټولنې لخوا تصدیق شوی وي. په جاپاني ژبه د یوه معتبر ښوونځي د ټاکلو پر مهال، د جاپاني ښوونځیو په اړه د جاپاني ژبې د زده کړې د ټولنې معلومات ګټور دي. تاسو کولای شئ د جغرافیوي سیمې، د کورس فیس او نورو مواردو په څیر شرایط ولیکئ.

(http://www.nisshinkyo.org/english/index.html)

د دې جاپاني ژبو ښوونځیو د زده کړو کلنۍ فیس په اوسطه ډول له ۷۰۰,۰۰۰ تر ۹۰۰,۰۰۰ پورې دی. په ټوله کې دوی ګڼ شمېر ټولګي لري، له دې امله د کار پر مهال مطالعه کول هم زیاتو هڅو ته اړتیا لري.

که چېرې تاسو غواړئ له جاپاني ژبې ښوونځي پرته په بل ځای کې زده کړې وکړئ، په ډیرې سیمو خصوصي اداري او رضاکاران شته دي چې په وړیا ډول یا یوازې د درسي موادو د لګښت پر بنسټ په جاپاني ژبه باندې تدریس کوي. ببلابېلې لار چارې شته دي، له هغې کور ته مراجعه کول، د ښوونځي په ځیر زده کړې چې په هغې کې د شمولیت آزموینو لپاره مطالعه شامل ده او د یکشنبې په و رځو یا مازدیګر پر مهال د سیمه ییزې ټولنې له مرکزونو څخه د زده کړو لپاره کار اخیستل شامل دي. د دې ښوونځیو او سازمانونو په اړه، تاسو ته سپارښتنه کیږي چې په دقت سره د داسې عواملو په پام کې نیولو سره چې ستاسو د استوګنې ځای، موخې او د مطالعې سره سمون لري، غوره وکړئ. که چېرې تاسو نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ د خپل سیمه ییز ولایتي یا د ښاروالۍ دولتي دفتر یا د سیمه ییزې نړیوالې تبادلې اتحادیې د نړیوالو چارو برخه کې پوښتنې وکړئ.

سربېره پر دې، RHQ په جاپانۍ ژبه د زده کړو سلاکاران لري چې د درسي موادو، په ځانګړو سیمو کې په جاپاني ژبه د تدریس کېدونکو ټولګیو او په جاپاني ژبه د زده کړو په اړه تر بشپړونکو ملاتړ لاندې کسانو پوښتنو ته ځواب ورکړي، چې د اوږد مهاله استوګنې حالت یې

ترلاسه کړی وي. د جاپاني ژبو رضاکاره ډلو او عمومي سیمه ییزو ادارو په ملاتړ سره، RHQ پر دي سربیړ تر بشپړونکي ملاتړ لاندې کسانو ته د جاپاني ژبې اړوند معلومات راټولوي او وړاندې کوي. په مهربانۍ سره د پوښتنو لپاره لاندې ځایونو ته مراجعه وکړئ:

پوښتنې ګروپړنې:

د جاپاني ژبې د زده کړو د ترویج لپاره ټولنې ټلیفون: ۰۳-۶۳۸۰-۶۵۵۷

له کډوالو سره د مرستې مرکز، د آسیایي خلکو د زده هوساینې او زده کړو لپاره بنسټ

مرکز ټلیفون: ۰۳-۳۴۴۹-۷۰۱۱

د کنسای د ځانګې دفتر ټلیفون: ۰۷۸-۳۶۱-۱۷۰۰

۷ څېړکی ټکرونه، اورلګېدنه، امبولانسونه

۷-۱ ټکرونه او غلا

که چېرې تاسو د تاوتریخوالي قرباني وئ یا مو ترافیکي پېښه کړې وي، له پولیسو سره اړیکه ونیسئ (ټلیفون: ۱۱۰). په ټلیفون کې آرام اوسئ او خپل نوم په روښانه ډول ووایئ، څه پېښه، چېرته او کله رامنځته شوې ده. ۱۱۰ شمېره وړیا ده او په مستقیم ډول تاسو له پولیسو سره نښلوي. کله چې تاسو له یوه دولتي ټلیفون څخه کار اخلئ، تاسو سکې یا له وړاندې اداینې کارت ته اړتیا نه لرئ. کیدای شي یو شه نظر دا وي چې خپل نوم، پته او د نېردې ودانۍ نوم ولیکئ چې کولی شي په لوی هیرګانا یا رومن لیکونو کې د کاغذ په یوه پاڼه کې د نښې په توګه کار ورکړي او خپل تلیفون ته نېردې یې کېږدي تر څو تاسو له کور څخه د پولیسو سره د اړیکو نیولو پر مهال د ویرې احساس ونه کړئ.

که چېرې غله له تاسو څخه کوم څه غلا کړي وي، په سمدستي ډول د پولیسو تر ټولو نېردې غرفې (KOBAN) ته خبر ورکړئ یا د پولیسو له ۱۱۰ شمېرې سره اړیکه ونیسئ او د جرم راپور ثبت کړئ. راپور به د پولیسو په پلټنو کې یو مهم سند وي، له دې امله د غلا شوي څیز جزئیات او نور موارد ولیکئ. د بیمه شویو توکو اړوند، ستاسو لخوا د جرم په اړه د وړاندې شوي راپور د منل کېدو شمېره وغواړئ او د بیمې له شرکت څخه د ادعا لپاره پیسې وغواړئ. که چېرې تاسو یو څه هیر یا له لاسه ورکړئ، د له لاسه ورکولو راپور له پولیسو سره ثبت کړئ. که چېرې کارت نغدي یا د کریډټو وي، په سمدستي توګه د اعتباري کارت بانک یا شرکت ته خبر ورکړئ. که چېرې په سمدستي ډول دوی ته خبر ورنه کړئ، د دې امکان شته دی چې ستاسو پیسې وکارول شي. که چېرې تاسو خپل پاسپورټ، د استوګنې کارت یا د استوګنې د حالت تصدیق پاڼه له لاسه ورکړئ، پولیسو ته خبر ورکړئ او د خبرتیا شمېره ترلاسه کړئ، چې تاسو یې باید د بیاځلي صادرولو د مرحلو د ترسره کولو پر مهال اړونده کار کوونکو ته وسپارئ.

۲-۷ ترافیکي پیښې

۱. له پولیسو سره اړیکه ونیسئ. له "۱۱۰" شمېرې سره اړیکه ونیسئ یا د شتون په صورت کې په مستقیم ډول د پولیسو ځیرمه غرمه کې پولیس چارواکي ته خبر ورکړئ.

۲. پولیس به د پیښې ځای وپلټي.

۳. نوم، پته، مخاطب، د پلیټ شمېره، د بیمې شرکت او نور هغه موارد چې له پیښې (لکه موټر چلوونکی او نور) سره تړاو لري، مشخص کړئ.

٤. د ترافیکي پیښې تصدیق پاتې چې د زیان د جبران او د بیمې د ادعا د غوښتنې لپاره اړینه ده، د موټر د خوندي چلولو له مرکز څخه ترلاسه کړئ. د غوښتنلیکونو فورمې د پولیسو په مرکزونو او غرفو کې د لاسرسي وړ دي.

٥. که چېرې تاسو په پیښه کې ټپي شوي وئ او فکر کوئ دا یوازې یو کوچنی ټپ دی، د معاینې لپاره ډاکټر ته مراجعه وکړئ.

٦. که چېرې یو ځوک ټپي وي نو له دوی سره مرسته وکړئ. که چېرې امبولانس ته اړتیا وي، "۱۱۹" ډایل کړئ او له یوه امبولانس سره اړیکه ونیسئ.

که چېرې تاسو د ترافیکي پیښې اړوند کومه ستونزه لرئ، تاسو کولای شئ د ولایت د پیښو یا د سیمه ییزې ښاروالی د سلا مشورې له دفتر څخه لاربنوونې ترلاسه کړئ.

د جاپان د قانوني ملاتړ مرکز د ترافیکي پیښو په اړه سلا مشوره وړاندې کوي (ریزرف کول اړین دي). شرایطو او حالتونو ته په پام سره دوی د محکمې د لګښتونو لپاره هم له وړاندې ادعا ترسره کوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ او د اړوندې سلا مشورې خدمت وپلټئ.

*د جاپان د قانوني ملاتړ مرکز: http://www.houterasu.or.jp/

۷-۳ اورلګېدنه

د اطفايي له مرکز سره اړيکه ونيسئ.

د اور لګېدنې د رامنځته کېدو په صورت کې، په لوړ غږ سره خپلو ګاونډيانو ته خبر ورکړئ او د اطفايي له مرکز سره اړيکه ونيسئ تر څو د اور مړه کولو موټر را وغواړي. "۱۱۹" يې شمېره ده.) کله چې تاسو اړوندې برخې يا چارواکي ته ورغلئ، آرام اوسئ او په روښانه ډول ووايئ چې چېرته (ستاسو ملکيت يا ساختمان) کې اورلګېدنه رامنځته شوې ده او دا چې هلته څه شی دي.

۷-٤ ناڅاپي ناروغي يا زيان رسېدل

له يوه امبولانس سره اړيکه ونيسئ

د ناڅاپي ناروغی يا زيان رسېدو په صورت کې له "۱۱۹" سره اړيکه ونيسئ او يو امبولانس وغواړئ. که چېرې زيان رسېدل يا ناروغي کمه وي، د ټکسي يا شخصي موټر په واسطه روغتون ته ولاړ شئ. له "۱۱۹" سره د اړيکې پر مهال آرام اوسئ او په روښانه ډول ووايئ چې حالت بيرنی دی، څه پېښ شوي دي، چېرته (ستاسو پته)، نوم او خپل د ټلېفون شمېره چې اړيکه مو پرې ټينګه کړي ده هم ووايئ. که چېرې د کورنی غړي يا نور شته وي، د امبولانس د غږ په اورېدو سره له دوی څخه وغواړئ چې ولاړ شي او هغوی ته لارښوونه وکړي. له امبولانس سره د اړيکې نيول پر مهال هغه کسان چې د درملنې تصديق پاڼه يا د ناروغ ای ډي کارت (د هغه روغتون لپاره چې په منظم ډول ورځې) بايد چمتو ولري.

۷-۵ د کاز لیک یا سوري کېدل

۱. ستاسو په کور کي د ګاز لیک کېدل خورا خطرناک دي. هغه ګاز چې تاسو یې په کور کي کاروئ، یو مشخص بوی لري، له دې امله کله چې په ګاز کي کومي ستونزي ته مو پام شو، ګاز خاموش کړئ، کړکۍ پرانیزئ او په کور کي اور یا برېښنا هیڅ سویچ مه روښانوئ. دا خطر هم شته دی چې ګاز د اور لوبې، روښانه سګرټو، لایټر او نورو له امله که څه هم کوچني وي، اور واخلي او انفجار وکړي. د هوا د تصفیه کولو وسایلو یا ایرکنډیشن څخه کار مه اخلئ.

۲. د خپل ګاز په میټر کي اصلي خای مشخص کړئ او خاموش یې کړئ.

۳. په کورونو کي دوه ډوله ګاز کارول کیږي: ال پي (LP) ګاز (پروپان ګاز) او سیټي ګاز. سیټي ګاز د هوا څخه سپک دی، له دي د سوري کېدو په صورت کي په چت کي را جمع کیږي. کړکۍ پرانیزئ او اجازه ورکړئ چې تازه هوا راشي. پروپان ګاز له هوا څخه دروند دی، له دي امله دورازه پرانیزئ او له بورس او نورو شیانو سره یې وباسئ.

٤. که چېرې تاسو د ګاز لیک کېدو ته پام شو، هر وخت د رخصتیو ورځو او د شپې پر مهال د ګاز تر ټولو نږدې شرکت ته خبر ورکړئ. د ال پي ګاز په صورت کي د سلنډر خوله بنده کړئ او په سلنډر باندې له لیکل شوي شمېرې سره اړیکه ونیسئ.

۸ څپرکی طبیعي ناورینونه (آفتونه)

۸-۱ زلزلي

جاپان هغه هېواد دی چې په زیات کچه زلزلي تجربه کوي. د ۱۹۹۵ کال د لوی هانشین-اواجی زلزلي او د ۲۰۱۱ کال د لوی ختیځ جاپان زلزلي څخه ارزښتناک درسونه زده کولی شو، چې په یوه شیبه کې یې بې شمېره قیمتي ژوندونه او شتمنی ویجاړي کړي، زمور لپاره مهمه ده چې تل ذهني او مادي چمتووالی ولرو تر څو زیانونه تر لږه حده پوري محدود کړو.

۱. د مقابلې لپاره ورځنۍ اقدامات

(۱) په خپل کور کې خوندي ځای وګورئ. (د فرنیچرونو تر څنګ خطرناک ځایونه لکه د جامو الماری چې کیدای شي را ولویږي.)

(۲) له دري ورځو لپاره د څښاک اوبه زیرمه کړئ (په ورځ کې د هر کس لپاره له ۲ څخه تر ۳ لیترونو پوري).

(۳) یو بکس یا د بیرني حالت لپاره غوټه برابره کړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې د کورنۍ ټول غړي د هغوی د ساتني له ځای څخه خبر دي. مهم شیان چې باید په داسې یوه بستي کې وساتل شي، د بېلګې په توګه، یوه څراغ، بیټری، د څښاک اوبه، خوراکي توکي، د لیږد وړ رادیو، نغدي پیسې (د ۱۰¥ سکې به د عامه تلیفونونو لپاره ګټوري وي)، د پیژندنې سندونو کاپي، پاسپورټونه، قیمتي شیان (لکه د بانک کتابونه)، د اور بتی یا لایټر، شمعې، د لومړنی مرستې کټ (هغه کسان چې ناروغی لري باید دوا هیر نکړي)، د خوندیتوب خولی او د بیرني حالت خولی، دستکشي، جرابې او زیرپیراني، د ژمي جامې، د اوبو ضد شیټ او رسی شامل دي.

(٤) د خپل کور فرنیچرونه د اوسپنیزو نیوونکو وسیلو په واسطه کلک کړئ تر څو خراب نشي.

(٥) په کرکیو، کوچنیو الماریو او کابنیټونو باندې د ماتېدو پر وړاندې مقاومت لرونکی فلم ونښلوئ، تر څو د ښیښو له خپرېدو څخه مخنیوی وکړي.

(٦) د بیرني حالت او د هغه شخص د ټلیفون شمېري ولیکئ چې ستاسو په ژبه باندې خبرې کوي.

(۷) د وتلو سیمه ییزو ځایونو او تر ټولو نږدې روغتون ته لاري وګورئ (د وتلو د ځایونو په اړه له وړاندې د خپل سیمه ییزې ښاروالی څخه پوښتنه وکړئ).

۲. کله چې زلزله وشي

(۱) که چېرې تاسو له کور ځخه بهر یاستئ، له هر څه وړاندې د خپل ځان د خوندیتوب په اړه فکر وکړئ او تر ټولو نږدې خوندي ځای ته ولاړ شئ.

(۲) که چېرې تاسو د کور دننه وئ، ګاز یا منقل چې تاسو کار تري اخلئ او د پخلي نور وسایل چې کیدای شي د اور لګېدنې لامل شي، خاموش کړئ. که چېرې اور لګېدلی وي، نو هغه په سمدستي ډول د اور خاموش کوونکي ډبي په وسیله مړ کړئ.

(۳) په خوندي ډول د وتلو څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره دروازه پرانیزئ.

(٤) هڅه وکړئ چې د تلویزیون، رادیو، ټلیفون او نورو وسایلو له لارې د زلزلې په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

(٥) په ویریدلي حالت کې له ودانی څخه مه وځئ. کله چې لرزه تر یو کچې پورې کمه شوه، خپل د بیرنې حالت بکس را واخلئ، له خپل سر څخه د خوندیتوب د خولې په واسطه ساتنه وکړئ او آزادې فضا ته ولاړ شئ.

(٦) د خپلې کورنۍ د غړو او ګاونډیانو تر څنګ پاتې شئ او یو د بل په کنټرول کولو سره په چټکی د وتلو ځای ته ولاړ شئ.

(۷) که چېرې تاسو موټر چلوئ، په ناڅاپي ډول له بریک نیولو څخه ډډه وکړئ. کله چې تاسو غواړئ د سړک کنډ اړخ ته ولاړ شئ، نو په تدریجي ډول چټکتیا کمه کړئ. د ګازو یا د لوړ فشار لرونکي ګاز تاسیساتو یا د پلي تګ کوونکو پل ته ځیرمه مه درېږئ..

(۸) که چېرې تاسو د یوه اوږده سړک په اوږدو کې پلی قدم وهئ، مرکز ته حرکت وکړئ، که چېرې تاسو په یوه سوداګریزه یا تفریحي سیمه کې یاستئ د ساین بورډونو، د برښنا او اوبو وسایلو او د کرکی د هیندارو په ځیر وسایلو ته چې د لویدلو امکان لري، ډېر پام وکړئ.

۳. له زلزلې وروسته

له زلزلې وروسته د کوچنیو ټکانونو او سونامي خطر شته دی. تر خپل وسه پورې هڅه وکړئ چې له رادیو، ورځپاڼو، تلویزیون او نورو څخه کره معلومات ترلاسه کړئ. که تاسو د لوبې زلزلې وروسته کور ته په راستنېدو کې پاتې راغلئ، اړوند کسانو، شرکت، ښوونځي او نورو اندېښمنو خواوو ته د خپلې کورنۍ د خوندیتوب او د تخلیې ځای په اړه خبر ورکړئ.

٤. د آفتونو لپاره د ټلیفوني پیغامونو خدمت (ټلیفون: ۱۷۱)

که چېرې طبعي آفت رامنځته شوی وي، کیدای شي د آفت له سیمې سره د ټلیفون له لارې اړیکه نیول ستونزمن وي. په دې صورت کې، تاسو کولای شئ د ناورینو لپاره د ځانګړو ټلیفوني پیغامونو څخه کار واخلئ. دا د غږیز پیغام د تختې یو ډول دی. یو شخص د ناورین په سیمه کې د کورنۍ د خوندیتوب او نورو په اړه معلومات ثبت کوي او خلک په نورو سیمو کې کولای شي پیغام واوري. همداراز د ناروین په سیمه کې خلکو ته د پیغام استولو امکان شته دی. NTT خلکو ته خبر ورکوي چې د ټلیفوني پیغامونو دا ډول خدمتونه د ټلویزیون یا رادیو له لارې یې پیل کړي دي. د کارولو لپاره "۱۷۱" ډایل کړئ او په جاپاني ژبه د لارښوونې په څارولو سره، پیغام ثبت کړئ، یا هغې ته غوږ ونیسئ.

٥. په ځو ژبو باندې د ناورین په اړه ګټور معلومات

په جاپان کې د ژوند په اړه د ګټورو معلوماتو سربېره، په بېرنیو شرایطو لکه طبعي ناورینونو او نورو کې د اړینو اقداماتو په اړه په لاندې ویب سایټ کې معلومات وړاندې کوي.

د بهرنیو وګړو ځخه په ورځني ژوند کې د ملاتړ پورټل.

https://www.moj.go.jp/isa/support/portal/index.html

۲-۸ طوفان او سیلاب

۱. د طوفان او سیلاب لپاره چمتو کېدل

په جاپان کې له اوږې ځخه تر مني پورې ګڼ شمېر طوفانونه وي او ځینې وخت شدید بادونه او سیلاب رامنځته کوونکي بارانونه ګڼ شمېر زیانونه د ځمکې د بنوییدو یا سیلاب په ډول رامنځته کوي. د شدیدو بادونو او سیلاب رامنځته کوونکو بارانونو په اړه باید لاندې لارښوونې په نظر کې ونیسئ:

(۱) د کور شاوخوا وګورئ او هر ډول اړینې رغونې او د پیاوړي کولو چارې ترسره کړئ تر څو د امکان تر کچې پورې زیان کم کړئ.
(۲) کړکۍ د بسته بندۍ یا وینل پټې سره تقویه کړئ او د شټون په صورت کې دروازې او د طوفان دروازې بندې کړئ.
(۳) د کثافاتو سطلونه، د ګلدانۍ ګلونه، ګانې او نور شته توکي د ودانۍ په برنډه کې وساتئ یا یې د کور دننه راوړئ تر څو د شدید باد پر مهال د هغوی له شنل کېدو ځخه مخنیوی وشي.
(٤) د تلویزیون آنټن او نور شیان د لرګي د وسایلو په واسطه پیاوړي کړئ.
(٥) د کور شاوخوا د اوبو د وتلو لارې له هر ډول اضافي توکو ځخه پاکې کړئ او په دې لارو کې راټولې شوې دوړې او ناوې پاکې او بنه والی پکې راولئ.
(٦) که چېرې په داسې سیمه کې ژوند کوئ چې هلته د اوبو د راټولېدو امکان وي، د امکان تر کچې پورې فرنیچرونه، برښنایي توکي او نور لوړ ځای ته ولیږدوئ.
(۷) لکه ځرنګه چې امکان لري، برښنا پرې شي، د روښانه کولو ځراغ، د لیږد وړ رادیو او نور اړین وسایل په داسې ځای کې کېږدئ چې کورنۍ ټول غړي یې د ځای په اړه پوه شي.
(۸) د بیړني حالت وسایل چمتو کړئ او په آسانۍ سره د لاسرسي وړ ځای کې یې کیږدئ.
(۹) د وتلو تر ټولو نږدې ځای او لار وګورئ.

د ښاروالۍ دولتي دفترونه، د اور وژنې مرکزونه او د سیمه ییزې انجینرۍ دفترونه (په هره سیمه کې نومونه توپیر لري) د خطر نقشې لري چې د ایستلو ځایونه او لارې ښیي، چې د سخت باران په صورت کې د ځمکې ښویدنې خطر شتون لري، نو مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې وګورئ مخکې له دې چې تاسو په هغه حوزه کې چې تاسو اوسیږئ خوندي یاست او ټول اړین احتیاطي تدابیر ونیسئ.

۲. که چېرې طوفان راشي

(۱) په شدید باد کې بهر مه وځئ. که چېرې تاسو واقعاً اړ یاست چې بهر ولاړ شئ، د خوندیتوب له جامو یا ډبلې خولۍ څخه کار واخلئ.

(۲) د برېښنا له پرې شویو پایو او ځوړنده مزو څخه ځان لرې وساتئ.

(۳) د اوبو او هوا حالاتو ته ډېر پام وکړئ او د سپارښتنې یا وتلو د امر په صورت کې، په چټکۍ سره ووځئ. په ځانګړې ډول، هغه کورنۍ چې لوړ عمر لرونکي، ناروغ یا نوي زیږیدلي ماشومان لري، باید په چټکۍ سره ووځي.

۸-۳ د اورلګېدنې او زلزلې بیمه

که چېرې تاسو د غلا، اورلګېدنې یا د طوفان د زیانونو له امله د مالیاتو د کموالي یا د اداینې د ځنډولو ادعا لرئ، تاسو به د ناورین - د قرباني تصدیق پانې ته اړتیا ولرئ. د بنارووالی په دولتي ادارو، د پولیسو او اطفایې په مرکزونو کې د غوښتنې فورمې شته دي. د اقتصادي ستونزو سربیره چې د اور، طوفان یا سیلاب زیانونو په پایله کې رامینځته کیدی شي، د روانې اړخه بدې پېښې هم رامنځته کیږي. که چېرې ستاسو په کور کې اور ولګیږي او د ګاونډیو ملکیتونو ته زیان رسوي، تاسو هم د رامنځته شوي زیان مسوول یاست. تاسو یوازې اړ نه یاست چې د اور وژنې احتمالي سرچینو څخه په دوامداره توګه خبر اوسئ، بلکې د اور او زلزلې دواړه بیمې کې نوم لیکنه وکړئ تر څو د ناورینونو لپاره چمتووالی ونیسئ، چې کیدای شي هر وخت پېښ شي.

د ناورین بیمې ډیری ډولونه شته دي چې انتخاب یې کړئ، مګر تاسو کولی شئ ټبلابېل ډولونه یوځای کړئ، لکه د اور، طوفانونو، بادونو، سختو بارانونو او داسې نورو څخه رامنځته شوي زیانونو بیمې. په یاد ولرئ چې د اور وژنې بیمه د زلزلې په پایله کې رامنځته شوی اور تر پوښښ لاندې نه نیسي، نو سپارښتنه کیږي چې د زلزلې په بیمه کې هم ګډون وکړئ. همداراز، که چېرې تاسو د اسوګنې کمپلیکس یا اپارتمان کې ژوند کوئ، تکولی شئ د اپارتمان اوسیدونکو جامع بیمه هم ترلاسه کړئ. د نورو جزئیاتو لپاره، د بیمې په شرکت کې پوښتنې وکړئ.

۸-٤ د ناورين د قرباني تصديق پاڼه

که چېرې ستاسو کور يا ملکيت د طبيعي ناورين لکه اور يا زلزلې له امله زيانمن شوی وي، د خپلې سيمه ييزې ښاروالۍ دفتر يا د اور وژنې مرکز ته مراجعه وکړئ تر څو د ناورين د قرباني تصديق لپاره د غوښتنليک فورمه ډکه او وسپاري. د سيمې له پلټلو وروسته، تاسو ته به د ناورين د قرباني تصديق پاڼه درکړل شي. د ناورين د تصديق پاڼې هغه اسناد دي چې د ناورين له امله د رامنځته شوي زيان او د يو چا کور او ملکيت ته د زيان اندازې ثبوت وړاندې کوي. له تاسو څخه به وغوښتل شي چې نه يوازې د بيمې اداينو او مالياتو تخفيفونو ادعا کولو پرمهال د ناورين قرباني تصديق پاڼه، بلکې د ښاروالۍ د نورو ښېلابېلو اقداماتو لکه د طبيعي پېښو قربانيانو سره د مرستې ګټې او د ښوونځي د زده کړې فيس کمولو لپاره هم وړاندې کړئ.

د غوښتنې تګلارې ښاروالۍ ته په پام سره توپير لري، له دې امله، په مهربانۍ سره د دې کار له ترسره کولو وړاندې د دې کار د ترسره کولو څرنګوالۍ تاييد کړئ.

۹ څېړکی مالیات، تقاعد، بیمه

۹-۱ د مالیې ډول

دوه ډوله یعنې ملي او سیمه ییز مالیات شته دي.

هغه کسان چې په جاپان کې ژوند کوي او له یوه کال څخه زیات په جاپان کې پاتې کیږي، د دوی ملیت ته له پام پرته، دوی اړ دي چې مالیات ادا کړي. تر بشپړونکي ملاتړ لاندې کسان هم باید مالیات ادا کړي. ملي مالیات دولت او سیمه ییز مالیات ولایت او سیمه ییزې ښاروالۍ ته ادا کیږي. اصلي ملي مالیات د عاید مالیه ده که چې معمولاً په سرچینه کې له معاش څخه ګرځول کیږي. اصلي سیمه ییز مالیات د سیمه ییز حکومت لخوا د هغې حوزې د صلاحیت پر بنسټ چې تاسو پکې ژوند کوئ، ګرځول کیږي، دا ولایت او ښاروالۍ د استوګنو مالیات دي. په جاپان کې په عاید باندې د مالیاتو اندازه د معاش په زیاتېدو سره ډېریږي.

همدارازه، د عوایدو او د مالیاتو ټبلاټبل کسرونه شته دي، نو حتی د ورته معاش سره، هغه مقدار چې شرکت یې په سرچینه کې کموي او د کور اخیستلو معاش به د کسرونو ډولونو او مینځپانګو سره توپیر ولري. د مالیاتو د اداینې د تصدیق پاڼې وړاندې کول، د کډوالو د سیمه ییزو خدمتونو یا د حقوقي چارو د اداري او نورو لپاره لکه د غځولو لپاره غوښتنه یا د استوګنې د حالت بدلون، د دایمي استوګنې اجازې او د تابعیت ترلاسه کولو لپاره اړین دي. د دې پر ځای چې د داسې ډول موقعیت د رامنځته کېدو په صورت کې وویریږئ او د یوه کار د ترسره کولو لپاره ناوخته شي، ډاډ ترلاسه کړئ چې خپل مالیات له ټاکل شوې نېټې څخه وړاندې په خپل وخت ادا کړئ. سربېره پر دې، که چېرې تاسو خپلو والدینو، میرمنې یا هغو اولادونو لپاره چې په خپل هېواد کې ژوند کوي، پیسې استوئ، له ځیرمه مالیاتي اداري څخه پوښتنه وکړئ تر څو وګورئ چې آیا تر کفالت لاندې د کورنۍ غړو لپاره د کسرونو لپاره په شرایطو برابر یاستئ او که نه.

۹-۲ د مالیې ادا کول

د مالیاتو د وروستۍ اظهارنامې په دوام او د عاید په بدل کې د مالیاتو د اداینې لپاره او د اوسېدونکو لپاره مالیات تشریح شوي دي.

۱. په منبع کې ګرځول کېدونکي مالیات

د هغو خلکو په اړه چې د یوه شرکت لپار کار کوي، د دوی د میاشتنۍ معاش څخه په سرچینه ګې د کال د وروستي معاش د ادا کولو پر مهال د کال د پای په تعدیل سره ګرځول کیږي.

(په میاشتنۍ ډول ګرځول کېدونکي مالیات)
د میاشتنۍ معاش څخه په سرچینه کې د عایداتو مالیې اندازه او داسې نور د معاش عاید لپاره د مالیاتو د جدول پر بنسټ دي.

(د کال د پای تعدیل)
ځرنګه چې په ټول عایداتو باندې د عاید مالیه چې باید د کال لپاره وضع شي او د میاشتنۍ معاش څخه په سرچینه کې د عایداتو د مالیاتو ټوله اندازه چې د میاشتنۍ تنخوا څخه په منبع کې ګرځول کیږي، یو له بل سره سمون نه لري، د اړتیا وړ اضافي یا زیاتې اداینې په وخت کې د هر کال د وروستي معاش پر بنسټ محاسبه کیږي. دا د کال د پای تعدیل ګڼل کیږي.

په عاید باندې د مالیاتو په محاسبه کې کولای شو بېلابېل کسرونه لکه د میرمنې، تر کفالت لاندې او معلولیت لرونکو کسانو، په ځانګړې توګه د ژوند د شریک لپاره په کسرونو کې د بیمې بېلابېل حقونه پلي شي.
له دې املې، کله چې د پای د کال د تعدیل وخت را ورسیږي، د معاش د بیمې د حقونو او د ژوند د شریک لپاره د ځانګړو کسرونو فورمې به وویشل شي. په دې فورمه کې اړین نومونه ولیکئ او که چېرې تاسو د ژوند بیمه یا بل ډول بیمه لرئ، دا د ژوند بیمې، زلزلې بیمې او داسې نورو لپاره د کسر سند سره یوځای وسپارئ. سربیره پر دې، که چیرې په توضیحاتو کې کوم بدلون راغلی وي باید د تړاو لرونکي لپاره د معاش اخیستونکي د کسرونو په اعلامیه کې، لکه د کال په جریان کې د ماشوم زیږون یا د تړاو لرونکي واده پکې شامل کړئ او اړینه ده چې جزئیات او د دې بدلون اعلامیه وسپارئ.

سربېره پر دې، هغه کسان چې کلنی معاش یې له شل میلیونه ینو څخه زیات دي او هغه کسان چې د کال په لړ کې له دوو یا زیاتو ځایونو څخه معاش ترلاسه کړی وي، دوی د کال په پای کې د تعدیل لپاره په شرایطو برابر نه دي.

۲. د عايد اعلاميه

هغه کسان چې متفرقه يا معاملاتو د لاربونې له دفتر څخه عايد لري، هغه کسان چې له دوو يا زياتو ځايونو څخه معاش ترلاسه کوي او هغه کسان چې له معاش پرته ¥۲۰۰,۰۰۰ عايد لري (د ژباړې فيسونه، د درس ورکولو فيس او نور) بايد وروستۍ مالياتي اظهارنامه ډکه کړي. دا کسان بايد خپل عايد د تير کال لپاره (له جنورۍ - ډسمبر) پورې د خپلې سيمې له صلاحيت لرونکي مالياتي اداري سره د فبروري له ۱۶ د مارچ تر ۱۵ پورې هر کال او اضافي ماليات په يوه مالياتي اداره کې اعلان کړي. کيدای شي اداينې د بانکي ليږد له لارې ترسره شي.

د وروستۍ مالياتي اظهارنامې لپاره د غوښتنې فورمې د مالياتو اداري د معلوماتو په برخه کې شته دي، مګر د هېواد مالياتي اداري ويب سايټ کې هم يوه برخه شته ده چې تاسو کولای شئ له لارې يې خپله مالياتي اظهارنامه په آنلاين ډول چمتو او واستوئ. تاسو بايد په سرچينه کې د ګرځول شويو مالياتو تصديق پاڼې مهر او موم ډول چمتو کړئ او هغه کسان چې کيدای شي د کسر غوښتنه وکړي، تاسو بايد د هر ډول کسرونو لپاره د اړتيا وړ اسناد ضميمه کړئ. که چېرې تاسو خپل مالياتي اظهارنامه د مالياتو په اداره کې چمتو کړئ، کار کوونکي به ستاسو پوښتنو ته ځواب درکړي، مګر تاسو بايد پخپله مالياتي اظهارنامه بشپړه کړئ. په لاندې حالتونو کې، کله چې تاسو وروستۍ مالياتي اظهارنامه وړاندې کوئ، امکان لري چې د مالياتو بيرته اداينه شته وي. د ځانګړو شرايطو او نورو مواردو په اړه د لا زياتو جزئياتو لپاره، په مهربانۍ سره د مالياتو له نږدې اداري ځخه پوښتنې وکړئ.

(۱) که د هغه کس طبي لګښتونه چې دا اعلاميه وړاندې کوي او د هغوی کورنۍ غړي چې ورته مالي سرچينې شريکوي، په مجموع کې له ¥۱۰۰,۰۰۰ څخه زيات وي (يا که د کال ټول عايد له ۲ ميليونه ين څخه کم وي، نو د دې مجموعې ۵%)، د دې اندازې څخه زيات مقدار د عايداتو څخه د تخفيف په توګه حساب کيدی شي.

(۲) که چېرې د ناورين، غلا يا اختلاس له امله خپلې پانګې ته زيان ورسوئ، تاسو کولای شئ ثابته اندازه د عايد کسر په توګه وغواړئ. دا د تلف کېدو د زيانونو د کسر په توګه پيژندل کيږي.

(۳) که چېرې تاسو ځمکه يا کور پيرلی وي، يا مو په کور کې په آساسي ډول رغونې ترسره کړې وي، پور او ځانګړي شرايط ولرئ، کولای شو د پور باقي مانده د مالياتو د کسر په توګه محاسبه کړو.

۳. د اوسپدونکو مالیات

د اوسپدونکو مالیات ستاسو د تیر کال له عاید څخه د هغې سیمه ییزې ښاروالۍ د اداري لخوا اخیستل کیږي چې تاسو د تیر کال د جنورۍ په ۱ نېټه هلته ژوند کاوه. له دې امله که چېرې تاسو اوس دنده او عاید نه لرئ، خو په تیر کال کې مو عاید درلود نو تاسو به په مالیاتو کې شامل شئ. کله چې د استوګنو مالیات اخیستل کیږي، یوه ادعا په مستقیم ډول د پستې له لارې ستاسو کور ته استول کیږي او تاسو کولای شئ د ښاروالۍ په دولتي اداره، بانک یا د پستې په اداره کې یې ادا کړئ. که چېرې تاسو په یوه شرکت کې ګومارل کېږئ، په عاید باندې د مالیاتو په څېر شرکت به اوسپدونکو مالیات په مستقیم ډول ستاسو له معاش څخه وګرځوي او ستاسو لپاره به یې ادا کوي.

هغه کسان چې په عاید باندې د مالیاتو اظهارنامه یې وړاندې کړي ده او د یوه شرکت کار کوونکي یا نیمه وخت کار کوونکو ... دي چې له معاش پرته بل عاید نه لري او ګومارونکو د هغوی د معاش راپور سیمه ییزې ښاروالۍ ته سپارلی وي، دوی د اوسپدونکو مالیاتي اظهارنامې ته اړتیا نه لري. په هر حال، د بیلګې په توګه هغه خلک چې د خپلو والدینو د مرستو او ملاتړ پر بنسټ ژوند کوي او په داسې کورنۍ کې ژوند نه کوي چې په هغې کې تر کفالت لاندې کسان وي (د بیلګې په توګه، هغه مشران خلک چې په خپلواکه توګه ژوند کوي او هغه محصلین چې له کور څخه لرې په خپلواکه توګه ژوند کوي)، یا هغه خلک چې په تېر کال کې هیڅ عاید نه درلود، اړتیا لري چې د استوګنې د مالیې راپور وړاندې کړي. که چېرې تاسو دا‌ډه نه یاست چې آیا د مالیاتي اظهارنامې وړاندې کولو ته اړتیا لرئ او که نه، په مهربانۍ سره د خپلې سیمه ییزې ښاروالۍ له دفتر څخه پوښتنه وکړئ.

۹-۳ وروستۍ مالياتي اظهارنامه

د وروستي مالياتي راپور لپاره، ماليه ورکونکي خپله د تېر کال د جنورۍ له ۱ څخه تر دسمبر ۳۱ پورې عايد او د هغه عايد پر بنسټ د مالیې اندازه اعلانوي او دغه راپور د خپلې استوکنې په سيمه کې د قضايي صلاحيت لرونکي مالياتي دفتر ته سپاري. دغه مراحل په مالياتي دفتر کې د راتلونکي کال له فبروريۍ ۱۶ څخه تر مارچ ۱۵ پورې ترسره کيږي. تاسو به د سرچيني پر ځای د مالیې تخفيف اسنادو، که اړتيا وي بېلابېلو اسنادو، رسيدونه او مهر ته اړتيا ولرئ.

۹-٤ که چېرې تاسو ماليه نشئ ادا کولای

له ټاکل شوي نېټې څخه وړاندې د مالياتو د نه ادا کولو په صورت کې، د باقياتو جريمه اضافه کيږي. په همدې حال کې، که چېرې تاسو د ناروغۍ يا کار او بار د بندېدو له امله نشئ کولای ماليه ورکړئ، تاسو کولای شئ د مالياتو د ورکولو د ځنډولو لپاره د مالياتو اداري ته مراجعه وکړئ. ستاسو د غوښتنې د تاييد په صورت کې کولای شئ د بيلګې په ډول خپل مالیات د يوه کال په لړ کې په قسطونو سره ادا کړئ او په دې وخت کې د باقياتو جريمه تر يوې کچې پورې معاف کيږي. د مالياتو د نه ورکولو دلايلو ته په پام سره، د اوسيدونکو د مالياتو لپاره په قسطونو يا د ځنډول شويو اداينو طرحې شته دي. د اړتيا په صورت کې په مهربانۍ سره د خپلې سيمه ييزې بنارواليۍ د مالياتي برخې څخه پوښتنه وکړئ.

۹-۵ په جاپان کې د دولتي تقاعد سیستم

په داسې حال کې چې دا مورد له یو شخص څخه تر بلې پورې توپیر لري، مګر د عمر په زیاتېدو سره ډېر کم امکان لري چې د ځوانۍ په څیر کار وکړو او مور د عاید د ترلاسه کولو د کمښت له خطر سره مخ کېږو. د جاپان د دولتي تقاعد حقونه د یوه ټولنیز سیستم په توګه یو مهم رول ترسره کوي، چې په مرسته یې خلک کولای شي چې د تقاعد د کلونو په لړ کې د امکان تر کچې پورې له مالي اړخه د خوندیتوب احساس وکړي.

د جاپان د دولتي تقاعد سیستم د هر فرد د وندو راټولولو او بیا ورته د پیسو بیرته ورکولو پر بنسټ نه دی، بلکې، دا سیستم پر دې ولاړ دی چې له مشرانو ځخه د ځوان نسل لخوا ملاتړ کیږي، په دې سیستم کې د اوسني کارکوونکي نسل وندې د مشرانو نسلونو د تقاعد د ادینو لپاره کارول کیږي.

په جاپان کې له ۱۹۸٦ کال راپدیخوا د بهرنیاو په ګډون د ټولو هغو کسانو لپاره چې له ۲۰ ځخه تر ٦۰ کلونو پورې عمر لري، د دولتي تقاعد په یوه طرحه کې نوملیکنه اجباري ده. د تقاعد په طرحو کې ملي تقاعد (د ټولو اوسېدونکو لپاره)، د کار کوونکو د تقاعد بیمه (د خصوصي سکټور او نورو برخو معاش ترلاسه کوونکو کار کوونکو لپاره) او متقابلو مرستو ټولنو (د دولتي سکټور د کار کوونکو لپاره) شامل دي.

۱. د تقاعد د طرحې ګډون کوونکي په درې ډوله دي: د ۱ ډلبندۍ بیمه شوي کسان، د ۲ ډلبندۍ بیمه شوي کسان، د ۳ ډلبندۍ بیمه شوي کسان. ټول باید له دې ډلبندیو ځخه په یوه پورې تړاو ولري.

د ۱ ډلبندۍ بیمه شوي کسان
د شخصي کار لرونکي کارګران، د کرهڼې، ځنګل ساتنې او کب ټالنې د سکټور کار کوونکي او د هغوی کورنۍ، زده کوونکو او بې دندې کسانو په ګډون چې په ۲ او ۳ ډلبندۍ کې شامل نه دي. د تقاعد د بیمې حق کولای شو په نغدي ډول په ټاکل شویو مالي ادارو، د پسټ دفترونو، د هوساینې دفترونو، بانکي حوالې یا انټرنټ له لارې او نورو لارو ځخه ادا کړو. هغه کسان چې په ۱ ډلبندۍ پورې تړاو لري، باید له خپلې سیمې ښارواليۍ سره راجستر شوي وي.

د ۲ ډلبندۍ بیمه شوي کسان:
د یوه شرکت یا دولتي کار کوونکي او نور کسان چې د کار کوونکو د تقاعد په بیمه او د متقابلو مرستو ټولنو په تقاعد کې یې نوملکینه کړي وي. د تقاعد حقونه له معاش څخه ګرځول کیږي.

د ۳ ډلبندۍ بیمه شوي کسان
په ۲ پوري ټراو لرونکو کسانو تر کفالت لاندې د ژوند شریکان (هغه کسان چې د کار کوونکو د تقاعد په بیمه او د متقابلو مرستو ټولنو په تقاعد کې یې ګډون کړی وي). د ژوند د دوارو شریکانو د بیمې حق د کار کوونکو د تقاعد د بیمې حق او د متقابلو مرستو د ټولنو د تقاعد لخوا ادا کیږي، له دې امله په جلا ډول د اداینې لپاره اړتیا نشته ده. هغه خلک چې په ۳ ډلبندۍ پوري ټراو لري باید د خپل ژوند د شریک(ي) له ګومارونکي سره راجستر شي.

۲. د کار کوونکو د تقاعد بیمه په اجباري ډول په لاندې مواردو کې پلي کیږي: (الف) د ملي دولتي او سیمه ییزو ادارو او شرکتونو کار ځای (ب) په ځانګړي صنایعو کې بوخت د خصوصي ادارو کار ځایونه (*) چې په هر ټاکلي وخت کې له پنځو څخه زیات کار کوونکي ګوماري. هغه کارکوونکي چې په اړونده کار ځایونو کې عادي کار کوونکي دي، دوی په تقاعد کې شامل ګڼل کیږي. په شرایطو برابر کار ځایونو باید هغه نیمه وخت کار کوونکو ته هم نوملیکنه وکړي یا یې په پکې شامل کړي، چې په ورځ کله ٤/٣ ساعتونو څخه زیات یا په اونۍ کې له ٤/٣ کاري ورځو څخه زیات کار وکړي. ګمارونکي او کار کوونکي هر یو خپله ٥٠% ونډه ادا کوي.

* تولید، سیول انجنیري او ودانۍ جوړول، معدن، برښنا او ګاز، هوایي او ځمکنۍ ټرانسپورټ، د سوداګریزې حفظ الصحې خدمت، مالي چاري او بیمه، انبار او کرایې، طبي او روغتیایي خدمتونه او نور.

۳. کله چې په تقاعد کې د شمولیت غوښتنلیک تکلاره بشپړه شي، تاسو ته د به د لومړني تقاعد د خبرتیا شمېره درکړل شي. ستاسو د لومړني تقاعد د خبرتیا شمېره د یوه پیژندیز سند په توګه د تقاعد یا د هغوی په اړه د پوښتنو کولو پر مهال کارول کیږي، له دې امله دا خورا مهم سند دی. تاسو به د عمر تر پای پورې هغې ته اړتیا ولرئ، له دې امله هغه په یوه خوندي ځای کې وساتئ.

٤. هغه کسان چې د تقاعد په بیمه کې یې نوملیکنه کړې ده او په ځانګړو شرایطو باندې برابر وي، دوی ته به د معلولیت، ژغورل کېدو یا لوړ عمر لرلو تقاعد ورکړل شي. د اصولو پر بنسټ د دې لپاره چې د لوړ عمر ابتدایي تقاعد ترلاسه کړئ تاسو باید د ۱۰ کلونو (د۲۰۲۴ کال دجنورۍ تر میاشتې پورې) راهیسې د تقاعد په طرحه کې نوملیکنه کړي وي، چې په هغې له اداینې څخه د معافیت دوري سربېره د بیمې د حق اداینه شامله ده. په همدې حال کې، که چېرې تاسو د ۱۰ کلونو لپاره په دې طرحه کې نوملیکنه نه وي کړی، کیدای شي وکولای شئ د وخت په یوه ځانګړي دوره کې (چې هغې ته "*kikan kara*" ویل کیږي) په شرایطو برابر وګڼل شئ، خو بیا هم په دې دوره کې به اداینه ترسره نشي. که چېرې د بیمې د حقونو مجموعي کلونه، له اداینې

ځخه د معافيت له هري دوري، د "kara kikan" دوري سره له ۱۰ کلونو ځخه زيات شي، په دي صورت کي تاسو به د لوړ عمر د ابتدايي تقاعد ترلاسه کولو لپاره په شرايطو برابر وئ.

<د بهرنيو وګړو لپاره د ځانګړي عمر د ابتدايي تقاعد "*kara kikan*" استثنا>

هغه کسان چې د ۲۰ کلنۍ او د مې کلنۍ د زيږيدنې د ورځې مخکې تابعيت اخيستی وي، يا هغه کسان چې دايمي استوګنځی اجازه ترلاسه کړي وي، او د ۱۹۶۱ کال د اپريل ۱ او د تابعيت اخيستلو يا د دايمي استوګنې د ترلاسه کولو د ورځې مخکې يې په جاپان کي پته نه درلوده (*۱) (البته د ۲۰ کلنۍ نه مخکې او د ۶۰ کلنۍ نه وروسته وخت نه شاملوي)، کولای شي دا موده د "*kara kikan*" مودي په توګه وشماري.

(*۱): د مدني قانون د ۲۲ مادي پر بنسټ، پته هغه ځای ته ويل کيږي چې هلته يو شخص د خپل ژوند ترسره کولو تهداب ايږدي.

سربيره پر دي، بهرني کسان چې د تقاعد په طرحه کي يې د شپږو مياشتو ځخه زيات ګډون کړی وي او ځينې ځانګړي شرايط پوره کوي، لکه په بهر کي ژوند کول او د تقاعد هيڅ اداينې نه ترلاسه کول، کولی شي په يو ځل د وتلو مرسته ادعا وکړي، په دي شرط چې دا ادعا د جاپان ځخه د خپلې پتې پرېښودو د وخت ځخه د دوو کلونو په موده کي وکړي.

۶-۹ د دولتي تقاعد ډولونه او په شرايطو د برابرېدو حالتونه

لکه څرنګه چې د دولتي تقاعد طرحه د نسلونو ترمنځ د ملاتړ پر بنسټ يو چوکاټ دی، چې لاندې ګټې لري او د تقاعد خصوصي سيستمونه بيا دا ګټې نه لري.

<د دولتي تقاعد د طرحي پنځه ګټې>

(الف) د تقاعد اندازه د اداينې اندازې او د توکو بيو ته په پام سره ادا کيږي.

(ب) تقاعد ترلاسه کوونکي د مرګ تر وخت پورې تقاعد ترلاسه کوي.

(ج) د معلوليت يا د کورنۍ د يوه غړي د له لاسه ورکولو په صورت کې، د معلوليت او پاتې کسانو تقاعد هم ادا کيږي.

(د) دولتي پيسې د تقاعد د حقونو د ورکولو لپاره مصرف کيږي.

(ه) د تقاعد د طرحې وندې په بشپړه توګه په عايد باندې له مالياتو څخه ګرځول کيږي (د تولنيزې بيمې ګرځول)

د معلوليت، د کورنۍ د پاتې غړو او د لوړ عمر لرونکي تقاعد د هغو کسانو لپاره چې د تقاعد په طرحه کې يې نوملیکنه کړې ده، په لاندې لارو باندې ادا کيږي:

۱. د معلوليت تقاعد

د معلوليت ابتدايي تقاعد

د معلوليت اساسي تقاعد هغو کسانو ته ورکول کيږي چې د هغه ناروغۍ يا ټپ د لومړنۍ طبي معاينې په نيټه د ملي تقاعد طرحې لخوا تر پوښښ لاندې نيول شوي وي چې د دوی معلوليت لامل شوي وي او هغه کسان چې د معلوليت د تصديق په ورځ د معلوليت د درجې جدول له مخې په قانوني توګه د ۱ درجې يا ۲ درجې معلوليت لرونکي په توګه تشخيص شوي وي. د معلوليت د تصديق پاڼې د معياروونو، وخت، طريقو او نورو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره، د جاپان د سيمه ييز تقاعد د خدمت له دفتر څخه پوښتنه وکړئ.

* يادښت: د معلوليت د ابتدايي تقاعد ترلاسه کولو لپاره، ترلاسه کوونکی بايد د تقاعد وندې ادا کړي (يا له دې کار څخه معاف شوي وي) د دوه پر درېيمې برخې څخه زيات د مودې لپاره چې دوی بايد د دوه کالو او دوو مياشتو څخه دمخه د وندې پيسې ورکړي ي، چې په هغه مياشت کې چې دوی

خپله لومړنی طبي معاینه کوي یا په بدیل ډول دوی باید د کال لپاره د دوی د تقاعد ټولې مرستې د هغه میاشتې څخه دوه میاشتنی نیټې پورې چې دوی یې لومړنی طبي معاینه کړې وي، ادا کړي وي.

د معلولیت لرونکو کار کوونکو تقاعد

هغه کسان چې له وړاندې د ناروغۍ یا د زیان رسېدو له امله د رامنځته شوي معلولیت په لومړنی طبي معاینه کې د ملي تقاعد د طرحې تر پوښښ لاندې نیول کیږي او په هغه ورځ چې د معلولیت تصدیق پاڼه ترلاسه کوي، دوی د ۱ درجې د معلولیت لرونکي په توګه پیژندل کیږي، یا ۲ درجه معلولیت د لومړني معلولیت د تقاعد د معیارونو تر چټر لاندې، د معلولیت د تقاعد سربېره د کار کوونکو ابتدایي تقاعد هم ورکول کیږي. که چېرې معلولیت له ۲ درجې څخه ښکته وي، نو دوی ته د معلولیت ۳ درجه تقاعد ورکول کیږي. مګر په هغه صورت کې چې ناروغي یا ټپ له لومړنی طبي معاینې وروسته د پنځو کلونو په لړ کې ښه شي او د معلولیت شدت په مقرره کې د ذکر شویو مواردو څخه کم وي، چې کار کوونکي یې پر بنسټ د معلولیت تقاعد لپاره وړ ګرځي، د معلولیت مرسته (په مجموعي ډول یو ځل) ادا کیږي.

* یادښت: د کار کوونکو د تقاعد یا د معلولیت د مرستې د ترلاسه کولو لپاره، تاسو باید د معلولیت د لومړني تقاعد د بیمې د حق شرایط پوره کړئ.

۲. د کورنۍ د پاتې غړي تقاعد

د کورنۍ د پاتې غړي ابتدایي تقاعد

کله چې یو ځوک د تقاعد په ملي طرحه کې د ګډون پر مهال وفات کیږي، د دې شخص تر کفالت لاندې د ژوند شریک له اولادنو/۱۸ کلونو یا کم عمر لرونکو (د ۱۸ کلنۍ تر پای یا د معلولیت په صورت کې تر ۲۰ کلنۍ پورې) کولای شي د کورنۍ د پاتې غړي ابتدایي تقاعد ترلاسه کړي.

* یادښت: د کورنۍ د پاتې غړي لخوا د تقاعد ترلاسه کولو لپاره، متوفی شخص باید دوه پر درې وخت لپاره یا د هغه له مړینې دوي میاشتې وړاندې د تقاعد بیمه ادا کړي وي (یا له اداینې څخه معاف شوی وي) یا متوفی باید د خپل کال د تقاعد ټوله بیمه له مړینې دوي میاشتې وړاندې ادا کړي وي.

د کورنۍ د پاتې غړي لپاره د کار کوونکي تقاعد

کله چې یو شخص په داسې حال کې وفات شي چې د تقاعد په ملي طرحه کې یې ګډون کړی وي (کله چې یوه شخص د ګډون پر مهال د پنځو کلونو په لړ کې د له ناروغۍ او زیان وروسته چې اداینه یې ترسره کوله، وفات شي) د متوفی شخص د کورنۍ یو غړی به (په د لومړیتوب په ترتیب سره، ۱. د ژوند شریک یا ماشومان، ۲. والدین، ۳. لمسیان، ٤. نیکه او نیا) به د کورنۍ د پاتې غړي په توګه د کار کوونکي تقاعد ترلاسه کړي. په همدې حال کې، خاوند، والدین یا نیکه یا نیا باید ٥٥ کاله عمر ولري تر څو د تقاعد حقونه وغواړي او له ٦٠ کلنۍ یا له هغې وروسته، اداینې پیل کیږي.

- هغه ماشومان یا د ژوند شریک چې ماشومان لري، دوی ته به هم د کورنۍ د پاتې غړي ابتدایي تقاعد ادا شي. په همدې حال کې، ماشوم باید داسې کس وي چې د کورنۍ د پاتې غړو د تقاعد د ترلاسه کولو لپاره په شرایطو برابر وي.

- د دې لپاره چې د کورنۍ یو پاتې غړی د کار کوونکي تقاعد ترلاسه کړي، اړینه ده چې دوی د کورنۍ د پاتې غړي لخوا د ابتدایي تقاعد د بیمې د اداینې اړینې اړتیاوې پوره کړي.

- هغه میرمنې چې له ۳۰ کلونو څخه کم عمر لري او ماشومان نه لري، د پنځو کلونو لپاره د تقاعد اداینې ترلاسه کوي.

د اداینې شرایط خورا دقیق دي، له دې امله په مهربانۍ سره د جاپان د تقاعد خدمتونو له دفتر څخه پوښتنې وکړئ.

۳. د لوړ عمر لرونکو تقاعد

هغه کسان چې له ۲۰ کلنۍ څخه تر ٦٠ کلنۍ پورې یې د ٤٠ کلونو لپاره د تقاعد د ملي بیمې لپاره اداینه ترسره کړې وي، له ٦٥ کلنۍ (له۲۰۲۶ کال) وروسته په ۸۳۱۷۰۰ اندازه د لوړ عمر لرونکو لپاره د ابتدایي تقاعد د ترلاسه کولو حق لري. د هغو کسانو لپاره چې د کار کوونکو د تقاعد په بیمه کې یې ګډون کړی وي، د لوړ عمر لرونکو کار کوونکو تقاعد دې اندازې ته اضافه کیږي. په داسې حال کې چې د تقاعد حقونه له ٦٥ کلنۍ وروسته ادا کیږي، مګر که چېرې تاسو له ٦٠ څخه تر ٦٤ کلنۍ پورې د هغې غوښتنه وکړئ، کولای شئ د تقاعد د اداینې نېټه مخکې راولئ. په همدې حال کې، کله چې تاسو اداینه په دې ډول پر مخ وړئ، ستاسو د لوړ عمر لرونکي د تقاعد اندازه د عمر تر پای پورې کمیږي. سربېره پر دې، هغه کسان چې له یوه کال څخه زیات یې د کار کوونکو د تقاعد په بیمه کې نومولیکنه کړې وي، کولای شي له ٦٥ کلنۍ وړاندې د ځانګړو اداینو د ترلاسه کولو لپاره (چې د هغو زیږېدو نېټې ته په پام سره توپیر لري) د لوړ عمر لرونکو کار کوونکو د تقاعد غوښتنه وکړي.

د تقاعد اندازه د دوی د نوملیکنې په وخت، د هغه یا هغې اوسط معیاري میاشتنی معاش او نورو عواملو پورې تړاو لري. د میاشتنی بیمې حق زیات دی، مګر د تقاعد حقونه د هغو اوږد مهاله استوګنو لپاره اړین دي، چې غواړي په راتلونکي کې په جاپان کې ژوند وکړي. د دي په اړه د پوښتنې لپاره چې آیا تاسو کولای شئ تقاعد ترلاسه کړئ او که نه، خومره او په دي ډول نورو مواردو لپاره، د خپل تقاعد لاربښود کتاب (نارنجي یا آبي) د خپل ابتدايي تقاعد شمېره د جاپان د سیمه ییز تقاعد د خدمتونو دفتر ته یوسئ. کله چې تاسو په دي ډول پوښتنې ترسره کوئ، دي موضوع ته د رسېدنې مسوول ته ووایئ یا ورته وښیئ چې د بهرنیو وګړو لپاره د ځانګړي لوړ عمر د ابتدايي تقاعد "kara kikan" استثنا شته ده.

د تقاعد ملي قانون، بشپړونکي احکام (۳۴ شمېره قانون، د ۱۹۸۵ د مې ۱)
"د بیمې د حق د ادایني او نورو مواردو په اړه استثا ".۸-۵-۱۱ مادي د حکومت ۵۴ شمېره مصوبه، ۱۲-۱ ماده، د ۱۹۸۶ کال د مارچ ۲۸

د نورو جزئیاتو لپاره، خپل د تقاعد لاربښود یا ستاسو د ابتدايي تقاعد خبرتیا کارت را واخلئ او د جاپان د تقاعد خدمتونو له سیمه ییز دفتر څخه په دي اړه پوښتنې وکړئ.

۹-۷ که چېرې تاسو د تقاعد فیس نشئ ادا کولای

که چېرې تاسو د غیر منتظره بې دندې والي، ټپي کېدو یا ناروغی له امله خپل عاید له لاسه ورکړی وي او له اقتصادي اړخه د بیمې د حق ادا کول درته ستونزمن شي، تاسو کولای شئ د سیمه ییزې ښاروالی د ملي بیمې څخه د مرستې غوښتنه وکړئ. که چېرې ستاسو غوښتنه د عاید په اړه له پلټنو وروسته تایید شوه، ستاسو د بیمې فیس به تر ۲۵%، ۵۰%، ۷۰% یا ۱۰۰% پورې معاف شي. (دا معافیت د نوي کېدو وړ دی). د بشپړ یا جزئي معافیت دوره د تقاعد د ګټو او د اندازې لپاره په شرایطو د برابرېدو د محاسبې پر مهال په نظر کې نیول کېږي (۸۷.۵% د ۲۵% معافیتونو، ۷۵% د ۵۰% معافیتونو، ۶۲.۵% د ۷۵% معافیتونو، ۵۰% د بشپړ معافیت په صورت کې)، مګر که چېرې تاسو د بیمې د حق ادا کولو د معافیت د مراحلو په پام کې نیولو پرته ودروئ، په هیڅ صورت په شرایطو د برابرېدو پر مهال په نظر کې نه نیول کېږئ او کیدای شي تقاعد ترلاسه نه کړئ. سربېره پر دې، د معافیت د مرحلو د رعایت کولو په صورت کې، د معلولیت ابتدایي تقاعد او د کورنۍ د پاتې غړي تقاعد به په هماغه ډول رسیدنه وشي، لکه څرنګه چې تاسو د بیمې حق ادا کړی دی.

د تقاعد د هغې کلنۍ اندازې (د ۲۰۲۵ کال د اپریل میاشتې پورې مبلغ) لپاره لاربښود چې تاسو به یې ترلاسه کړئ

د لوړ عمر لرونکو ابتدایي تقاعد	که چېرې تاسو د ۴۰ کلونو لپاره ادا کړي وي:	۸۳۱۷۰۰ ین
	که چېرې تاسو د ۴۰ کلونو لپاره په بشپړه توګه معاف شوي وئ:	۴۱۵۸۵۰ ین
د معلولیت ابتدایي بیمه	۱ درجه:	۱۰۳۶۶۲۵ ین
	۲ درجه:	۸۲۹۳۰۰ ین
د کورنۍ د پاتې غړي ابتدایي تقاعد	یو میرمن له یوه ماشوم سره:	۸۲۹۳۰۰ ین

۹-۸ د خصوصي بيمې ډولونه

په داسي حال کي چې په ټولنيزه بيمه کي نوملیکنه اجباري ده، خصوصي بيمه به داسي يوه بيمه ده چې تاسو کولای شئ د هغو برخو تر پوښښ لاندې نيولو لپاره پکي نوملیکنه وکړئ چې ټولنيزه بيمه يې تر پوښښ لاندې نه نيسي. د انتخاب لپاره بېلابېل ډولونه شته دي.

کولای شو خصوصي بيمه په دوو ډلو باندې وويشو: د ژوند بيمه، د معلوليت په صورت يا د لاسه ورکولو په صورت کي د زيان جبران کولو، يا د ناروغۍ، ټپي کېدو يا مړيني له امله د عايد په ساتلو کي ناتوانۍ صورت کي مالي پوښښ وړاندې کوي او د ژوند پرته بله بيمه، د ناورينونو يا پېښو له امله رامنځته شوی زيان يا له لاسه ورکولو لپاره د زيان جبران وړاندې کوي. د ژوند بيمه په دوو ډلبنديو باندې ويشل شوي ده: د مړيني لپاره پيسي ورکول او له تقاعد وروسته د پيسو ورکول، طبي لګښتونه او داسي نور. له ژوند پرته د بيمې اصلي ډولونه، د زيانونو د جبران بيمې او د ناورينونو او زلزلو له امله رامنځته شويو زيانونو لکه اورلګېدنې او د زلزلې بيمه ده او د موټر بيمه، چې د ترافيکي پېښو له امله د رامنځته شوي زيانونه تر پوښښ لاندې نيسي. د موټر د بيمې دوه بېلابېل ډلونه شته دي:

د موټر بيمه

(الف) د موټر د مسوولیت اجباري بيمه

که چېرې تاسو موټر لرئ، نو نوملیکنه پکي اجباري ده. دا بيمه يوازې د زيان رسېدو يا په ترافيکي پېښو کي د نورو اړخونو د مړيني زيانونو جبران تر پوښښ لاندې نيسي. د مړيني په صورت کي د هر شخص لپاره ډېر تر ډېر د زيان د جبران اندازه ۳۰ ميليون ين او د ټپي کېدو لپاره ۱.۲ ميليون ين دي. په خپل موټر کي د ټل لپاره د موټر د مسوولیت بيمې د تصديق پاڼې لرل اجباري دي او د دې مورد په پام کي نه نيول کېدای شي تر ۳۰۰۰۰۰ ين پورې د جريمې لامل شي. د موټر د مسوولیت لرلو په بيمه کي نوملیکنه نه کول يا د بيمې د داسي تصديق پاڼې درلودل چې د اعتبار موده يې پايته رسېدلې وي، کېدای شي تر يوه کال زندان يا تر ۵۰۰۰۰۰ ين پورې نغدي جريمې لامل شي.

(ب) د موټر رضاکارانه بیمه

د موټر د رضاکارانه بیمې بېلابېل ډولونه شته دي چې په هغې کې د مسوولیت بیمه (نورو اړخونو او د دوی نقلیه وسیلې ته زیان ورکول)، د پیښو بیمه (تاسو او په نقلیه وسیله کې د نورو کسانو لپاره د زیان د جبران) او د موټر بیمه (ستاسو د شخصي موټر لپاره د زیان جبران) پکې شامل دي. په دې ډول بیمه کې نوملیکنه کول په خپله خوښه دي، مګر ترسره کول یې حیاتي دي. په اوسنیو ترافیکي شرایطو کې، کیدای شي تاسو هر وخت یوازې دا نه چې د پیښې قرباني بلکې ګرم پکې وګډل شئ او د فزیکي یا مالي زیانونو د جبران لپاره په لوړه کچه ادعاګانو سره مخ شئ.

په خصوصي بیمه کې، یو شمېر د بیرته نه ګرځېدو ډولونه شته دي چې تر یوې کچې پورې ستاسو لخوا ادا شوې بیمه بیرته ادا کوي، چې ستاسو د سپما له حساب سره یو څه ورته والی لري. د بیمې بېلابېلې طرحې د لاسرسي وړ دي، له دې امله د هغوی د انتخاب پر مهال باید په دقت سره د خپل ځان د راتلونکي او احتمالي بیرنیو حالتونو په اړه فکر وکړئ.

په یاد ولرئ، چې په عاید باندې د مالیاتو د محاسبې پر مهال، کیدای شي د ژوند د بیمې او زلزلې د بیمې یوه برخه فیسونه تر یوې کچې پورې ستاسو له عاید څخه وګرځول شي.

生活ハンドブック
(パシュトー語)
په جاپان کې د ژوند لپاره لارښود کتاب
(پښتو)

発　行　日　　2026年3月

編集・発行　　（公財）アジア福祉教育財団　難民事業本部

東京都港区南麻布5-1-27

電話（03） 3449-7011

協力団体（50音順）

特定非営利活動法人　かながわ難民定住援助協会

社会福祉法人　さぽうと21

特定非営利活動法人　難民支援協会（JAR）

社会福祉法人　日本国際社会事業団（ISSJ）

国連難民高等弁務官事務所（UNHCR）

د خپرېدو نېټه:　　۲۰۲۶ دمارچ میاشت

ایډیټ او چاپ شوی دي په واسطه د:　　له کډوالو سره د مرستې مرکز (RHQ)
د آسیایي خلکو لپاره د هوسایني او زده کړو بنسټ (FWEAP)
Minami-Azabu, ۲۷-۱-۵
Minato-ku, Tokyo
ټلیفون: ۰۳) ۳۴۴۹-۷۰۱۱)

همکاري کوونکي اداري (د الفاء تورو په ترتیب) :
په Kanagawa کې د کډوالو د مېشت کېدو د ملاتړ ټولنه
د جاپان نړیوال ټولنیز خدمتونه (ISSJ)
د کډوالو لپاره د جاپان ټولنه (JAR)
ملاتړ۲۱ د ټولنیزې هوسایني بنسټ
د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ دفتر (UNHCR)